## د موضوعاتو فهرست


عنوان ........ صفحه

**دويم باب: طهارت** ........ ۱

**لومړی مبحث: د طهارت بيان:** ........ ۱

لومړی مطلب: د طهارت لغوی او اصطلاحي تعريف: ........ ۱
دوهم مطلب: د طهارت فضيلت: ........ ۱
دريم مطلب: د حکم په اعتبار سره د اوبو ډولونه: ........ ۱
څلورم مطلب: د استنجاء بيان: ........ ۲
لومړۍ فرعه: د استنجاء فضيلت: ........ ۲
دويمه فرعه: د استبراء او استنجاء اړوند احکام: ........ ۲
دريمه فرعه: د استنجاء ډولونه ........ ۲

**دويم مبحث: د اوداسه بيان:** ........ ۳

لومړی مطلب: د اوداسه فضيلت: ........ ۳
دوهم مطلب: د اودس پر مهال ځيني مسنوني دعاګانې: ........ ۳
د اوداسه د صحت شرطونه دري دي: ........ ۳
دريم مطلب: د اوداسه فرضونه: ........ ۴
څلورم مطلب: د اوداسه سنتونه: ........ ۴
پنځم مطلب: د مسواک فضيلت: ........ ۴
شپږم مطلب: د مسواک کڼې: ........ ۵
اووم مطلب: د اوداسه مستحبات: ........ ۵
اتم مطلب: د اوداسه مکروهات ........ ۵
نهم مطلب: د اوداسه ماتوونکي شيان: ........ ۶

**دريم مبحث: د غسل احکام** ........ ۷

لومړی مطلب: د غسل تعريف: ........ ۷
دوهم مطلب: د غسل فرضيت: ........ ۷
دريم مطلب: د غسل واجبوونکي شيان: ........ ۷
څلورم مطلب: د غسل فرضونه: ........ ۸
پنځم مطلب: د غسل سنتونه: ........ ۸
شپږم مطلب: د غسل مکروهات: ........ ۹


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلورم مبحث: حيض** ........ ۹

لومړی مطلب: د حيض تعريف او موده : ........ ۹
**دويم مطلب: د حيض له پلوه د ښځې ډولونه:** ........ ۱۰
**دريم مطلب: د حيض شرطونه او رنګونه:** ........ ۱۰
څلورم مطلب: هغه کارونه چې د حائضې لپاره روا دي: ........ ۱۰
پنځم مطلب: طهر (پاکوالی): ........ ۱۱

**پنځم مبحث: نفاس** ........ ۱۱

لومړی مطلب: د نفاس تعريف: ........ ۱۱
دويم مطلب: د نفاس موده: ........ ۱۲
دريم مطلب: د حيض او نفاس احکام: ........ ۱۲

**شپږم مبحث: استحاضة** ........ ۱۳

لومړی مطلب: د استحاضه تعريف: ........ ۱۳
دويم مطلب: د استحاض حکم : ........ ۱۴
دريم مطلب: د مستحاضې ښځې ډولونه: ........ ۱۴

**اووم مبحث: پر موزو د مسحې اړوند احکام** ........ ۱۵

لومړی مطلب: د مسح علی الخفين تعريف حکم او دلائل يې: ........ ۱۵
دويم مطلب: د موزو د مسحې شرطونه: ........ ۱۶
دريم مطلب: پر موزو د مسحې موده: ........ ۱۶
څلورم مطلب: په موزو د مسحې طريقه: ........ ۱۷
پنځم مطلب: د مسحې ماتوونکي: ........ ۱۷

**اتم مبحث: د تيمم بيان** ........ ۱۷

لومړی مطلب: د تيمم لغوي او اصطلاحي تعريف: ........ ۱۷
دويم مطلب: د تيمم مشروعيت: ........ ۱۸
دريم مطلب: د تيمم فرضونه: ........ ۱۸
څلورم مطلب: د تيمم سنتونه: ........ ۱۹
پنځم مطلب: د تيمم کولو طريقه: ........ ۱۹
شپږم مطلب: په کومو شيانو تيمم صحيح کېږي؟: ........ ۱۹
اووم مطلب: د تيمم ماتوونکي: ........ ۲۰
اتم مطلب: د تيمم اړوند ځينې مسايل: ........ ۲۰

**دريم باب د لمانځه بيان** ........ ۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لومړی مبحث: د لمنځونو وختونه** ........ ۲۰
لومړی مطلب: د سهار لمانځه وخت: ........ ۲۱
دویم مطلب: د ماسپښین د لمانځه وخت: ........ ۲۱
دریم مطلب: د مازدیګر د لمانځه وخت: ........ ۲۱
څلورم مطلب: د ماښام د لمانځه وخت: ........ ۲۲
پنځم مطلب: د ماخوستن د لمانځه وخت: ........ ۲۲
**دویم مبحث: د اذان بیان** ........ ۲۲
لومړی مطلب: د أذان تعریف او د مشروعیت وخت یې: ........ ۲۲
دویم مطلب: د أذان کولو ترتیب ........ ۲۳
دریم مطلب: له اذان څخه وروسته دعا: ........ ۲۴
څلورم مطلب: د مؤذن فضیلت: ........ ۲۴
پنځم مطلب: د اذان ځواب ورکول: ........ ۲۴
دریم مبحث: د لمانځه احکام: ........ ۲۶
لومړی مطلب: د لمانځه فرضیت: ........ ۲۶
۱- په قرانکریم سره د لمانځه فرضیت: ........ ۲۶
۲- په احادیثو سره د لمانځه فرضیت: ........ ۲۷
۳- د أمت په اجماع سره د لمانځه فرضیت: ........ ۲۸
دویم مطلب: د لمانځه اهمیت: ........ ۲۸
لومړی فرعه: په لمانځه کې د خشوع اهمیت: ........ ۳۰
دویمه فرعه: د لمانځه فضائل: ........ ۳۱
دریم مطلب: د لمانځه د پرېښودلو ګناه او سزا: ........ ۳۳
څلورم مطلب: د لمانځه له فرضیت نه د منکر حکم: ........ ۳۵
پنځم مطلب: د لمانځه تفصیلي احکام: ........ ۳۶
لومړی فرعه: د لمانځه شرطونه: ........ ۳۶
دویمه فرعه: د لمانځه ارکان: ........ ۳۶
دریمه فرعه: د لمانځه واجبات ........ ۳۷
د واجبو د پرېښودلو حکم: ........ ۳۷
څلورمه فرعه: د لمانځه سنتونه ........ ۳۸
د سنتو د پرېښودلو حکم: ........ ۴۰
پنځمه فرعه: د لمانځه مستحبات ........ ۴۰
د مستحبو د پرېښودلو حکم: ........ ۴۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپږمه فرعه: د لمانځه مفسدات: ........................ ۴۱
د مفسداتو د ترسره کولو حکم: ........................ ۴۲
اوومه فرعه: د لمانځه مکروهات: ........................ ۴۲
اتمه فرعه: د لمانځه اداء کولو مکروه وختونه ........................ ۴۳
نهمه فرعه: هغه ځایونه چې هلته لمونځ کول مکروه دي: ........................ ۴۳
شپږم مطلب: د سجده سهوې بیان: ........................ ۴۳
لومړۍ فرعه: د سجده سهوې طریقه: ........................ ۴۴
دویمه فرعه: د سجده سهوې د لازمېدلو وختونه ........................ ۴۴
اووم مطلب: د لمانځه د الفاظو د صحیح کولو اهمیت: ........................ ۴۶
لومړۍ فرعه: عامو خلکو ته د لمانځه د الفاظو او معناګانو ورزده کولو طریقه: ........................ ۴۷
دویمه فرعه: د لمانځه الفاظ صحیح لوستل: ........................ ۴۷
اتم مطلب: د لمانځه ټکي په ټکي ژباړه: ........................ ۴۹
نهم مطلب: د لمانځه د اداء کولو طریقه: ........................ ۵۰
لسم مطلب: له لمانځه څخه وروسته اذکار: ........................ ۵۵
یوولسم مطلب: د جماعت لمونځ: ........................ ۵۷
دولسم مطلب: د مقتدي ډولونه: ........................ ۶۰
لومړۍ فرعه: د مدرک احکام: ........................ ۶۱
دویمه فرعه: د لاحق احکام: ........................ ۶۱
دریمه فرعه: د مسبوق احکام: ........................ ۶۱
څلورمه فرعه: د لاحق او مسبوق احکام: ........................ ۶۱
**څلورم مبحث: د مختلفو لمنځونو احکام** ........................ ۶۱
لومړی مطلب: د جُمعې لمونځ: ........................ ۶۱
لومړۍ فرعه: د جمعې د لمانځه د صحت شرائط: ........................ ۶۳
دویمه فرعه: د جمعې د ورځې سنتونه او آداب: ........................ ۶۴
دویم مطلب: د اخترونو لمونځ: ........................ ۶۴
لومړۍ فرعه: د اخترونو د لمانځه حکم او طریقه: ........................ ۶۴
دویمه فرعه: د تشریق ورځې: ........................ ۶۶
دریم مطلب: د تهجد لمونځ: ........................ ۶۷
څلورم مطلب: د تراویح لمونځ: ........................ ۶۷
پنځم مطلب: د صلاة تسبیح لمونځ: ........................ ۶۹
د صلاة تسبیح د لمانځه طریقه: ........................ ۶۹
شپږم مطلب: د استسقاء لمونځ: ........................ ۷۰

(c) ketabton.com: The Digital Library




اووم مطلب: د خسوف او کسوف لمنځونه: ........ ۷۱
اتم مطلب: د مسافر او مریض لمونځ : ........ ۷۳
لومړی د مسافر لمونځ : ........ ۷۳
دویم د مریض لمونځ: ........ ۷۵
نهم مطلب: قضاء الفوائت ( د فوت شویو لمنځونو قضاء ) : ........ ۷۶
لومړی فرعه : د قضایي لمانځه تعریف او وخت يې ) : ........ ۷۶
دویمه فرعه : د قضا راوړلو طریقه : ........ ۷۷
دریمه فرعه : د لمانځه فدیه: ........ ۷۸
لسم مطلب : د استخارې لمونځ : ........ ۷۹
لومړی فرعه : د استخارې تعریف ، ارزښت او حکمتونه : ........ ۷۹
دویمه فرعه : د استخارې طریقه : ........ ۷۹
دریمه فرعه: د استخارې په اړه مسائل: ........ ۸۰
یوولسم مطلب : د حاجت لمونځ : ........ ۸۱
د حاجت د لمانځه طریقه: ........ ۸۱
دولسم مطلب : د اشراق لمونځ : ........ ۸۱
دیارلسم مطلب : د ځاښت لمونځ : ........ ۸۲
څوارلسم مطلب : د اوابین لمونځ : ........ ۸۲
پنځلسم مطلب: د تلاوت سجده : ........ ۸۳
لومړی فرعه: د تلاوت د سجدې ځایونه : ........ ۸۳
دویمه فرعه: د تلاوت د سجدې د وجوب لپاره شرطونه : ........ ۸۳
دریمه فرعه: د تلاوت د سجدې کیفیت : ........ ۸۳
**پنځم مبحث: د جنازې احکام** ........ **۸۴**
لومړی مطلب : د زنکدن پر مهال د شهادت کلمې تلقین : ........ ۸۴
دویم مطلب: د جنازې د لمانځه فرایض، واجبات او سنتونه: ........ ۸۵
دریم مطلب: د جنازې د لمانځه شرطونه: ........ ۸۵
څلورم مطلب: د مړي غسل: ........ ۸۵
پنځم مطلب: مړي ته کفن ورکول: ........ ۸۷
شپږم مطلب: د کفن ورکولو طریقه: ........ ۸۸
اووم مطلب: د جنازې د لمانځه طریقه: ........ ۸۸
**شپږم مبحث: د دعا بیان** ........ **۸۹**
لومړی مطلب: د دعا معنا : ........ ۸۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



دويم مطلب: د دعا فضيلت: ........................................ ۹۰
دريم مطلب: د دعا آداب او د هغې د قبلېدو لاملونه: ........................ ۹۱
څلورم مطلب: هغه وختونه او حالات چې دعا پکې قبلیږي: ........................ ۹۱
پنځم مطلب: هغه کسان چې دعا يې ژر قبلیږي: ........................ ۹۲
شپږم مطلب: ځينې مسنونې دعاګانې: ........................ ۹۳
مسجد ته د ننوتلو دعا: ........................ ۹۳
مسجد څخه د وتلو دعا: ........................ ۹۳
له هر ډول افت او ناروغۍ نه د ځان ساتنې دعا: ........................ ۹۳
يوه جامع دعا: ........................ ۹۳

**اووم مبحث: د توبې بيان** ........................ **۹۳**

لومړی مطلب: د توبې پېژندنه او حکم: ........................ ۹۳
دويم مطلب: د توبې د مشروعيت او اهميت دلائل: ........................ ۹۳
دريم مطلب: د توبې فضائل: ........................ ۹۴
څلورم مطلب: د توبې د قبوليت شرطونه: ........................ ۹۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

# دويم باب: طهارت:

## لومړی مبحث: د طهارت بيان:

**لومړی مطلب: د طهارت لغوی او اصطلاحي تعريف:**

طهارت په لغت کې پاکوالي ته وايي، او په شريعت کې پر دوه ډوله دی:

۱- حکمي: له بې اودسی څخه پاکوالی.

۲- حقيقي: له نجاست څخه پاکوالی.

حکمي پاکوالی په اوداسه، غسل او تيمم سره راځي، او حقيقي پاکوالی د نجاست په لرې کولو سره راځي. (۱)

**دوهم مطلب: د طهارت فضيلت:**

الله تعالی فرمايي: ﴿إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ﴾. (۲)

ژباړه: بېشکه چې الله تعالی خوښوي بيا بيا توبه وېستونکي (له ګناهونو څخه) او خوښوي ځان ساتونکي (له پليتيو څخه).

همدارنګه رسول الله ﷺ فرمايلي دي: الطهور شطر الايمان. (۳)

ژباړه: پاکوالی د ايمان يوه حصه ده.

همدارازرسول الله ﷺ په بل روايت کې فرمايي:

مِفْتَاحُ الْجَنَّةِ الصَّلَاةُ، وَمِفْتَاحُ الصَّلَاةِ الْوُضُوءُ. (۴)

ژباړه: رسول الله ﷺ فرمايلي دي: د جنت کيلي لمونځ دی او د لمانځه کيلي اودس دی.

**دريم مطلب: د حکم په اعتبار سره د اوبو ډولونه:**

د حکم په اعتبار سره اوبه پر پنځه ډوله دي:

۱- مطلقې اوبه: پاکې، پاکوونکې اوبه چې مکروه هم نه وي.

۲- مکروه اوبه: هغه اوبه چې پاکې او پاکوونکې وي او پيشو ترې څښلې وي، او د کتونکي په نزد لږ وي.

۳- مستعملې اوبه: هغه اوبه دي چې پاکې وي، خو پاکوونکي نه وي: لکه هغه اوبه چې اودس پرې شوی وي او يا د ثواب حاصلولو لپاره استعمال شوې وي.

۴- مشکوکې اوبه: هغه اوبه چې خره يا کچرې ترې څښلې وي.

۵- مرداري (نجسې) اوبه: هغه اوبه چې نجاست په کې لوېدلی وي، او اوبه له لس په لسو څخه لږ وي، او يا جاري وي خود نجاست له امله يې خوند، رنګ او يا بوی بدل شوی وي. (۵)

---

۱ والطهارة مصدر طهر بالفتح ويضم: بمعنى النظافة لغة، ولذا أفردها. وشرعا النظافة عن حدث أو خبث. رد المحتار على الدر المختار، كتاب الطهارة، مطلب في اعتبارات المركب التام، (۱/۱۹۵)، ط: دار المعرفة، بيروت–لبنان:

۲ سورة البقرة، آية ۲۲۲.

۳ - مشكاة المصابيح، كتاب الطهارة، الفصل الأول، (۱/۳۸)، ط: امير حمزه كتب خانه، كانسي روډ–كويټه.

۴ - پورتنی حواله الفصل الثالث، (۱/۳۹)، ط: امير حمزه كتب خانه، كانسي روډ كويټه.

۵ - ثم المياه على خمسة أقسام طاهر مطهر غير مكروه وهو الماء المطلق وطاهر مطهر مكروه وهو ما شرب منه الهرة ونحوها وكان قليلا وطاهر غير مطهر وهو ما استعمل لرفع حدث أو لقربة كالوضوء على الوضوء بنيته، والرابع ماء نجس وهو الذي حلت فيه نجاسة وكان راكدا قليلا والقليل ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه اوبه چې په هغو سره پاکي راځي، پر اووه ډوله دي

۱- د باران اوبه، ۲- د ویالې اوبه، ۳- د څاه اوبه، ۴- د چینې اوبه، ۵- د سمندر اوبه، ۶- هغه اوبه چې له واورې څخه لاړې شي، ۷- هغه اوبه چې له ږلۍ څخه لاړې شي. (۱)

**څلورم مطلب: د استنجاء بیان:**

**لومړۍ فرعه: د استنجاء فضیلت:**

الله تعالی فرمایي: ﴿فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَنْ يَتَطَهَّرُوا وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِينَ﴾. (۲)

ژباړه: په دغه مسجد کې هسې سړي دي، چې خوښوي دوی دا چې ښه پاک وساتي (ځانونه خپل او له ګناهونو او نجاستونو نه) او الله جَلَّجَلَالُهُ خوښوي ښه ځان پاکوونکي (چې ډېر ثواب ورکوي).

همدارنګه د حضرت ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ فرمایي:

{ إِنَّمَا أَنَا لَكُمْ مِثْلُ الْوَالِدِ لِوَلَدِهِ أُعَلِّمُكُمْ إِذَا أَتَيْتُمُ الْغَائِطَ فَلَا تَسْتَقْبِلُوا الْقِبْلَةَ وَلَا تَسْتَدْبِرُوهَا وَأَمَرَ بِثَلَاثَةِ أَحْجَارٍ وَنَهَى عَنِ الرَّوْثِ وَالرِّمَّةِ وَنَهَى أَنْ يَسْتَطِيبَ الرَّجُلُ بِيَمِينِهِ }. (۳)

ژباړه: بېشکه زه ستاسې لپاره داسې یم، لکه پلار د خپل اولاد لپاره، تاسې ته ښوونه کوم، کله چې تاسې حاجت پوره کولو ته لاړ شئ؛ نو قبلې ته مخامخ مه کېنئ، او مه شا ورګرځوئ، او په استعمال د درې تیږو یې امر وکړ، او د خوشیو او زړو هډوکو د استعمال څخه یې منع وکړه، او همدارازیې منع وکړه، چې یو تن دې په ښي لاس استنجاء نه کوي.

**دویمه فرعه: د استبراء او استنجاء اړوند احکام:**

استبراء: تر استنجاء مخکې استبراء ضروري ده کله چې یو تن خپل حاجت پوره کړي، نو تر حاجت پوره کولو وروسته د دې لپاره چې هغه پاتې بولې خارجې شي، برابره خبره ده، چې هغه عادت که په ټوخي سره وي، یا د پښې په وهلو سره وي، یا په تګ سره وي او یا داسې نور. (۴)

**دریمه فرعه: د استنجاء ډولونه**

۱- فرض: استنجاء په هغه وخت کې فرض ده کله چې نجاست له مخرج څخه تجاوز وکړي، او د یوه درهم (ورغوي) له اندازې څخه نجاست زیات وي.

۲- واجب: استنجاء په هغه وخت کې واجب ده کله چې نجاست له مخرج څخه تجاوز وکړي او د یوه درهم په اندازه وي.

۳- سنت: استنجاء په هغه وخت کې سنت ده کله چې نجاست له مخرج څخه تجاوز نه وي کړی. (۱)

---

دون عشر في عشر فينجس وإن لم يظهر أثرها فيه أوجاريا وظهر فيه أثرها والأثر طعم أو لون أو ريح. والخامس ماء مشكوك في طهوريته وهو ما شرب منه حمار أو بغل. نور الایضاح، کتاب الطهارة، (ص: ۲۳)، ط: جدید مکتبه رشیدیه، محله جنګي قصه خواني پشاور.

۱ - المياه التي يجوز التطهير بها سبعة مياه ماء السماء وماء البحر وماء النهر وماء البئر وماء ذاب من الثلج والبرد وماء العين. نور الایضاح، کتاب الطهارة، (ص: ۲۳)، ط: جدید مکتبه رشیدیه محله جنګي قصه خواني – پشاور.

۲ – سورة التوبة، آية ۱۰۸.

۳ – رواه ابن ماجه و الدارميّ. مشكاة المصابيح، كتاب الطهارة، باب آداب الخلاء، (۱/ ۴۲)، ط: امیر حمزه کتب خانه، کانسي روډ – کویټه.

۴ [حكم الاستبراء] يلزم الرجل الاستبراء حتى يزول أثر البول ويطمئن قلبه على حسب عادته إما بالمشي أو التنحنح أو الاضطجاع أو غيره. ولا يجوز له الشروع في الوضوء حتى يطمئن بزوال رشح البول. نور الایضاح-۱—۱۷.

وَيَجِبُ الِاسْتِبْرَاءُ وَالتَّنَحْنُحُ، وَقِيلَ: يَكْفِي بِمَسْحِ الذَّكَرِ وَاجْتِذَابِهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ وَالصَّحِيحُ أَنَّ طِبَاعَ النَّاسِ وَعَادَاتِهِمْ مُخْتَلِفَةٌ فَمَنْ غَلَبَهُ أَنَّهُ صَارَ طَاهِرًا جَازَ لَهُ أَنْ يَسْتَنْجِيَ؛ لِأَنَّ كُلَّ أَحَدٍ أَعْلَمُ بِحَالِهِ وَاللَّهُ تَعَالَى أَعْلَمُ. مجمع الانهر -۱-۶۷. كتاب الصلواة.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دویم مبحث: د اوداسه بیان:

**لومړی مطلب: د اوداسه فضیلت:**

د اوداسه د فضیلت په برخه کې د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه روایت دی چې فرمایي: آیا تاسې ته د داسې یو څه ښوونه ونه کړم، چې الله جَلَّ جَلَالُهُ پرې ګناهونه بخښي، او درجې پرې لوړوي، نو صحابه کرامو وویل: هو، راته وښایه اې د الله رسوله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ!، نو رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: په سختیو کې کامل اودس کول، او مسجدونو ته ډېر قدمونه اخیستل، او له لمانځه وروسته د بل لمانځه انتظار ایستل، دا داسې دی، لکه د الله جل جلاله په لاره کې سرحدونه ساتل. (۲)

همدا راز رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي: کله چې یو تن اودس وکړي، او ښه اودس وکړي، ګناهونه به یې له بدن څخه ووځي، تر دې چې تر نوکانو لاندې ګناهونه به یې هم ووځي. (۳)

په یو بل مبارک حدیث کې ورڅخه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي: بېشکه زما امت به د قیامت په ورځ به (جنت ته) سپین مخي، په سپینو لاسونو او پښو بلل کیږي او دا سپینوالی به یې د اوداسه له اثارو څخه وي، نو څوک چې کولی شي، چې سپینوالی یې زیات کړي، نو ودې کړي. (۴)

**دوهم مطلب: د اودس پر مهال ځینې مسنونې دعاګانې:**

قال رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ما من عبد يقول حين يتوضأ: بسم الله ثم يقول لكل عضو: أشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له وأشهد أن محمدا عبده ورسوله، ثم يقول حين يفرغ: اللهم اجعلني من التوابين واجعلني من المتطهرين. (۵)

ژباړه: رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي: هیڅ داسې بنده نشته، چې د اوداسه پر مهال بسم الله ووایي، بیا د هر غړي وینځلو پر مهال ووایي: أشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريک له وأشهد أن محمدا عبده ورسوله، بیا کله چې له اوداسه فارغ شي، نو ووایي: اللهم اجعلني من التوابين و اجعلني من المتطهرين.

**د اوداسه د صحت شرطونه درې دي:**

۱- او به به پاکې وي په ناپاکو اوبو اودس نه کیږي.

۲- هغه څه به د اوداسه په اندامونو نه وي چې بدن ته د اوبو رسېدلو مانع ګرځي.

---

۱- أحكام الاستنجاء: يلزم الاستبراء قبل الاستنجاء، والاستبراء هو اخراج ما بقي في المحل من بول أو غائط حتى يغلب على ظنه أنه لم يبق في المحل شيئ ومن اعتاد في ذلک شيئا فليفعله کقيام، أو مشي أو رکض برجله، أو تنحنح، أو غير ذلک. أما الاستنجاء ففيه تفصيل: اذا تجاوزت النجاسة المخرج وكانت أكثر من قدر الدرهم، افترض غسلها بالماء، ولا تجوز معها الصلاة. اذا تجاوزت النجاسة المخرج وكانت قدر الدرهم وجب ازالتها بالماء اذا لم تتجاوز النجاسة المخرج فالاستنجاء سنة. الفقه الميسر، کتاب الطهارة، أحکام الأستنجاء، (ص: ۲۱۲۰)، ط: جديد مکتبه رشيديه، محله جنګي قصه خواني-پشاور

۲- أَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى مَا يَمْحُو اللَّهُ بِهِ الْخَطَايَا وَيَرْفَعُ بِهِ الدَّرَجَاتِ؟ " قَالُوا بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ: «إِسْبَاغُ الْوُضُوءِ عَلَى الْمَكَارِهِ وَكَثْرَةُ الْخُطَى إِلَى الْمَسَاجِدِ وَانْتِظَارُ الصَّلَاةِ بَعْدَ الصَّلَاةِ فذلكم الرِّبَاط. مشكاة المصابيح، کتاب الطهارة، الفصل الأول، (۱/۳۸)، ط: امير حمزه کتب خانه، کانسي روډ کويټه

۳- مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ خَرَجَتْ خَطَايَاهُ مِنْ جَسَدِهِ حَتَّى تخرج من تَحت أَظْفَاره. پورتنۍ حواله، (۱/۳۸)، امير حمزه کتب خانه، کانسي روډ-کويټه.

۴- إِن أُمَّتِي يُدْعَوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ غُرًّا مُحَجَّلِينَ مِنْ آثَارِ الْوُضُوءِ فَمَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَنْ يُطِيلَ غرته فَلْيَفْعَل. پورتنۍ حواله (۱/۳۹)، امير حمزه کتب خانه، کانسي روډ-کويټه.

۵- کنز العمال (۱۲/ ۱۳)، رقم الحديث: (۲۶۰۸۹).

ومن الأدب أن يقول عند غسل كل عضو: أشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأن محمداً عبده ورسوله، به ورد «الأثر عن رسول الله عليه السلام». المحيط البرهاني في الفقه النعماني (۱/ ۴۸).

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ – هغه بې اودسي به نه وي چې هغه له اوداسه سره منافي وي.(۱)

**دریم مطلب: د اوداسه فرضونه:**

په اوداسه کې څلور (۴) فرضونه دي:

۱– مخ پریمینځل، چې اندازه یې د سر د وېښتانو د راشنه کېدلو له ځایه نیولې د زنې تر لاندېنۍ برخې پورې او د یوه غوږ له نرمۍ څخه نیولې د بل غوږ تر نرمۍ پورې. ۲– دواړه لاسونه سره له څنګلو پریمنځل. ۳– د سر د څلورمې برخې مسح کول.۴ – دواړه پښې سره له ښنګرو پریمنځل . (۲)

**څلورم مطلب: د اوداسه سنتونه:**

په اوداسه کې دیارلس (۱۳) سنتونه دي:

۱– د اوداسه نیت کول .

۲–داوداسه په شروع کې بسم الله ویل.

۳– لاسونه تر مړوندو پورې مینځل.

۴– مسواک وهل.

۵– خوله درې ځله مینځل.

۶– په پوزه کې درې ځله اوبه اچول.

۷– د ږیرې خلالول.

۸– د لاسونو اوپښو دګوتو خلالول.

۹– هر اندام درې ځله مینځل.

۱۰– د ټول سر مسح کول.

۱۱– د دواړو غوږونو مسح کول.

۱۲– د اندامو پرله پسې مینځل (چه یو اندام وچ شوی نه وي د بل مینځل ).

۱۳– په ترتیب سره اندامونه مینځل (یعني لومړی مخ بیا لاسونه مینځل. بیا دسر مسح کول او په پای کې پښې پریمنځل ).

**پنځم مطلب: د مسواک فضیلت:**

مسواک وهل ډیر زیات فضیلت لري او رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به اکثر مسواک وهلو . همدارنګه د امت لپاره یې هم دا خوښه وه چې مسواک استعمال کړي، ځکه په یو حدیث مبارک کې راغلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي: که چیرې زما په امت نه سختېدلای نو خامخا به مې ورته د هر اودس سره دمسواک وهلو امر کړی وای.(۳)

---

۱ - الفقه الحنفی فی ثوبه الجدید ج-۱ ص-۶۷ -۶۸-۶۹.

۲- قال الله تبارک وتعالی: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ﴾ سورة المائدة، آية (۶). و لما في صحيح البخاری، باب غسل الوجه باليدين من غرفة واحدة، (۱/ ۸۷)، ط: مکتبه رحمانیه، اقرأ سنتر، غزني ستریټ اردو بازار– لاهور . و هکذا في الهداية شرح البداية للمرغيناني، كتاب الطهارة، باب الوضوء (۱/ ۹۳۹۳)، ط: ادارة القرآن والعلوم الاسلامية – کراتشي – باکستان: ففرض الوضوء غسل الأعضاء الثلاثة ومسح الرأس.

أَرْكَانُ الْوُضُوءِ أَرْبَعَةٌ, غسل الوجه من مبدأ سطح جبهته طولا ومابين شحمتى الأذنين عرضا، وغسل اليدين مع المرفقين والكعبين، ومسح ربع الرأس مرة.رد المحتار على الدر المختار شرح تنوير الأبصار للعلامة ابن عابدين الشامي، كتاب الطهارة، باب أركان الوضوء، (۱/ ۲۰۳-۲۱۳)، ط: دار الكتب العلمية، بيروت –لبنان.

۳- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْلَا أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمَّتِي لَأَمَرْتُهُمْ بِالسِّوَاكِ مَعَ الْوُضُوءِ. مسند أحمد (۱۲/ ۳۷۴)، رقم الحديث: (۷۴۱۲):

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شپږم مطلب: د مسواک ګټې:**

مسواک ډېرې زياتې ګټې لري، چې ځينې يې په لاندې ډول دي:

۱- د سترګو ديد زياتوي. ۲- مسواک له مرګ پرته د هر څه ښه درملنه ده. ۳- څوک چې مسواک استعمالوي پر پل صراط به تېز تېر شي. ۴- مسواک خوله پاکوي ۵ . او د الله جل جلاله رضا او خوښي پرې حاصلېږي. ۶- په مسواک فرښتې خوشحالېږي. ۷- غاښونه سپينوي. ۸- ووری مضبوطوي ۹- د لمانځه ثواب پرې زياتېږي. ۱۰- د مرګ په وخت کې د شهادت کلمه ورپه يادوي. (۱)

**اووم مطلب: د اوداسه مستحبات:**

۱- د اندامونو مينځلو پرمهال له ښي اندامه شروع کول. ۲- دغاړې مسح کول ۳- دبل چا له مرستې پرته اودس کول. ۴- قبلې ته مخامخ کېناستل. ۵- پرپاک او لوړ ځای باندې اودس کول. (۲)

**اتم مطلب: د اوداسه مکروهات**

په اوداسه کې اووه (۷) شيان مکروه دي:

۱- په ناپاک ځاې کې اودس کول.

۲- په ښي لاس پوزه پاکول يا سوڼ کول. (۳)

۳- په اوداسه کې دنيوي خبرې کول.

۴- په اوداسه کې بې ضرورته له بل چا نه مرسته غوښتل.

۵- له ضرورته زياتې او يا بيخي کمې اوبه استعمالول. (۱)

---

۱- (قوله: ومن منافعه إلخ) في الشرنبلالية عن حاشية صحيح البخاري للفارضي: أن منها أنه يبطئ بالشيب، ويحد البصر. وأحسنها أنه شفاء لما دون الموت، وأنه يسرع في المشي على الصراط.ا هـ. ومنها ما في شرح المنية وغيره أنه مطهرة للفم، ومرضاة للرب، ومفرحة للملائكة، ومجلاة للبصر، ويذهب البخر والحفر، ويبيض الأسنان، ويشد اللثة، ويهضم الطعام، ويقطع البلغم، ويضاعف الصلاة، ويطهر طريق القرآن، ويزيد في الفصاحة، ويقوي المعدة، ويسخط الشيطان، ويزيد في الحسنات، ويقطع المرة، ويسكن عروق الرأس، ووجع الأسنان، ويطيب النكهة، ويسهل خروج الروح. قال في النهر: ومنافعه وصلت إلى نيف وثلاثين منفعة، أدناها إماطة الأذى، وأعلاها تذكير الشهادة عند الموت. رد المحتار على الدر المختار، كتاب الطهارة، مطلب في منافع السواک، (۱/ ۲۵۲-۲۵۳)، ط: دار الكتب العلمية، بيروت-لبنان: مطلب في منافع السواک.

۲- (وَمُسْتَحَبُّهُ) وَيُسَمَّى مَنْدُوبًا وَأَدَبًا وَفَضِيلَةً، وَهُوَ مَا فَعَلَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّةً وَتَرَكَهُ أُخْرَى، وَمَا أَحَبَّهُ السَّلَفُ: (التَّيَامُنُ) فِي الْيَدَيْنِ وَالرِّجْلَيْنِ وَلَوْ مُسِحَا، لَا الْأُذُنَيْنِ وَالْخَدَّيْنِ، (وَمَسْحُ الرَّقَبَةِ) بِظَهْرِ يَدَيْهِ (لَا الْحُلْقُومِ) لِأَنَّهُ بِدْعَةٌ. رد المحتار على الدر المختار، كتاب الطهارة، مستحبات الوضوء، (۱/۲۴۶-۲۴۸)، دار الكتب العلمية، بيروت-لبنان

(الْفَصْلُ الثَّالِثُ فِي الْمُسْتَحَبَّاتِ) وَالْمَذْكُورُ مِنْهَا فِي الْمُتُونِ اثْنَانِ. (الْأَوَّلُ التَّيَامُنُ) وَهُوَ أَنْ يَبْدَأَ بِالْيَدِ الْيُمْنَى قَبْلَ الْيُسْرَى وَبِالرِّجْلِ الْيُمْنَى قَبْلَ الْيُسْرَى وَهُوَ فَضِيلَةٌ عَلَى الصَّحِيحِ وَلَيْسَ فِي أَعْضَاءِ الطَّهَارَةِ عُضْوَانِ لَا يُسْتَحَبُّ تَقْدِيمُ الْأَيْمَنِ مِنْهُمَا عَلَى الْأَيْسَرِ إلَّا الْأُذُنَانِ وَلَوْ لَمْ يَكُنْ لَهُ إلَّا يَدٌ وَاحِدَةٌ أَوْ بِإِحْدَى يَدَيْهِ عِلَّةٌ وَلَا يُمْكِنُهُ مَسْحُهُمَا مَعًا يَبْدَأُ بِالْأُذُنِ الْيُمْنَى ثُمَّ بِالْيُسْرَى كَذَا فِي الْجَوْهَرَةِ النَّيِّرَةِ. (وَالثَّانِي مَسْحُ الرَّقَبَةِ) وَهُوَ بِظَهْرِ الْيَدَيْنِ وَأَمَّا مَسْحُ الْحُلْقُومِ فَبِدْعَةٌ. كَذَا فِي الْبَحْرِ الرَّائِقِ. الفتاوى الهندية، كتاب الطهارة، الباب الاول فى الوضوء، الفصل الثالث فى المستحبات، (۱/ ۱۰)، ط: دار الكتب العلمية، بيروت-لبنان

۳- عن حَفصَةَ زوجِ النبيِّ صلى الله عليه وسلم: أنَّ النبيَّ صلى الله عليه وسلم كان يَجعَلُ يمينَه لطعامِهِ وشرابِهِ وثيابِهِ، ويَجعَلُ شِمالَهُ لِمَا سِوى ذلك. سنن أبي داود للسجستاني، كتاب الطهارة، رقم الحديث: ۳۱، (ص: ۱۲)، ط: دار الحضارة للنشر والتوزيع

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۶- پر مخ او نورو اندامونو په زوره اوبه شيندل.**
**۷- د سر په مسح کې تکرار کول .** (۲)
**نهم مطلب: د اوداسه ماتوونکي شيان:**
**په لاندې اتو (۸) شيانو اودس ماتيږي:**
**۱- د بدن نه د نجس شي وتل . برابره خبره ده، که هغه نجس د انسان له يو د دوو لارو يا د بدن له بلې حصې څخه ووځي. باد، چينجی او ګتکی ( وړوکې تيږه ) که د انسان د شا له طرفه ووځي نو اودس پرې ماتيږي، خو که د انسان د مخې له لوري ووځي، بيا اودس نه ماتوي. ۲- په ډکه خوله قی ( کانګې ) کول. ۳- په پريوتلو يا ډډه وهلو سره ويده کيدل. ۴- بېهوشه کېدل. ۵- ليونتوب راتلل. ۶- په داسې لمانځه کې چې رکوع او سجده ولري د بالغ، وېښ سړی په زوره خندل. ۷- نشه کېدل. ۸- مباشرة فاحشة.** (۳)

---

۱ عن عبد الله بن عمرو، أن رسول الله صلى الله عليه وسلم مر بسعد، وهو يتوضأ، فقال: "ما هذا السرف؟" فقال: أفي الوضوء إسراف؟ قال: "نعم، وإن كنت على نهر جار" سنن ابن ماجه, كتاب الطهارة، باب ما جاء في القصد في الوضوء وكراهية التعدي فيه (ص: )، ط: قديمي كتب خانه–مقابل آرام باغ–كراچي

۲- عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى قَالَ رَأَيْتُ عَلِيًّا رضى الله عنه تَوَضَّأَ فَغَسَلَ وَجْهَهُ ثَلاَثًا وَغَسَلَ ذِرَاعَيْهِ ثَلاَثًا وَمَسَحَ بِرَأْسِهِ وَاحِدَةً ثُمَّ قَالَ هَكَذَا تَوَضَّأَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم . سنن ابي داود للسجستاني، كتاب الطهارة، باب صفة وضوء النبي صلى الله عليه وسلم، رقم الحديث: ۱۱۱، (ص: ۲۱)، ط: دار الحضارة للنشر والتوزيع: .

ومكروهه: لطم الوجه بالماء، والتقتير والاسراف فيه، وتثليث المسح بماء جديد. رد المحتار على الدر المختار، كتاب الطهارة، باب الوضوء، (۱/ ۲۵۹۲۵۷)، ط: دار الكتب العلمية بيروت لبنان

(الفصل الرابع في المكروهات) فمنها التعنيف في ضرب الماء على الوجه والمضمضة والاستنشاق باليسار والامتخاط باليمين من غير عذر. كذا في خزانة الفقه لأبي الليث ومنها تثليث المسح بماء جديد ولا بأس بالتمسح بالمنديل بعد الوضوء. كذا في التبيين و يكره أن يخص لنفسه إناء يتوضأ به دون غيره كما يكره أن يعين لنفسه في المسجد مكانا. كذا في الوجيز للكردري. الفتاوى الهندية، كتاب الطهارة، باب الوضوء، فصل المكروهات، (ص: ۱۱)، ط: دار الكتب العلمية بيروت–لبنان

ويكره للمتوضئ ستة أشياء: الاسراف في الماء، والتقتير فيه، وضرب الوجه به، والتكلم بكلام الناس، والاستعانة بغيره من غير عذر، وتثليث المسح بماء جديد. نور الايضاح، كتاب الطهارة، باب الوضوء، فصل في مكروهات الوضوء، (ص: ۲۰۲۸)، ط: مكتبة البشرى كراتشي–باكستان

الوضوء في مكان نجس: يكره فعل الوضوء في مكان نجس لأنه طهارة، فيتنحى عن المكان النجس أو ما من شأنه كذالك، لأن لماء الوضوء حرمة، ولئلا يتطاير عليه شيئ مما يتقاطر من أعضائه ويتعلق به النجاسة، وذالك في المكان النجس بالفعل. نص عليه الحنفية والمالكية والشافعية والحنابلة، وزاد الحنفية: يكره تنزيها القاء النخامة والامتخاط في الماء. الموسوعة الفقهية الكويتية، (۴۳/ ۳۸۴) المأخوذ من المكتبة الشاملة

۳ - قال الله تبارك وتعالي: ﴿وَإِنْ كُنْتُمْ مَرْضَى أَوْ عَلَى سَفَرٍ أَوْ جَاءَ أَحَدٌ مِنْكُمْ مِنَ الْغَائِطِ أَوْ لَامَسْتُمُ النِّسَاءَ﴾ سورة المائدة، آية (۶).

عن صفوان بن عسال، قال: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يأمرنا إذا كنا سفرا أن لا ننزع خفافنا ثلاثة أيام ولياليهن، إلا من جنابة، ولكن من غائط وبول ونوم. سننن الترمذي، أبواب الطهارة، باب المسح على الخفين للمسافر والمقيم، رقم الحديث: ۹۵، (۱/ ۵۸)، ط: الطاف اينڈ سنز، كراتشي باكستان للنشر والتوزيع

عن عائشة، قالت: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «من أصابه قيء أو رعاف أو قلس أو مذي، فلينصرف، فليتوضأ ثم ليبن على صلاته، وهو في ذلك لا يتكلم». سنن ابن ماجه، كتاب الصلاة، أبواب السهو، باب ما جاء في البناء على الصلاة، (ص: ۵۸)، ط: قديمى كتب خانه مقابل آرام باغ–كراچى

المعاني الناقضة للوضوء كل ما يخرج من السبيلين، والدم والقيح اذا خرجا من البدن فتجاوزا الى موضع يلحقه حكم التطهير، والقيئ ملء الفم، ولو نزل من الرأس الى ما لان من الأنف نقض الوضوء بالاتفاق، والنوم مضطجعا، أو متكئا أو مستندا الى شيئ لو أزيل لسقط، والغلبة على العقل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دریم مبحث: د غسل احکام:

**لومړی مطلب: د غسل تعریف:**

غسل په لغت کې پر بدن باندې د اوبو تویولو او مښلو ته وایی، او په اصطلاح کې:
په ټول بدن باندې په مخصوصې طریقې سره اوبه استعمالول. (۱)

**دوهم مطلب: د غسل فرضیت:**

الله جل جلاله فرمایي: ﴿... وَإِن كُنتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوا ...﴾ (۲)
ژباړه: که وئ تاسې جنبان (په جنابت کې)، نو ښه ځان پاک کړئ.
همدارنګه رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي:
تَحت كل شَعْرَة جَنَابَةٌ فَاغْسِلُوا الشَّعْرَ وَأَنْقُوا الْبَشْرَةَ. (۳)
ژباړه: د هر ویښته لاندې جنابت وي، نو ویښته ومینځئ او بدن ښه پاک کړئ.

**دریم مطلب: د غسل واجبوونکي شیان:**

۱- په حالت د بیداری او یا خوب کې په شهوت سره مني وتل. ۲-په یو د دوه لاروکې د نارینه تناسلي اندام داخلېدل، که مني خارج شي او که نه شي. ۳-د حیض پای ته رسېدل (حیض هغې وینې ته وایې چې له زنانه وو نه د میاشتني عادت پر مهال خارجېږي). ۴-د نفاس پای ته رسېدل (نفاس هغه وینه ده چې د ماشوم له ولادت څخه وروسته له زنانه وو نه خارجېږي). (۴)

---

بالاغماء والجنون، والقهقهة في صلاة ذات ركوع وسجود، والدابة تخرج من الدبر ناقضة فان خرجت من رأس الجرح أو سقط اللحم منه لا ينقض.
الهداية شرح البداية (۱/۱۰۶،۱۱۷)، كتاب الطهارة، فصل في نواقض الوضوء، ادارة القرآن والعلوم الاسلامية، دى ګاردين ايست كراتشي – باكستان

وينقضه خروج نجس منه الى ما يطهر، وريح أو دودة أو حصاة من دبر، وقيئ ملأ الفم، وينقضه دم غلب على بزاق، وكذا ينقضه علقة مصت عضوا وامتلأت من الدم، ومثلها القراد ان كان كبيرا، يخرج منه دم مسفوح، ونوم يزيل مسكته، واغماء، وجنون، وسكر، وقهقهة بالغ يقظان، يصلي بطهارة صغرى مستقلة، صلاة كاملة، ومباشرة فاحشة للجانبين. رد المحتار على الدر المختار، كتاب الطهارة، مطلب نواقض الوضوء، (۱/ ۳۰۳،۲۸۴)، ط: المكتبة السبحانية، كانسي روډ كويټه: وكذا فى البحر الرائق شرح كنز الدقائق، كتاب الطهارة، فصل نواقض الوضوء، (۱/۸۱،۵۸)، ط: مكتبه رشيديه، كويټه.

فَا لحدث الصَّغِيرُ مَا يُوجِبُ الْوُضُوءَ لَا غَيْرُ كَالْبَوْلِ وَالْغَائِطِ وَالْقَيْءِ إذَا مَلَأَ الْفَمَ وَخُرُوجُ الدَّمِ وَالْقَيْحِ مِنْ الْبَدَنِ إذَا تَجَاوَزَ إلَى مَوْضِعٍ يَلْحَقُهُ حُكْمُ التَّطْهِيرِ.... الجوهرة النيرة على مختصر القدوري (۱/ ۳۱).

۱ الغسل بضم الغين معناه في اللغة الفعل الذي يقع من الإنسان من إراقة الماء على بدنه، ودلك بدنه .... وأما معناه في الشرع فهو استعمال الماء الطهور في جميع البدن على وجه مخصوص . الفقه على المذاهب الأربعة ج ۱ ص ۹۷ تعريف الغُسل

۲ - سورة المائدة، آية ۶.

۳- مشكوة المصابيح، كتاب الطهارة، باب الغسل، (۱/۴۸)، ط: امير حمزه كتب خانه، كانسي روډ – كوئټه.

۴ - قال: " والمعاني الموجبة للغسل إنزال المني على وجه الدفق والشهوة من الرجل والمرأة حالة النوم واليقظة " ... ثم المعتبر عند أبي حنيفة ومحمد رحمهما الله تعالى انفصاله عن مكانه على وجه الشهوة وعند أبي يوسف رحمه الله تعالى ظهوره أيضا اعتبارا للخروج بالمزايلة إذ الغسل يتعلق بهما ولهما أنه مني وجب من وجه فالاحتياط في الإيجاب " والتقاء الختانين من غير إنزال " لقوله عليه الصلاة والسلام: " إذا التقى الختانان وتوارت الحشفة وجب الغسل أنزل أو لم ينزل " ولأنه سبب الإنزال ونفسه يتغيب عن بصره وقد يخفى عليه لقلته فيقام مقامه وكذا الإيلاج في الدبر لكمال السببية ويجب على المفعول به احتياطا بخلاف البهيمة وما دون الفرج لأن السببية ناقصة. قال: " والحيض " لقوله تعالى: {حَتَّى يَطْهُرْنَ} [البقرة: ۲۲۲] بالتشديد وكذا النفاس للإجماع. الهداية في شرح بداية المبتدي ج ۱ ص ۲۰ فصل في الغسل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلورم مطلب: د غسل فرضونه:**

**د غسل فرضونه درې (۳) دي:**

**۱- د خولې وينځل (که روژه نه وي نو احتياطا غرغره کول او که روژه وي نو يوازې اوبه اچول). ۲- د پوزې وينځل. ۳- د ټول بدن په داسې طريقه وينځل چې په بدن کې وچ ځای پاتې نه شي.(۱)**

**پنځم مطلب: د غسل سنتونه:**

**په غسل کې لاندې شيان سنت دي: ۱- بسم الله ويل . ۲- نيت کول. ۳- دواړه لاسونه تر مړوندو پورې وينځل. ۴- استنجا کول ۵. د بدن په کوم ځای چې نجاست او پليتي وي د هغه لرې کول. - ۶. د غسل په شروع کې اودس کول، ۷. لومړی په سر اوبه اچول ۸. روسته په ښی اوږه ، او بيا په چپه اوږه اوبه اچول . ۹- په ټول بدن باندې درې ځلي اوبه تېرول ۱۰. د بدن مښل ۱۱. پرله پسې والې کول ۱۲. د اوبو ودريدو صورت کې پښې آخر کې وينځل .(۲)**

---

﴿وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْمَحِيضِ قُلْ هُوَ أَذًى فَاعْتَزِلُوا النِّسَاءَ فِي الْمَحِيضِ وَلَا تَقْرَبُوهُنَّ حَتَّى يَطْهُرْنَ فَإِذَا تَطَهَّرْنَ فَأْتُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَمَرَكُمُ اللَّهُ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ﴾ سورة البقرة، آية (۲۲۲).

وفرض عند مني ذي دفق وشهوة عند انفصاله، وتواري حشفة في قبل أو دبر عليهما، وحيض ونفاس. البحر الرائق شرح كنز الدقائق، كتاب الطهارة، (۱/ ۹۹-۱۱۶)، ط: مكتبه رشيديه، سركي روډ-كويټه. الهداية شرح البداية، كتاب الطهارة، (۱/ ۱۲۲)، ط: ادارة القرآن والعلوم الاسلامية كراتشي-باكستان.

۱ - قال الله تبارك وتعالى: ﴿وَإِنْ كُنْتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوا﴾ سورة المائدة، آية (۶).

عن ميمونة قالت وضع رسول الله صلى الله عليه وسلم وضوء الجنابة فأكفأ بيمينه على شماله مرتين أو ثلاثا ثم غسل فرجه ثم ضرب يده بالأرض أو الحائط مرتين أو ثلاثا ثم مضمض واستنشق وغسل وجهه وذراعيه ثم أفاض على رأسه الماء ثم غسل جسده ثم تنحى فغسل رجليه قالت فأتيته بخرقة فلم يردها فجعل ينفض بيده. صحيح البخاري، باب من توضأ في الجنابة ثم غسل سائر جسده ولم يعد غسل مواضع الوضوء مرة أخرى (۱/ ۶۳)، المأخوذ من المكتبة الشاملة

وفرض الغسل: المضمضة والاستنشاق وغسل سائر البدن. الهداية شرح البداية، كتاب الطهارة فصل الغسل، (۱/ ۱۱۹)، ط: ادارة القرآن والعلوم الاسلامية، كراتشي-باكستان . رد المحتار على الدر المختار، كتاب الطهارة، أبحاث الغسل، (۱/ ۳۱۱-۳۱۲)، ط: المكتبة السبحانية كانسي روډ-كويټه. في البحر الرائق شرح كنز الدقائق، كتاب الطهارة، (۱/ ۸۶)، ط: مكتبه رشيديه، سركي روډ-كويټة.

۲ - عن ميمونة قالت وضع رسول الله صلى الله عليه وسلم وضوءا لجنابة فأكفأ بيمينه على شماله مرتين أو ثلاثا ثم غسل فرجه ثم ضرب يده بالأرض أو الحائط مرتين أو ثلاثا ثم مضمض واستنشق وغسل وجهه وذراعيه ثم أفاض على رأسه الماء ثم غسل جسده ثم تنحى فغسل رجليه قالت فأتيته بخرقة فلم يردها فجعل ينفض بيده. صحيح البخاري، باب من توضأ في الجنابة ثم غسل سائر جسده ولم يعد غسل مواضع الوضوء مرة أخرى (۱/ ۶۳)، المأخوذ من المكتبة الشاملة

وسننه: أن يبدأ المغتسل فيغسل يديه وفرجه ، ويزيل النجاسة ان كانت على بدنه، ثم يتوضأ وضوءه للصلاة الا رجليه، ثم يفيض الماء على رأسه وسائر جسده ثلاثا، ثم يتنحى عن ذالك المكان فيغسل رجليه. الهداية شرح البداية، كتاب الطهارات، (۱/ ۱۲۱)، ط: ادارة القرآن والعلوم الاسلامية، كراتشي-باكستان . نور الايضاح، كتاب الطهارة، باب الوضوء، فصل في سنن الغسل، (ص: ۳۷)، ط: مكتبة البشرى، كراتشي-باكستان. البحر الرائق شرح كنز الدقائق كتاب الطهارة، باب الوضوء، (۱/ ۹۳)، مكتبه رشيديه، سركي روډ-كويټه. رد المحتار على الدر المختار، كتاب الطهارة، سنن الغسل، (۱/ ۳۱۹-۳۲۴)، ط: مكتبه سبحانيه، كانسي روډ-كويټه. الفقه الحنفي في ثوبه الجديد، أحكام الطهارة، الغسل، (۱/ ۱۰۷-۱۰۸)، ط: مكتبه حقانيه كانسي روډ-كويټه.

فصل في سنن الغسل : يسن في الاغتسال اثنا عشرة شيئا: الابتداء بالتسمية. والنية. وغسل اليدين إلى الرسغين. وغسل نجاسة لو كانت بانفرادها. وغسل فرجه. ثم يتوضأ كوضوئه للصلاة فيثلث الغسل ويمسح الرأس. ولكنه يؤخر غسل الرجلين إن كان يقف في محل يجتمع فيه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شپږم مطلب: د غسل مکروهات:**

پهٔ غسل کې لاندې شيان مکروه دي:

د غسل پر مهال قبلې ته مخ کول. او هغه څه چې په اوداسه کې مکروه دي، هغه په غسل کې هم مکروه دي.(۱)

## څلورم مبحث: حيض:

د غسل په واجبوونکو شيانو کې د حيض او نفاس يادونه وشوه پدې ځای کې د حيض او نفاس په اړه لږ تفصيل ذکر کيږي:

**لومړی مطلب: د حيض تعريف او موده:**

**الف: د حيض تعريف:** حيض په لغت کې: سيلان او بهيدلو ته ويل کيږي.

او په اصطلاح کې: هغې وينې ته ويل کيږي چې د ښځې له رحم نه خارجيږي چې نابالغه نه وي، حمل يې په نس نه وي او نه هم ناروغه وي او نه هم پنځه پنځوس کلونو ته رسيدلې وي.(۲)

**ب: د حيض موده:** د حيض کمه موده درې شپې او درې ورځې ده او ډېره موده يې لس شپې او لس ورځې ده.(۳)

له درې ورځو او شپو نه چې وينې کمې وي او له لس ورځو او شپو نه چې زياتې وي دې ته حيض نه ويل کيږي بلکې استحاض ويل کيږي چې حکم يې بېل دی. (۱)

---

الماء. ثم يفيض الماء على بدنه ثلاثا. ولو انغمس في الماء الجاري أو ما في حكمه ومكث فقد أكمل السنة. ويبتدئ في صب الماء برأسه. ٠ ويغسل بعدها منكبه الأيمن ثم الأيسر. ويدلك جسده. ويوالي غسله . نورالايضاح ص فصل في سنن الغسل

۱ قال الله تعالى: ﴿وَلَا تُسْرِفُوا إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ﴾ سورة الأنعام. آية (۱۴۱).

عن أبي بن كعب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، عن النبي صلى الله عليه وسلم، قال: إن للوضوء شيطاناً، يقال له: الولهان، فاتقوا وسواس الماء. سنن الترمذي، أبواب الطهارة، باب كراهية الاسراف في الوضوء بالماء، (۱/۴۷)، ط: الطاف اينډ سنز، كراتشي، باكستان – للنشر والتوزيع.

و آداب الاغتسال هي آداب الوضوء الا أنه لا يستقبل القبلة؛ لأنه يكون غالباً مع كشف العورة، وكره فيه ما كره في الوضوء. نور الايضاح، كتاب الطهارة، فصل في آداب الاغتسال ومكروهاته (ص: ۳۸).

۲ - أَمَّا تَفْسِيرُهُ لُغَةً فَقَالَ أَهْلُ اللُّغَةِ أَصْلُهُ السَّيَلَانُ يُقَالُ حَاضَ الْوَادِي أَيْ سَالَ فَسُمِّيَ حَيْضًا لِسِيلَانِهِ فِي أَوْقَاتِهِ وَقَالَ الْأَزْهَرِيُّ الْحَيْضُ دَمٌ يُرْخِيهِ رَحِمُ الْمَرْأَةِ بَعْدَ بُلُوغِهَا فِي أَوْقَاتٍ مُعْتَادَةٍ، وَيُقَالُ حَاضَتْ الْمَرْأَةُ تَحِيضُ حَيْضًا وَمَحِيضًا وَمُحَاضًا فَهِيَ حَائِضٌ بِحَذْفِ التَّاءِ؛ لِأَنَّهُ صِفَةُ الْمُؤَنَّثِ خَاصَّةً فَلَا تَحْتَاجُ إلَى عَلَامَةِ التَّأْنِيثِ بِخِلَافِ قَائِمَةٍ وَمُسْلِمَةٍ هَذِهِ اللُّغَةُ الْفَصِيحَةُ الْمَشْهُورَةُ... وَأَمَّا تَفْسِيرُهُ شَرْعًا بِنَاءً عَلَى أَنَّهُ مِنْ الْأَنْجَاسِ فَمَا ذَكَرَهُ الْمُصَنِّفُ بِقَوْلِهِ (وَهُوَ دَمٌ يَنْفُضُهُ رَحِمُ امْرَأَةٍ سَلِيمَةٍ عَنْ دَاءٍ وَصِغَرٍ) فَدَخَلَ فِي قَوْلِهِ دَمٌ غَيْرُ الْمُعَرَّفِ وَشَمَلَ الدَّمَ الْحَقِيقِيَّ وَالْحُكْمِيَّ، وَخَرَجَ بِقَوْلِهِ يَنْفُضُهُ رَحِمُ امْرَأَةٍ دَمُ الرُّعَافِ وَالْجِرَاحَاتِ وَمَا يَكُونُ مِنْهُ لَا مِنْ آدَمِيَّةٍ، وَمَا يَخْرُجُ مِنْ الدُّبُرِ مِنْ الدَّمِ فَإِنَّهُ لَيْسَ بِحَيْضٍ لَكِنْ يُسْتَحَبُّ لَهَا أَنْ تَغْتَسِلَ عَنْ انْقِطَاعِ الدَّمِ، فَإِنْ أَمْسَكَ زَوْجُهَا عَنْ الْإِتْيَانِ أَحَبُّ إلَيَّ، كَذَا فِي الْخُلَاصَةِ وَلَمْ تَخْرُجْ الِاسْتِحَاضَةُ؛ لِأَنَّ الْمُرَادَ بِالرَّحِمِ هُنَا الْفَرْجُ، وَإِنَّمَا خَرَجَ بِقَوْلِهِ "سَلِيمَةٍ" عَنْ دَاءٍ أَيْ دَاءٍ بِرَحِمِهَا، وَإِنَّمَا قَيَّدْنَا بِهِ؛ لِأَنَّ مَرَضَ الْمَرْأَةِ السَّلِيمَةِ الرَّحِمِ لَا يَمْنَعُ كَوْنَ مَا تَرَاهُ فِي عَادَتِهَا مَثَلًا حَيْضًا كَمَا لَا يَخْفَى وَخَرَجَ بِهِ النِّفَاسُ أَيْضًا؛ لِأَنَّ بِالرَّحِمِ دَاءً بِسَبَبِ الْوِلَادَةِ. البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (۱/ ۱۹۹).

الحيض هو دم من رحم ادمية تم لها من العمر تسع سنين فاكثر لا داء بها و لاحبل و لم تبلغ خمسا و خمسين سنة. الفقه الحنفي في ثوبه الجديد ج ۱ -۱۰۹.باب الغسل.

۳ - (وَأَقَلُّهُ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ) بِرَفْعِ: ثَلَاثَةُ عَلَى الْخَبَرِيَّةِ وَنَصْبِهَا عَلَى الظَّرْفِيَّةِ، وَعَلَى الْأَوَّلِ يَكُونُ الْمَعْنَى أَقَلُّ مُدَّةِ الْحَيْضِ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ عَلَى تَقْدِيرِ الْمُضَافِ (بِلَيَالِيهَا) يَعْنِي ثَلَاثَ لَيَالٍ كَمَا هُوَ ظَاهِرُ الرِّوَايَةِ. مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر (۱/ ۵۲).

(قَوْلُهُ فِي الْمَتْنِ وَأَكْثَرُهُ عَشَرَةُ أَيَّامٍ) وَفِي الْمُجْتَبَى ذِكْرُ الْأَيَّامِ يَسْتَتْبِعُ اللَّيَالِي كَمَنْ اسْتَأْجَرَ دَارًا ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ أَوْ نَذَرَ اعْتِكَافَ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ أَوْ حَلَفَ بَعْدَ الْغُرُوبِ لَا يُكَلِّمُهُ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ. تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق وحاشية الشلبي (۱/ ۵۵).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دویم مطلب: د حیض له پلوه د ښځې ډولونه:**

۱-مبتدأة: هغې ښځې ته ویل کېږي چې لومړی حیض او نفاس یې وي.

۲-معتادة: هغه ښځه ده چې دم او طهر صحیح پرې تېر شوي وي او د حیض او نفاس عادت یې معلوم وي.

۳-متحیرة: هغه ښځه ده چې عادت یې هېر شوی وي او وینې یې همداسې جاري او دائم وي.(۲)

**دریم مطلب: د حیض شرطونه او رنګونه:**

**الف: د حیض شرطونه:**

۱-داوینې به له رحم څخه وي.

۲-داوینې به د ولادت له امله نه وي.

۳-مخکې له حیض نه به ۱۵ پنځلس ورځې پاکه وي.

۴-حیض به له درې ورځو څخه کم نه وي ځکه کمه موده یې درې ورځې ده.

۵-ښځه به نا بالغه نه وي که نا بالغه وي دې وینو ته حیض نه ویل کېږي.(۳)

**ب: د حیض رنګونه:**

د حیض د وینو رنګونه شپږ دي:

۱-تور. ۲-سور. ۳-زیړ. ۴-شفتلي (زرغون). ۵-خړ رنګ لکه خړې اوبه. ۶-خاورین رنګ لکه د خاورې د رنګ په شان.

دا ټول شپږ رنګونه د حیض په ورځو کې حیض شمېرل کېږي. یوازې سپین رنګ حیض نه شمېرل کېږي بلکې طهر ګڼل کېږي.(۴)

**څلورم مطلب: هغه کارونه چې د حائضې لپاره روا دي:**

حایضې ښځې ته د حیض پر مهال هر ډول اذکار ویل روا دي، د بېلګې په ډول سبحان الله، الحمدلله، الله اکبر او داسې نور ویل.

او همدارازد اذکارو او تسبیحاتو مسح کول هم ورته روا دي.

د قبرونو زیارت کول.

د اختر د لمانځه ځایونو ته ننوتل.

خوراک او څښاک کول، خو چې لاسونه او خوله ووینځي، له لاسونو او خولې وینځلو وړاندې خوراک او څښاک کول د جنوب انسان لپاه مکروه دي(۱).

---

۱ - ودم الاستحاضة هو ما تراه المرأة أقل من ثلاثة أيامٍ أو أكثر من عشرة أيامٍ؛ فحكمه حكم الرعاف الدائم: لا يمنع الصوم، ولا الصلاة، ولا الوطء، اللباب في شرح الكتاب (۱/ ۴۵).

۲- قَالَ الْعَلَّامَةُ الْبِرْكَوِيُّ فِي رِسَالَتِهِ الْمُؤَلَّفَةِ فِي الْحَيْضِ: الْمُبْتَدَأَةُ مَنْ كَانَتْ فِي أَوَّلِ حَيْضٍ أَوْ نِفَاسٍ. وَالْمُعْتَادَةُ: مَنْ سَبَقَ مِنْهَا دَمٌ وَطُهْرٌ صَحِيحَانِ أَوْ أَحَدُهُمَا. وَالْمُضَلَّةُ وَتُسَمَّى الضَّالَّةُ وَالْمُتَحَيِّرَةُ: مَنْ نَسِيَتْ عَادَتَهَا، الدر المختار وحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (۱/ ۲۸۶).

۳ - ان يكون من الرحم، ان لايكون بسبب الولادة, ان يسبقه نصاب الطهر ولو حكماً ... ان لاينقص عن اقله, و ان يكون او انه بعد تسع سنوات قمرية اي في سن المراهقة. الفقه الحنفي في ثوبه الجديد ج ۱ -۱۱۲ .باب الغسل.

۴ - (وَمَا تَرَاهُ مِنَ الْأَلْوَانِ فِي مُدَّتِهِ سِوَى الْبَيَاضِ الْخَالِصِ فَهُوَ حَيْضٌ) اعْلَمْ أَنَّ أَلْوَانَ الْحَيْضِ هِيَ الْحُمْرَةُ وَالسَّوَادُ وَهُمَا حَيْضٌ إِجْمَاعًا وَكَذَا الصُّفْرَةُ الْمُشْبَعَةُ فِي الْأَصَحِّ، وَالْخُضْرَةُ وَالصُّفْرَةُ الضَّعِيفَةُ وَالْكُدْرَةُ وَالتُّرَابِيَّةُ عِنْدَنَا وَالْفَرْقُ بَيْنَهُمَا أَنَّ الْكُدْرَةَ تَضْرِبُ إِلَى الْبَيَاضِ، وَالتُّرَابِيَّةُ إِلَى السَّوَادِ.) مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر (۱/ ۵۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library



حایضه ښځه کولی شي، چې له خپل خاوند سره په یوې بسترې کې څملي خو په دې شرط چې له زنګنونو تر نامه پورې برخې څخه یې پرهېز وکړي (۲).

**پنځم مطلب: طهر (پاکوالی):**

د وینو د قطع کېدلو او بندېدلو هغې زماني ته ویل کېږي چې وینې پکې له حیض نه وروسته حقیقتا او یا حکما قطع او بندې شي د حکما بندېدلو مثال د استحاض دی چې ښځه د استحاض پر مهال حکما پاکه ګڼل کېږي.(۳)

طهر که د دوه حیضونو تر منځ وي دې ته تام او صحیح طهر ویل کېږي، چې د دې طهر کمه موده پنځلس ورځې او شپې ده، د طهر لږ تر لږه موده پنځلس ورځې ده(۴). او د زیاتې مودې اندازه یې معلومه نه ده ځکه په ځینو ښځو کې ټول عمر طهر دوام کوي.که له پنځلس ورځو څخه کم وي دې ته بیا ناقص او فاسد طهر ویل کېږي.

که طهر پنځلس ورځې او شپې وي دا بیا د حیض د دوه وینو تر منځ فاصل او جلا کوونکی ګڼل کېږي هر طرف ته چې وینې د حیض کم نصاب ته ورسېږي (کم تر کمه درې ورځې او شپې وي) هغه به حیض ګڼل کېږي، که طهر له درې ورځو څخه کم ؤ بیا د حیض د دوو وینو تر منځ فاصل او جلا کوونکی نشي ګڼل کېدلی، بلکې پر لپسې او جاري وینې به ګڼل کېږي، که طهر متخلل بین الدمین له درې ورځو او شپو څخه زیات او له پنځلس ورځو او شپو څخه را کم وي پدې هکله له امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللَّهُ نه شپږ قولونه نقل شوي، درې پکې مشهور دي پدې درې اقوالو کې په مفتي او مستفتي باندې اسانه او د ډېرو متأخرینو علماء کرامو په اند مفتی به قول د امام ابو یوسف رَحِمَهُ اللَّهُ قول دی چې له درې ورځو نه تر څوارلس ورځو پورې طهر د دوه دمینو تر منځ فاصل او جلا کوونکی نه دی، بلکې پرلپسې او جاري وینې به ګڼل کېږي پدې شرط چې په دواړو طرفینو کې به د حیض وینو پرې احاطه کړې وي.(۵)

**پنځم مبحث: نفاس:**

**لومړی مطلب: د نفاس تعریف:**

نفاس په لغت کې: د ښځې ولادت ته ویل کېږي کله چې ښځه زېږون وکړي هغې ته نفساء ویل کېږي. (۶)

او د شریعت په اصطلاح کې: هغو وینو ته ویل کېږي چې د ماشوم له زېږون نه وروسته د ښځې له رحم څخه خارجېږي.

---

۱: ولا بأس لحائض وجنب بقراءة أدعية ومسها وحملها، وذكر الله تعالى، وتسبيح وزيارة قبور، ودخول مصلى عيد وأكل وشرب بعد مضمضة، وغسل يد وأما قبلهما فيكره لجنب لا حائض ما لم تخاطب بغسل. رد المحتار على الدر المختار، كتاب الطهارة، باب الحيض، (۱/ ۴۸۸-۴۸۹)، ط: دار الكتب العلمية، بيروت–لبنان.

۲: ويمنع ..وقربان ما تحت ازار يعنى ما بين سرة وركبة ولو بلا شهوة. رد المحتار على الدر المختار، كتاب الطهارة، باب الحيض، (۱/ ۴۸۶)، ط: دار الكتب العلمية، بيروت–لبنان.

۳ - وَفِي الشَّرْعِ: زَمَانُ نَقَاءِ الْمَرْأَةِ مِنْ دَمِ الْحَيْضِ وَالنِّفَاسِ. الموسوعة الفقهية الكويتية (۲۹/ ۱۱۸).

۴: كتاب الفقه على المذاهب الأربعة، كتاب الطهارة، مدة الطهر، (۱/ ۱۱۹)، ط: دار الكتب العلمية، بيروت–لبنان.

وأقل الطهر خمسة عشر يوما.

۵ - عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى لِأَنَّ عِنْدَهُ الطُّهْرَ الْمُتَخَلِّلَ إذَا كَانَ دُونَ خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا لَمْ يَكُنْ فَاصِلًا عِنْدَهُ وَهُوَ رِوَايَتُهُ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُ وَكَذَلِكَ عَلَى رِوَايَةِ مُحَمَّدٍ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُمَا لِأَنَّ الدَّمَ مُحِيطٌ بِطَرَفَيْهِ وَكَذَلِكَ عَلَى رِوَايَةِ ابْنِ الْمُبَارَكِ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُمْ .المبسوط للسرخسي (۲/ ۱۸).

۶ - (قَوْلُهُ وَالنِّفَاسُ دَمٌ يَعْقُبُ الْوَلَدَ) شَرْعًا وَفِي اللُّغَةِ هُوَ مَصْدَرُ نَفِسَتْ الْمَرْأَةُ بِضَمِّ النُّونِ وَفَتْحِهَا إذَا وَلَدَتْ فَهِيَ نُفَسَاءُ وَهُنَّ نِفَاسٌ، وَإِنَّمَا سُمِّيَ الدَّمُ بِهِ؛ لِأَنَّ النَّفْسَ الَّتِي هِيَ اسْمٌ لِجُمْلَةِ الْحَيَوَانِ قِوَامُهَا بِالدَّمِ وَقَوْلُهُمْ النِّفَاسُ هُوَ الدَّمُ الْخَارِجُ عَقِيبَ الْوَلَدِ تَسْمِيَةٌ بِالْمَصْدَرِ كَالْحَيْضِ. البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (۱/ ۲۲۹).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دویم مطلب: د نفاس موده:**

کمه موده یې معلومه نه ده تر عادت پورې اړه لري، زیاته موده یې څلوېښت ورځې او شپې ده له دې څخه زیات استحاض دی.(۱)

**مسئله:** که چېرې له یوې ښځې څخه تر څلوېښتو ورځو زیاته وینه بهېدله، نو که دا د ښځې لومړی نفاس وي، یعنې دا یې لومړی ماشوم وي، چې پیدا شوی دی، نو د نفاس موده به یې څلوېښت ورځې وي، او که چېرې دویم یا درېیم نفاس یې وي، یعنې دویم یا درېیم ولادت یې وي، نو بیا یې موده پر هغه عادت بناء ده چې مخکې ؤ (۲).

**مسئله:** که چېرې وینه له څلوېښتو ورځو څخه زیاته شي؛ مرض بلل کیږي، نو بیا به ښځه غسل کوي او لمونځ به هم کوي(۳).

**مسئله:** که چېرې د یوې نفاسې ښځې وینه له څلوېښتو ورځو له پوره کېدلو وروسته ودرېدله؛ نو خاوند ته یې له غسل پرته کوروالی روا دی، خو که له څلوېښتو ورځو څخه په لږو ورځو کې ودرېدله، نو بیا تر هغه پورې کوروالی ورسره کولی نه شي، څو غسل یا تیمم او لمونځ ونه کړي، یا یې عادت پوره نه شي، یا یې یو لمونځ په ذمې کې دین نه شي(۴).

**دریم مطلب: د حیض او نفاس احکام:**

۱–حرمة الصلاة:

د حیض او نفاس په جریان کې په ښځه باندې لمونځ کول حرام دي، برابره خبره ده فرض یا واجب لمونځ وي او یا هم نفلي او سنت لمونځ وي او یا سجده تلاوت او یا هم سجده د شکر وي خو د لمانځه د قضایي په راوړلو مکلفه نده ځکه چې د حیض او نفاس په موده کې په ښځه باندې لمونځ نه واجبیږي نو ځکه یې قضاء هم نشته.

۲ – حرمة الصوم:

د حیض او نفاس په زمانه کې به ښځه روژه نه نیسي خو بیا به یې وروسته قضایي راوړي ځکه د لمانځه په شان دېرمتکرر عبادت نه دی چې قضاء راوړل یې ګران شي بلکې په کال کې یو ځل دی قضاء راوړل یې اسانه دي.

۳–حرمة قرائت القرآن:

په حائضه او نفاسه ښځه باندې د حیض او نفاس پر مهال د قرآنکریم قرائت او لوستل حرام دي تر څو چې حیض او نفاس پای ته نه وي رسېدلی او غسل یې نه وي کړی قرآنکریم به نه لولي.

---

۱ - (وَأَمَّا) أَكْثَرُ النِّفَاسِ فَأَرْبَعُونَ يَوْمًا عِنْدَ أَصْحَابِنَا، وَعِنْدَ مَالِكٍ، وَالشَّافِعِيِّ سِتُّونَ يَوْمًا، وَلَا دَلِيلَ لَهُمَا سِوَى مَا حُكِيَ عَنْ الشَّعْبِيِّ أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ: سِتُّونَ يَوْمًا، وَلَا حُجَّةَ فِي قَوْلِ الشَّعْبِيِّ.

(وَلَنَا) مَا رُوِيَ عَنْ عَائِشَةَ، وَأُمِّ سَلَمَةَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُمْ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ «أَكْثَرُ النِّفَاسِ أَرْبَعُونَ يَوْمًا». بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (۱/ ۴۱).

وَإِنْ رَأَتْ الدَّمَ أَكْثَرَ مِنْ أَرْبَعِينَ يَوْمًا فَهِيَ مُسْتَحَاضَةٌ فِي الزِّيَادَةِ عَلَى الْأَرْبَعِينَ إذَا كَانَتْ مُبْتَدَأَةً فِي النِّفَاسِ، وَإِنْ كَانَتْ صَاحِبَةَ عَادَةٍ فَهِيَ مُسْتَحَاضَةٌ فِي الزِّيَادَةِ عَلَى أَيَّامِ عَادَتِهَا الْمَعْرُوفَةِ؛ لِأَنَّ الْأَرْبَعِينَ أَكْثَرُ مُدَّةِ النِّفَاسِ كَمَا أَنَّ الْعَشَرَةَ أَكْثَرُ مُدَّةِ الْحَيْضِ وَقَدْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «الْمُسْتَحَاضَةُ تَدَعُ الصَّلَاةَ فِي أَيَّامِ أَقْرَائِهَا» . المبسوط للسرخسي (۲/ ۱۴۱)

۲: وان زاد الدم على الاربعين فالاربعون في المبتدأة والمعروفة في المعتادة نفاس. الفتاوى الهندية، كتاب الطهارة، الفصل الثاني في النفاس، (۱/ ۳۷)، ط: دار الفكر.

۳: والاستحاضة دم نقص عن ثلاثة أيام أو زاد على عشرة في الحيض وعلى أربعين في النفاس، نور الايضاح، فصل في الأنجاس (ص: ۴۸)، ط: مكتبه رشيديه، قصه خواني–پشاور.

۴: واذا انقطع الدم لأكثر الحيض والنفاس حل الوطؤ بلا غسل ولا يحل ان انقطع لدونه لتمام عادتها الا أن تغتسل أو تيمم وتصلي أو تصير الصلاة دينا في ذمتها. نور الايضاح (ص: ۴۹)، ط: مكتبه رشيديه، قصه خواني پشاور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- حرمة مس المصحف: په حائضې او نفاسې ښځې د هغه څه مسح کول پرې حرام دي چې په هغه کې د قرآنکریم پوره آیت لیکل شوی وي همداسې د مصحف مسحه کول هم ورته حرام دي.

۵ - حرمة دخول المسجد: په حائضې او نفاسې ښځې باندې مسجد ته داخلېدل او په مسجد کې تېرېدل حرام دي مګر د اشد ضرورت پر مهال بیا جائز دي.

۶- حرمة الطواف:

په حائضې او نفاسې ښځې د حج پر مهال له کعبې نه ګرد چاپېره طواف کول حرام دي د حج نور ټول افعال به کوي خو طواف زیارت به تر طهارت او پاکوالي پورې ځنډوي.

۷- حرمة الجماع:

له حائضې او نفاسې ښځې سره جماع او کوروالی کول او له نا مه نه تر زنګنونو پورې له پرتوګ نه لاندې ګټه اخیستل حرام دي که په حراموالي علم لري جاهل او مکره نه وي او قصدا کوروالی وکوي سهوا او په هېره سره نه وي نو کبیره ګناه ده. (۱)

۸ - وجوب الغسل عند انقطاع الدم:

کله چې د حیض او نفاس وینې بندې او ختمې شي په ښځه باندې غسل کول واجب دي که داسې عذر موجود وي چې تیمم ورته روا کوي بیا دې تیمم وو هي کله چې عذر ختم شي بیا دې غسل وکړي. (۲)

**شپږم مبحث: استحاضة:**

**لومړی مطلب: د استحاضه تعریف:**

استحاضة په لغت کې: سیلان او بهېدلو ته ویل کېږي.(۳)

---

۱: ویمنع ..وقربان ما تحت ازار یعنی ما بین سرة ورکبة ولو بلا شهوة. رد المحتار على الدر المختار، كتاب الطهارة، باب الحيض، (۱/ ۴۸۶)، ط: دار الكتب العلمية، بيروت–لبنان.

۲ - الفقه الحنفي في ثوبه الجديد ص- ۱۰۹ - ۱۴۹ .

وقال السغناقي وغيره: أي أحكام الحيض اثنا عشر، وثمانية يشترك فيها الحيض والنفاس، وأربعة مختصة بالحيض دون النفاس.

أما الثمانية: فتترك الصلاة لا إلى قضاء، وتترك الصوم إلى قضاء، وحرمة الدخول في المسجد، وحرمة الطواف بالبيت، وحرمة قراءة القرآن، وحرمة مس المصحف، وحرمة جماعها، والثامن: وجوب الغسل عند انقطاع الحيض، وأما الأربعة الخصوصة: فانقضاء العدة والاستبراء والحكم ببلوغها والفصل بين طلاقي السنة والبدعة. فالسبعة الأولى تتعلق بروز الدم عندها وبالإحساس عند محمد، والثامن: وهو الحكم ببلوغها معلق، والأربعة الباقية: تتعلق بانقضائه وهو وجوب الاغتسال مع الثلاثة من الأربعة المخصوصة. البناية شرح الهداية (۱/ ۶۳۹).

(وَأَمَّا) حُكْمُ الْحَيْضِ وَالنِّفَاسِ فَمَنْعُ جَوَازِ الصَّلَاةِ، وَالصَّوْمِ، وَقِرَاءَةِ الْقُرْآنِ، وَمَسِّ الْمُصْحَفِ إلَّا بِغِلَافٍ، وَدُخُولِ الْمَسْجِدِ، وَالطَّوَافِ بِالْبَيْتِ لِمَا ذَكَرْنَا فِي الْجُنُبِ إلَّا أَنَّ الْجُنُبَ يَجُوزُ لَهُ أَدَاءُ الصَّوْمِ مَعَ الْجَنَابَةِ وَلَا يَجُوزُ لِلْحَائِضِ، وَالنُّفَسَاءِ لِأَنَّ الْحَيْضَ، وَالنِّفَاسَ أَغْلَظُ مِنْ الْحَدَثِ، أَوْ بِأَنَّ النَّصَّ غَيْرُ مَعْقُولِ الْمَعْنَى، وَهُوَ قَوْلُهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «تَقْعُدُ إحْدَاهُنَّ شَطْرَ عُمْرِهَا لَا تَصُومُ وَلَا تُصَلِّي» ، أَوْ ثَبَتَ مَعْلُولًا بِدَفْعِ الْحَرَجِ؛ لِأَنَّ دُرُورَ الدَّمِ يُضْعِفُهُنَّ مَعَ أَنَّهُنَّ خُلِقْنَ ضَعِيفَاتٍ فِي الْجِبِلَّةِ فَلَوْ كُلِّفْنَ بِالصَّوْمِ لَا يَقْدِرْنَ عَلَى الْقِيَامِ بِهِ إلَّا بِحَرَجٍ، وَهَذَا لَا يُوجَدُ فِي الْجَنَابَةِ، وَلِهَذَا الْجُنُبُ يَقْضِي الصَّلَاةَ، وَالصَّوْمَ، وَهُنَّ لَا يَقْضِينَ الصَّلَاةَ، لِأَنَّ الْحَيْضَ يَتَكَرَّرُ فِي كُلِّ شَهْرٍ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ إلَى الْعَشَرَةِ فَيَجْتَمِعُ عَلَيْهَا صَلَوَاتٌ كَثِيرَةٌ فَتُحْرَجُ فِي قَضَائِهَا وَلَا حَرَجَ فِي قَضَاءِ صِيَامِ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ أَوْ عَشَرَةِ أَيَّامٍ فِي السَّنَةِ، وَكَذَا يَحْرُمُ الْقُرْبَانُ فِي حَالَتَيْ الْحَيْضِ، وَالنِّفَاسِ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (۱/ ۴۴).

**عَن ابنِ عُمَر رَضِيَ اللهُ عَنهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ: شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ، وَإِقَامِ الصَّلَاةِ، وَإِيْتَاءِ الزَّكَاةِ، وَالحَجِّ، وَصَوْمِ رَمَضَانَ.** (۱)

ژباړه: له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي: اسلام په پنځو شيانو بناء دی، په دې خبره ګواهي ورکول چې له الله تعالی پرته هيڅ د عبادت وړ نشته او محمد ﷺ د هغه رسول دی او د لمونځ قايمول او د زکات ورکول او حج کول او د رمضان روژه نيول دي.

او همدارنګه په دې هکله د رسول الله ﷺ د معراج د واقعې مبارک حديث دی (په هغه کې دا هم دي)... رسول الله ﷺ فرمايي چې زه د خپل رب د دربار او د موسی عليه السلام تر منځ څو ځله تلم راتلم تر څو يې راته وفرمايل: ای محمد ﷺ دغه پنځه لمونځونه په شپه او ورځ کې په تاسو فرض دي چې هر لمونځ د لسو لمنځونو د ثواب سره برابر دی چې په ټوله کې بيرته ثواب د پنځوسو لمنځونو دی.

همدارنګه د عبادة بن الصامت رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايي: الله تعالی په بندګانو باندې پنځه لمونځونه فرض کړي، چا چې پوره ادا کړل او په حق کې يې سستي ونکړه نو د الله تعالی سره به يې يو عهد وي چې د هغه عهد له مخې به يې جنت ته داخل کړي، او که چيرې يې پوره ادا نه کړي نو له الله تعالی سره يې عهد نشته، د الله تعالی خوښه چې عذاب ورکوي او که يې جنت ته داخلوي. (۲)

---

۱ - .صحيح البخاري، كتاب الايمان، باب قول النبي صلى الله عليه وسلم بني الاسلام على خمس وهو قول وفعل ويزيد وينقص، وقال الله تعالى ليزدادوا ايمانا مع ايمانهم. (۱/ ۶۱-۶۲)، ط: مكتبه رحمانيه اقرأ سنتر، غزني سټريټ اردو بازار –لاهور

۲ - ...فَفَرَضَ عَلَيَّ خَمْسِيْنَ صَلَاةً فِيْ كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ، فَنَزَلْتُ إِلَى مُوْسَى، فَقَالَ: مَا فَرَضَ رَبُّكَ عَلَى أُمَّتِكَ؟ قُلْتُ: خَمْسِيْنَ صَلَاةً فِيْ كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ. قَالَ: اِرْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَسَلْهُ التَّخْفِيْفَ فَإِنَّ أُمَّتَكَ لَا تُطِيْقُ ذٰلِكَ فَإِنِّيْ بَلَوْتُ بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ وَخَبَرْتُهُمْ. قَالَ: فَرَجَعْتُ إِلَى رَبِّيْ، فَقُلْتُ: يَا رَبِّ! خَفِّفْ عَلَى أُمَّتِيْ. فَحَطَّ عَنِّيْ خَمْسًا، فَرَجَعْتُ إِلَى مُوْسَى، فَقُلْتُ: حَطَّ عَنِّيْ خَمْسًا قَالَ: إِنَّ أُمَّتَكَ لَا تُطِيْقُ ذٰلِكَ فَارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَسَلْهُ التَّخْفِيْفَ. قَالَ: فَلَمْ أَزَلْ أَرْجِعُ بَيْنَ رَبِّيْ وَبَيْنَ مُوْسَى حَتَّى قَالَ: يَا مُحَمَّدُ! إِنَّهُنَّ خَمْسُ صَلَوَاتٍ كُلَّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ لِكُلِّ صَلَاةٍ عَشْرٌ فَذٰلِكَ خَمْسُوْنَ صَلَاةً، مَنْ هَمَّ بِحَسَنَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا كُتِبَتْ لَهُ حَسَنَةٌ، فَإِنْ عَمِلَهَا كُتِبَتْ لَهُ عَشْرًا، وَمَنْ هَمَّ بِسَيِّئَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا لَمْ تُكْتَبْ لَهُ شَيْئًا، فَإِنْ عَمِلَهَا كُتِبَتْ لَهُ سَيِّئَةً وَاحِدَةً. قَالَ: فَنَزَلْتُ حَتَّى انْتَهَيْتُ إِلَى مُوْسَى فَأَخْبَرْتُهُ، فَقَالَ: اِرْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَسَلْهُ التَّخْفِيْفَ، فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: فَقُلْتُ: قَدْ رَجَعْتُ إِلَى رَبِّيْ حَتَّى اسْتَحْيَيْتُ مِنْهُ. مشكاة المصابيح باب فى المعراج الفصل الاول رقم الحديث ۵۸۶۳ (۲)، صحيح مسلم رقم ۲۵۹ (۱۶۲) بَابُ الْإِسْرَاءِ بِرَسُوْلِ اللهِ ﷺ إِلَى السَّمَاوَاتِ وَفَرْضِ الصَّلَوَاتِ، صحيح البخاري باب كيف فرضت الصلاة فى الاسراء رقم الحديث ۳۴۹.

و من السنة أحاديث كثيرة، منها قول عليه الصلاة والسلام في حديث الإسراء والمعراج: فلم أزل أرجع بين ربي تبارك و تعالى و بين موسى عليه السلام حتى قال: يا محمد انّهن خمس صلوات كل يوم و ليلة، لكل صلاة عشر، فذلك خمسون صلاة.. الفقه الحنفي في ثوبه الجديد، ج۱، ص ۱۴۲–۱۴۳، مكتبة الحقانية كانسي روډ كويټه

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: قَالَ اللهُ تَعَالَى: إِنِّيْ فَرَضْتُ عَلَى أُمَّتِكَ خَمْسَ صَلَوَاتٍ وَعَهِدْتُ عِنْدِيْ عَهْدًا أَنَّهُ مَنْ جَاءَ يُحَافِظُ عَلَيْهِنَّ لِوَقْتِهِنَّ أَدْخَلْتُهُ الْجَنَّةَ، وَمَنْ لَمْ يُحَافِظْ عَلَيْهِنَّ فَلَا عَهْدَ لَهُ عِنْدِيْ. سنن ابي داؤد كِتَاب الصَّلَاةِ بَابٌ فِي الْمُحَافَظَةِ عَلَى وَقْتِ الصَّلَوَاتِ رقم الحديث ۴۳۰، سنن ابن ماجه باب ماجاء في فرض الصلوات الخمس والمحافظة عليها رقم ۱۴۰۳، كنز العمال كتاب الصلاة الباب الاول في فضل الصلوة و وجوبها رقم ۱۸۸۷۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳- د امت په اجماع سره د لمانځه فرضیت:**

**همدا رنګه ټول امت د لمانځه په فرضیت اجماع کړې ده .(۱)**

**دویم مطلب: د لمانځه اهمیت:**

لمونځ د اسلام په ارکانو کې له کلمې څخه وروسته دوهم رکن دی (۲)، د ایمان څخه وروسته تر ټولو اعمالو نه غوره عمل دی (۳). له ناوړه اعمالو او ګناهونو څخه د ځان ژغورلو ذریعه ده (۴)، او الله تعالی ته د نزدې کېدو او جنت ته د داخلیدو ذریعه ده (۵).

د لمانځه اهمیت له دې نه هم معلومیږي چې رسول الله ﷺ د وفات کیدو په وخت کې په خصوصي طریقې سره د لمانځه د اهتمام وصیت کړی. (۶)

په قرانکریم کې د لمانځه د اهمیت په باره کې زیات شمېر آیتونه نازل شوي چې تقریباً شمېر یې له اتیاوو څخه هم زیاتیږي، او همدا رنګه یې په اهمیت کې زیات شمېر احادیث مبارکه هم روایت شوي. (۷)

لمونځ د اسلام له اساسي ارکانو څخه یو اهم رکن او قوي ستن ده (۱) او له ایمان څخه وروسته په ټولو عبادتونو کې غوره او بهتر عبادت دی. (۲)

---

۱ - اجماع الأمة؛ فان الأمة أجمعت على فرضية هذه الصلوات. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، كتاب الصلاة، بيان فرضية الصلاة، (۱/ ۲۵۵)، ط: مكتبه رشيديه، سركي روډ—كويټه.

۲ - قال الله تبارك و تعالي: ﴿الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ وَيُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ﴾ البقرة، آية ۳ .

عَنِ ابْنِ عُمَرَ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " بُنِيَ الإِسْلاَمُ عَلَى خَمْسٍ: شَهَادَةِ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، وَإِقَامِ الصَّلاَةِ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ، وَالحَجِّ، وَصَوْمِ رَمَضَانَ " صحيح البخاري (۱/ ۱۱) رقم الحديث ۸ بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «بُنِيَ الإِسْلاَمُ عَلَى خَمْسٍ».

عن ابن عمر رضي الله عنهما قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم بني الإسلام على خمس شهادة أن لا إله إلا الله وأن محمدا رسول الله وإقام الصلاة وإيتاء الزكاة والحج وصوم رمضان. صحيح البخاري، كتاب الايمان، باب قول النبي صلى الله عليه وسلم بني الاسلام على خمس (۱/ ۶۲۶۱)، ط: مكتبه رحمانيه اقرأ سنټر، غزني سټریټ اردو بازار—لاهور.

۳ - حَدَّثَنَا أَبُو مُصْعَبٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا مَالِكٌ؛ أَنَّهُ بَلَغَهُ، أَنَّ النبي صلى الله عليه وسلم قَالَ: اسْتَقِيمُوا وَلَنْ تُحْصُوا، وَاعْمَلُوا، وَخَيْرُ أَعْمَالِكُمُ الصَّلاَةُ ، وَلن يُحَافِظُ عَلَى الْوُضُوءِ إِلاّ مُؤْمِنٌ. مؤطا امام مالك رواية أبي مصعب الزهري (۱/ ۳۷).

۴ - قال الله تعالى: ﴿ اُتْلُ مَا أُوحِيَ إِلَيْكَ مِنَ الْكِتَابِ وَأَقِمِ الصَّلَاةَ إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ وَلَذِكْرُ اللَّهِ أَكْبَرُ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا تَصْنَعُونَ﴾ سورة العنكبوت، آية (۴۵).

۵ - عن أبي هريرة رضي الله عنه أن رسول الله ﷺ قَالَ : أقرب ما يكون العَبْدُ مِن رَبِّهِ وَهُوَ سَاجِدٌ، فَأَكْثِرُوا الدُّعَاء. رَوَاهُ مُسْلِمٌ. ج ۱ ص ۳۵۰ - رقم الحديث ۴۸۲ - باب مايقال في الركوع والسجود. رياض الصالحين، ح ۴۹۲ كتاب الدعوات مكتب البشرى كراتشي

۶ - عن علي رضي الله عنه قال كان آخر كلام رسول الله صلى الله عليه و سلم الصلاة الصلاة اتقوا الله فيما ملكت أيمانكم . صحيح وهذا إسناد حسن. مسند أحمد بن حنبل (۱/ ۷۸)، المأخوذ من المكتبة الشاملة.

عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَتْ عَامَّةُ وَصِيَّةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ حَضَرَهُ الْمَوْتُ: « الصَّلَاةَ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ الصَّلَاةَ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ» . حَتَّى جَعَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُغَرْغِرُ بِهَا صَدْرُهُ، وَمَا يَكَادُ يُفِيضُ بِهَا لِسَانُهُ. مسند احمد ج۱۹ ص ۲۰۹ رقم الحديث ۱۲۱۶۹ مُسْنَدُ الْمُكْثِرِينَ مِنَ الصَّحَابَةِ مُسْنَدُ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُ . الفقه الحنفي في ثوبه الجديد، ۱۷۰—۱۷۲، مكتبة حقانية كانسي روډ كويټه.

۷ - و مما يدل على أهمية الصلاة في الإسلام كثرة الآيات القرآنية التي أمرت بالصلاة و حثت عليها، حتى زادت على ثمانين آية، و كثرة الأحاديث النبوية الشريفة في موضوع الصلاة. الفقه الحنفي في ثوبه الجديد، ۱۷۰—۱۷۲، مكتبة حقانية كانسي روډ كويټه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د مسلمان او کفر ترمنځ فرق لمونځ دی.(۳)

د قيامت په ورځ د بنده سره چې حساب کيږي نو په اعمالو کې به لومړی د لمانځه پوښتنه ورڅخه کېږي، که چيرې لمونځ يې سم او پوره ؤ نو دی کامياب او بريالی شو، او که چيرې لمونځ يې ناقص او نيمګړی ؤ نو دی تاواني دی. رسول الله ﷺ فرمايي که چيرې په فرض لمانځه کې څه کموالی وي نو الله تعالی به ووايي اوګورئ چې زما د بنده لپاره څه نوافل شته ؟ (که د نفلو څخه څه وي نو ) د فرائضو کموالی به پرې پوره شي. بيا به يې نور عملونه په همدې ترتيب سره وي . (۴)

په مؤطا امام مالک او مشکوة شريف کې دا روايت نقل دی چې : حضرت عمر رضي الله عنه په خپل دور خلافت کې خپلو ټولو عاملانو ته دا فرمان ليکلی ؤ :

{إِنَّ أَهَمَّ أَمْرِكُمْ عِنْدِيْ الصَّلاَةُ ، فَمَنْ حَفِظَهَا وَحَافَظَ عَلَيْهَا حَفِظَ دِيْنَهُ ، وَمَنْ ضَيَّعَهَا فَهُوَ لِمَاسِوَاهَا أَضْيَعُ } . (۵)

بيشکه ستاسو په ټولو کارونو کې زما په نزد ډير اهم کار لمونځ دی، چا چې ددې حفاظت وکړو او هميشه يې ادا کولو نو ده د خپل دين حفاظت وکړ، او چا چې لمونځ ضايع کړ نو دی د دين د نورو امورو لپاره هم ډير ضايع کوونکی دی .

---

۱ عن ابن عمر رضي الله عنهما ، قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الدين خمس لا يقبل الله منهن شيئاً دون شيء، شهادة أن لا إله إلا الله وأن محمدا عبده ورسوله، وإيمان بالله وملائكته وكتبه ورسله والجنة والنار، والحياة بعد الموت هذه واحدة، والصلوات الخمس عمود الإسلام لا يقبل الإيمان إلا بالصلاة. حلية الأولياء لأبي نعيم الأصبهاني (٦/ ١٩) المأخوذ من المكتبة الشاملة.

الصلاة ركن أساسي من أركان الإسلام الكبرى، قال عليه الصلاة والسلام: بني الإسلام على خمسة على أن يُوحد الله، وإقام الصلاة، وإيتاء الزكاة، وصيام رمضان والحج. و الصلاة هي عمود الإسلام و قوامه و دعامته، قال عليه الصلاة والسلام: رأس الأمر الإسلام، و عموده الصلاة، وذروة سنامه الجهاد، وهي عنوان الإيمان. و الفقه الحنفي في ثوبه الجديد، جلد -١- ص ١٧٠ — ١٧٢، مكتبة حقانية كانسي روډ کويټه جلد دې ورسره و ليکل شي

٢ - قال الوليد بن العيزار أخبرني قال سمعت أبا عمرو الشيباني يقول حدثنا صاحب هذه الدار وأشار إلى دار عبد الله قال سألت النبي صلى الله عليه وسلم أي العمل أحب إلى الله قال الصلاة على وقتها قال ثم أي قال ثم بر الوالدين قال ثم أي قال الجهاد في سبيل الله قال حدثني بهن ولو استزدته لزادني. صحيح البخاري، كتاب مواقيت الصلاة، باب فضل الصلاة لوقتها، (١/ ١٣٢)، ط: مكتبه رحمانيه، اقرأ سنتر، غزني ستريټ—اردو بازار لاهور.

٣ - فعن جابر أن رسول الله ﷺ قال: إن بين الرجل وبين الشرك والكفر ترك الصلاة. شرعها الله سبحانه لتكون معراجاً روحياً، يعرج فيه المؤمن إلى ربه، فيذكره و يدعوه و يناجيه، قال تعالى: ﴿إِنَّنِي أَنَا اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدْنِي وَأَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي﴾. الفقه الحنفي في ثوبه الجديد جلد١، ١٧٠—١٧٢، مكتبة حقانية كانسي روډ كويټه.

٤ - عن أبي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قال: قَالَ رسولُ اللهِ ﷺ: إِنَّ أَوَّلَ مَا يُحَاسَبُ بِهِ العَبْدُ يَوْمَ القِيَامَةِ مِنْ عَمَلِهِ صَلاتُهُ، فَإِنْ صَلَحَتْ، فَقَدْ أَفْلَحَ وَ أَنجَحَ، وَ إِنْ فَسَدَتْ، فَقَدْ خَابَ وَ خَسِرَ، فَإِنِ انْتَقَصَ مِنْ فَرِيضَتِهِ شَيْئاً، قَالَ الرَّبُّ عَزَّ وَجَلَّ: انْظُرُوا هَلْ لِعَبْدِي مِنْ تَطَوُّع ؟ فَيُكَمِّلُ مِنها مَا انْتَقَصَ مِنَ الفَرِيضَةِ، ثُمَّ يَكون سَائِرُ أَعْمَالِهِ عَلَى هَذا. رَوَاهُ الترمذي. سنن الترمذي، كتاب الصلاة، باب ما جاء أن أول ما يحاسب به العبد يوم القيامة الصلاة، (١/ ٢١٠)، ط: الطاف اينډ سنز، كراتشي—باكستان، للنشر والتوزيع. الصالحين، باب في الأمر بالمحافظة على الصلوات... ص ٣٨٢، مكتبة البشرى .

٥ - موطأ امام مالک بَابُ وُقُوتِ الصَّلَاةِ رقم الحديث ٦ ، مشكاة المصابيح كتاب الصلوة باب مواقيت الصلوة الفصل الثالث رقم الحديث ٥٨٥ (٥) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور او پلار باید چې د خپل اولاد په ټولو امورو کې لومړیتوب د هغه د دین زده کړې ته ورکړي، د لمانځه د پابندۍ خیال یې وساتي ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: چې خپلو اولادونو ته مو په اووه کلنۍ کې د لمانځه اداء کولو امر وکړئ او په لس کلنۍ کې یې د لمانځه په نه کولو ووهۍ او یو تر بله یې بسترې سره جلا کړئ. (۱)

**لومړۍ فرعه: په لمانځه کې د خشوع اهمیت:**

لمونځ باید په خشوع او عاجزۍ سره ادا کړل شي. (۲)

په قران کریم او احادیثو کې په خشوع سره د لمونځ کولو ترغیب راغلی:

الله جَلَّجَلَالُهُ فرمایلي: ﴿ وَقُومُوا لِلَّهِ قَٰنِتِينَ ﴾. (۳) ژباړه: او دریږئ تاسې! الله ته وېرېدونکي (په ادب سره).

د "قانت" معنی داده چې انسان په سکون او عاجزۍ سره د الله جَلَّجَلَالُهُ په وړاندې ودریږي. (۴)

الله تعالی فرمایي:

﴿قَدۡ أَفۡلَحَ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ۝١ ٱلَّذِينَ هُمۡ فِي صَلَاتِهِمۡ خَٰشِعُونَ ۝٢﴾. (۵)

ترجمه: په تحقیق بریالي (بهرمن کامیاب) شوي دي مؤمنان هغه (مؤمنان) چې دوي په لمونځونو خپلو کې عاجزي کوونکي وېرېدونکي دي (له الله نه).

کوم کس چې په لمانځه کې یو طرف او بل طرف ګوري او د زړه نه الله جَلَّجَلَالُهُ طرف ته متوجّه نه وي نو الله جَلَّجَلَالُهُ هم د ده طرف ته توجّه نه کوي.

۱. د ابوداؤد شریف حدیث دی، رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

{لَا يَزَالُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ مُقْبِلًا عَلَى الْعَبْدِ، وَهُوَ فِيْ صَلَاتِهِ، مَا لَمْ يَلْتَفِتْ، فَإِذَا الْتَفَتَ انْصَرَفَ عَنْهُ}. (۶)

---

۱ - عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مُرُوا أَوْلَادَكُمْ بِالصَّلَاةِ وَهُمْ أَبْنَاءُ سَبْعِ سِنِينَ، وَاضْرِبُوهُمْ عَلَيْهَا، وَهُمْ أَبْنَاءُ عَشْرٍ وَفَرِّقُوا بَيْنَهُمْ فِي الْمَضَاجِعِ. سنن ابي داود للسجستاني، كتاب الصلاة، باب متى يؤمر الغلام بالصلاة، (۱/۹۶)، ط: مكتبه رحمانيه.

وقد أمرنا أن نأمر أولادنا بالصلاة إذا بلغوا السابعة، و نحملهم عليها بالضرب إذا بلغوا العاشرة، قال عليه الصلاة والسلام: مروا أولادكم بالصلاة وهم أبناء سبع سنين واضربوهم عليها وهم أبناء عشر، و فرقوا بينهم في المضاجع. الفقه الحنفي في ثوبه الجديد جلد ۱، ۱۷۰ – ۱۷۲، مكتبة حقانية كانسي روډ كويټه

۲ - ... بهذا علم أن ترك الخشوع لا يخل بالصحة بل بالكمال. حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح ج۱ ص ۳۶۱ باب فيما لا يفسد الصلاة (يَنْبَغِي) لِلْمُصَلِّي (الْخُشُوعُ فِي الصَّلَاةِ) لِقَوْلِهِ تَعَالَى {قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ} [المؤمنون:] {الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ} [المؤمنون: ۲]. مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر ج۱ ص ۹۱ بَابُ صِفَةِ الصَّلَاةِ فَصْلٌ صِفَةِ الشُّرُوعِ فِي الصَّلَاة

۳ - سورة البقرة آية ۲۳۸ .

۴ - ويروى عَنْ مُجَاهِدٍ رحمه الله ﴿ وَقُومُوا لِلَّهِ قَٰنِتِينَ ﴾ قَالَ: فَمِنَ الْقُنُوتِ الرُّكُودُ وَالْخُشُوعُ، وَغَضُّ الْبَصَرِ، وَخَفْضُ الْجَنَاحِ مِنْ رَهْبَةِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ. تعظيم قدر الصلاة لمحمد بن نصر المروزي ۱/۱۸۸ رقم ۱۳۸ آيَةٌ فِي تَرْكِ الِالْتِفَاتِ.

۵ - المؤمنون آية ۱، ۲.

۶ - سنن ابي داؤد كتاب الصلاة بَابُ الِالْتِفَاتِ فِي الصَّلَاةِ رقم الحديث ۹۰۹، سنن النسائي كتاب السهو باب التشديد فى الالتفات فى الصلاة رقم ۱۱۹۶، و اخرجه ايضا فى الكبرى برقم ۵۳۲، و احمد فى المسند برقم ۲۱۵۰۸، وابن خزيمه برقم ۴۸۲، والحاكم ۱/۲۳۶، والبيهقي ۲/۲۸۲، صحيح الترغيب والترهيب ۱/۳۶۰، الخشوع فى الصلاة في ضوء الكتاب والسنّة ص ۴۳.

وفي رواية: قال رسولُ الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ أَمَرَكُمْ بِالصَّلَاةِ فَإِذَا صَلَّيْتُمْ فَلَا تَلْتَفِتُوا فَإِنَّ اللهَ يَنْصِبُ وَجْهَهُ لِوَجْهِ عَبْدِهِ فِيْ صَلَاتِهِ مَا لَمْ يَلْتَفِتْ. سنن الترمذي أَبْوَابُ الْأَمْثَالِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي مَثَلِ الصَّلَاةِ وَالصِّيَامِ وَالصَّدَقَةِ رقم الحديث، مسند احمد ۲۸/۴۰۵ رقم الحديث

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: چې کله یو کس په لمانځه کې وي نو الله جَلّجَلَالُهُ تر هاغه وخته پورې مسلسل ده طرف ته متوجّه وي ( د رحمت په نظر ورته ګوري ) تر څو پورې چې ده په لمانځه کې یو طرف او بل طرف نه وي کتلي ، پس کله چې بنده یو طرف او بل طرف اُوګوري نو الله جَلّجَلَالُهُ هم د هغه نه توجه واړوي ( د رحمت نظر ورنه قطع او ثواب یې کم شي ) . (۱)

کوم کس چې په داسې طریقې سره لمونځ وکړي چې ددې د شرائطو ،آدابو او خشوع لحاظ وساتي نو په دې سره دده مخکیني ټول واړه ګناهونه معاف کیږي .

د مسلم شریف حدیث دی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

{مَا مِنَ امْرِئٍ مُسْلِمٍ تَحْضُرُهُ صَلَاةٌ مَكْتُوبَةٌ فَيُحْسِنُ وُضُوءَهَا وَخُشُوعَهَا وَرُكُوعَهَا ، إِلَّا كَانَتْ كَفَّارَةً لِمَا قَبْلَهَا مِنَ الذُّنُوبِ مَا لَمْ يُؤْتِ كَبِيرَةً ، وَذَلِكَ الدَّهْرَ كُلَّهُ .} (۲)

ژباړه: په کوم مسلمان چې د فرض لمانځه وخت راشي ، او دی ددې د پاره په ښې طریقې سره اُودس اوکړي ، په خشوع سره لمونځ اوکړي، او ښې طریقې سره رکوع اوکړي نو دا لمونځ به دده لپاره د مخکیني ګناهونو کفاره شي خو چې تر څو پورې یې کبیره ګناه نه وي کړې ، او په لمانځه سره د ګناهونو د مغفرت دا سعادت به انسان ته ټول عمر حاصل وي .

**دویمه فرعه: د لمانځه فضائل:**

په قرآن کریم او احادیثو کې د لمانځه ډیر فضائل ذکر شوي ، یو څو په کې دادي :

۱ . د لمانځه په وجه انسان د بې حیایۍ او بدو کارونو نه منع کیږي . (۳)

۲ . د لمونځ کولو په وجه انسان د الله جَلّجَلَالُهُ د رحمت مستحق ګرځي . (۴)

۳ . د لمانځه په وجه انسان د ګناهونو نه پاکیږي:

د بخاري شریف او مسلم شریف حدیث دی ، حضرت ابوهریرة رضي الله عنه فرمایي چې یوه ورځ رسولُ الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو ته وفرمایل :

{عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "أَرَأَيْتُمْ لَوْ أَنَّ نَهَرًا بِبَابِ أَحَدِكُمْ يَغْتَسِلُ فِيهِ كُلَّ يَوْمٍ خَمْسًا ، مَا تَقُولُ: ذَلِكَ يُبْقِي مِنْ دَرَنِهِ؟" قَالُوا: لَا يُبْقِي مِنْ دَرَنِهِ شَيْئًا } . (۵)

ژباړه: له ابو هریرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روایت دی هغه وایي ما له رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوریدلي چې فرمایل به یې: دا راته ووایئ که چیرته په تاسو کې د یو چا د دروازې مخې ته یو نهر وي ، او دی په هغه کې د ورځې پنځه پیرې لامبي نو ته څه وایې چې دغه لامبل به د ده په بدن باندې څه خیرې پریږدي . ؟ هغوی وویل: د هغه په بدن به هېڅ خیرې پرې نږدي.

صحابه کرامو ورته وویل:دده په بدن به هیڅ خېرې پاتې نشي ، نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:

«فَذَلِكَ مِثْلُ الصَّلَوَاتِ الخَمْسِ، يَمْحُو اللَّهُ بِهِ الخَطَايَا».

---

۱۷۱۷۰ ، و ۲۹ /۳۳۵ رقم الحدیث ۱۷۸۰۰ ، صحیح ابن خزیمة رقم ۱۸۹۵ ، و صححه الالباني في صحیح سنن الترمذي ۳ / ۱۴۴ ، وصححه محققوا المسند ۲۸ /۴۰۶ ، الخشوع فی الصلاة في ضوء الکتاب والسنّة ص ۴۳ .

۱ - "لَا يَزَالُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ مُقْبِلًا عَلَى الْعَبْدِ". أَيْ: نَاظِرًا إِلَيْهِ بِالرَّحْمَةِ وَإِعْطَاءِ الْمَثُوبَةِ ("وَهُوَ فِي صَلَاتِهِ") : وَالْمَعْنَى لَمْ يَنْقَطِعْ أَثَرُ الرَّحْمَةِ عَنْهُ ("مَا لَمْ يَلْتَفِتْ") ، أَيْ: بِالْعُنُقِ ("فَإِذَا الْتَفَتَ انْصَرَفَ عَنْهُ") ، أَيْ: أَعْرَضَ عَنْهُ. قَالَ ابْنُ الْمَلَكِ: الْمُرَادُ مِنْهُ قِلَّةُ الثَّوَابِ. مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المصابیح ج۲ ص ۷۸۸.

۲ - صحیح مسلم رقم ۷ ( ۲۲۸ ) ، مشکوة المصابیح کتاب الطهارة الفصل الاول رقم الحدیث ۲۸۶ ( ٦ ) .

۳ - ﴿ اُتْلُ مَآ اُوْحِيَ اِلَيْكَ مِنَ الْكِتٰبِ وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ ۭ اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَاۗءِ وَالْمُنْكَرِ ﴾. سورة العنکبوت آیة ۴۵ .

۴ - ﴿ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴾سورة النور آیة ۵٦ .

۵ - صحیح البخاري ۱ - ۱۱۲ - باب: الصلواة الخمس کفارة.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: نو دا د پنځو لمنځونو مثال دی چې په دې سره الله تعالی ګناهونه ختموي . (۱)

د مشکوة شریف حدیث دی ، حضرت ابوذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې یوه ورځ نبي کریم صلی الله علیه وسلم د ژمي په موسم کې بهر تشریف راوړلو ، د ( خزان په وجه د ) ونو پاڼې په خپله راغورځیدې ، رسولُ الله صلی الله علیه وسلم د یوې ونې دوه څانګې ونیولې (او وې خوځولې) ، راوي وایي چې (په دې نیولو او خوځولو سره یو دم) د اُونې نه پاڼې رااُوغورځیدی ، پیغمبر علیه السلام ( ماته ) وفرمایل :

يَا أَبَا ذَرٍّ ! اې ابوذره ! ما ورته وویل : لَبَّيْكَ يَا رَسُوْلَ اللهِ . ای د الله رسوله ! حاضریم .

نبي علیه السلام وفرمایل :

{......إِنَّ الْعَبْدَ الْمُسْلِمَ لَيُصَلِّي الصَّلَاةَ يُرِيْدُ بِهَا وَجْهَ اللهِ ، فَتَهَافَت عَنْهُ ذُنُوْبُهُ كَمَا يَتَهَافَتُ هٰذَا الْوَرَقُ عَنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ }.

ژباړه: چې کله یو مسلمان بنده یوازې د الله جَلَّجَلَالُهُ د رضا د پاره مونځ اوکړي نو دده نه ګناهونه داسې رژیږي لکه څرنګه چې ددې ونې پاڼې رژیږي . (۲)

په یو بل حدیث کې راغلي دي ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

پنځه لمونځونه الله تعالی فرض کړي دي ، څوک چې په ښې طریقې سره ددې لپاره اودس وکړي چې لمونځ په خپل وخت ادا کړي ، دهغه رکوع په سمه توګه ادا کړي ، او لمونځ په خشوع ( د زړه په حضور ) سره وکوي ، نو د داسې کس لپاره دالله جَلَّجَلَالُهُ وعده ده چې ده ته به ښښنه کوي ( د ده ټول صغیره ګناهونه به معاف کوي ) ، او چا چې داسې و نکړل ( په ذکر شوي طریقې سره یې لمونځ ونکړ ، یا یې بالکل لمونځ ونکړ ) نو دداسې کس سره د الله جَلَّجَلَالُهُ هیڅ وعده نشته ، که د الله جَلَّجَلَالُهُ خوښه شي ښښنه به ورته وکړي ، او که خوښه یې شي عذاب به ورکړي . (۳)

۴ . لمونځ د هرې پریشانۍ څخه د خلاصون لاره ده . (۴)

۵ . لمونځ کولو سره انسان ته د الله تعالی مرسته حاصلیږي . (۵)

۶ . لمونځ کوونکی به په آخرت کې د خوف او حزن نه په امن وي . (۶)

۷ . د لمونځ په کولو سره انسان د جنت مستحق ګرځي . (۱)

---

۱ - عَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ زَمَنَ الشِّتَاءِ وَالْوَرَقُ يَتَهَافَتُ ، فَأَخَذَ بِغُصْنَيْنِ مِنْ شَجَرَةٍ قَالَ: فَجَعَلَ ذٰلِكَ الْوَرَقُ يَتَهَافَتُ ، قَالَ : فَقَالَ: « يَا أَبَا ذَرٍّ ! » قُلْتُ : لَبَّيْكَ يَا رَسُوْلَ اللهِ . قَالَ : « إِنَّ الْعَبْدَ الْمُسْلِمَ لَيُصَلِّي الصَّلَاةَ يُرِيْدُ بِهَا وَجْهَ اللهِ ، فَتَهَافَت عَنْهُ ذُنُوْبُهُ كَمَا يَتَهَافَتُ هٰذَا الْوَرَقُ عَنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ » . مشكاة المصابيح كتاب الصلاة الفصل الثالث رقم الحديث ۵۷۶ (۱۳) ، مسند احمد حَدِيثُ أَبِي ذَرٍّ الْغِفَارِيِّ رقم الحديث ۲۱۵۵۶ ، الترغيب والترهيب ۱ /۲۴۸ .

۲ - عَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ زَمَنَ الشِّتَاءِ وَالْوَرَقُ يَتَهَافَتُ ، فَأَخَذَ بِغُصْنَيْنِ مِنْ شَجَرَةٍ قَالَ: فَجَعَلَ ذٰلِكَ الْوَرَقُ يَتَهَافَتُ ، قَالَ : فَقَالَ: « يَا أَبَا ذَرٍّ ! » قُلْتُ : لَبَّيْكَ يَا رَسُوْلَ اللهِ . قَالَ : « إِنَّ الْعَبْدَ الْمُسْلِمَ لَيُصَلِّي الصَّلَاةَ يُرِيْدُ بِهَا وَجْهَ اللهِ ، فَتَهَافَت عَنْهُ ذُنُوْبُهُ كَمَا يَتَهَافَتُ هٰذَا الْوَرَقُ عَنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ » . مشكاة المصابيح كتاب الصلاة الفصل الثالث رقم الحديث ۵۷۶ (۱۳) ، مسند احمد حَدِيثُ أَبِي ذَرٍّ الْغِفَارِيِّ رقم الحديث ۲۱۵۵۶ ، الترغيب والترهيب ۱ /۲۴۸ .

۳ - عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « خَمْسُ صَلَوَاتٍ اِفْتَرَضَهُنَّ اللهُ تَعَالٰى ، مَنْ أَحْسَنَ وُضُوْءَهُنَّ وَصَلَّاهُنَّ لِوَقْتِهِنَّ وَأَتَمَّ رُكُوْعَهُنَّ وَخُشُوْعَهُنَّ كَانَ لَهُ عَلَى اللهِ عَهْدٌ أَنْ يَغْفِرَ لَهُ ، وَمَنْ لَمْ يَفْعَلْ فَلَيْسَ لَهُ عَلَى اللهِ عَهْدٌ ، إِنْ شَاءَ غَفَرَ لَهُ وَ إِنْ شَاءَ عَذَّبَهُ . سنن ابي داؤد كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابٌ فِي الْمُحَافَظَةِ عَلَى وَقْتِ الصَّلَوَاتِ رقم الحديث ۴۲۵ ، مشكاة المصابيح كتاب الصلاة الفصل الثاني رقم الحديث ۵۷۰ (۷) ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۳۱۶۶ و رقم ۶۵۰۰ ، شرح السنّة للبغوي رقم ۹۷۸ ، سنن ابن ماجه رقم ۲۴۰۱ ، و رواه احمد في مسنده ۵ /۳۱۷ ، ۳۲۲ .

۴ - عَنْ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا حَزَبَهُ أَمْرٌ صَلّٰى . سنن ابي داؤد أَبْوَابُ قِيَامِ اللَّيْلِ بَابُ وَقْتِ قِيَامِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ اللَّيْلِ رقم الحديث ۱۳۱۹ ، مسند احمد ۳۸ /۳۳۰ رقم الحديث ۲۳۲۹۹ ، شعب الايمان رقم الحديث ۲۹۱۲

۵ - وَاسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ ۚ وَاِنَّهَا لَكَبِيْرَةٌ اِلَّا عَلَى الْخٰشِعِيْنَ ﴿۴۵﴾ . سورة البقرة .

۶ - ﴿اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ لَهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴾ سورة البقرة آية ۲۷۷ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸ . د لمونځ په کولو سره انسان د دوزخ نه محفوظ کیږي . (۲)

۹ . په لمونځ کولو سره انسان ته په جنت کې د الله جَلَّ جَلَالُهُ لیدل په برخه کیږي . (۳)

۱۰ . لمونځ د راحت او خوشحالۍ ذریعه ده ځکه چې الله تعالی نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته فرمایي: کله چې د کفارو د خبرو او تمسخر نه دې زړه په تنګ شي نو د الله تعالی تسبیح او حمد ووایه او همېشه د هغه عبادت کوه . (۴)

**دریم مطلب: د لمانځه د پرېښودلو ګناه او سزا:**

دا چې په قرآن کریم او احادیثو مبارکه وو کې د لمانځه د اداء کولو په اړه ډېر زیات فضیلتونه راغلي دي، همداسې یې د پرېښودلو اړوند بېلابېلې سزاګانې او وعیدونه هم بیان شوي دي، چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

الله تعالی فرمایي: ﴿ وَأَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ وَلَا تَكُونُوا مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴾ . (۵)

ژباړه: او قائموئ (سم دروئ سره له ټولو حقوقو) لمونځ او مه کیږئ تاسې له مشرکانو.

الله تعالی فرمایي: ﴿ وَإِذَا قَامُوا إِلَى الصَّلَوٰةِ قَامُوا كُسَالَىٰ يُرَاءُونَ النَّاسَ وَلَا يَذْكُرُونَ اللَّهَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿۱۴۲﴾ ﴾ . (۶)

ژباړه: او هر کله چې پاڅېږي دغه (منافقان) لمانځه ته نو پاڅېږي سست کاهلان ښيي دوی خلکو ته (ځان خپل چې مونږ مسلمانان یو) او نه یادوي دوی الله مګر (ریایي یادول) لږ.

مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله په خپل تفسیر بیان القرآن کې لیکلي دي، چې په دې آیت شریف کې د منافقانو اعتقادي سستي بیان شوې ده، یعنې دغه خلک لمونځ فرض نه ګڼي، او نه په کې د ثواب عقیده لري، نو ځکه لمانځه ته په سستۍ سره درېږي . (۷)

---

۱ - ﴿ وَالَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ ، أُولَٰئِكَ فِي جَنَّاتٍ مُكْرَمُونَ ﴾ سورة المعارج آية ۳۴ ، ۳۵ .

قَالَ سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيِّبِ: إِنَّ أَبَا قَتَادَةَ بْنَ رِبْعِيٍّ أَخْبَرَهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: إِنِّي فَرَضْتُ عَلَى أُمَّتِكَ خَمْسَ صَلَوَاتٍ وَعَهِدْتُ عِنْدِي عَهْدًا أَنَّهُ مَنْ جَاءَ يُحَافِظُ عَلَيْهِنَّ لِوَقْتِهِنَّ أَدْخَلْتُهُ الْجَنَّةَ ، وَمَنْ لَمْ يُحَافِظْ عَلَيْهِنَّ فَلَا عَهْدَ لَهُ عِنْدِي . سنن ابي داؤد كِتَاب الصَّلَاةِ بَابٌ فِي الْمُحَافَظَةِ عَلَى وَقْتِ الصَّلَوَاتِ رقم الحديث ۴۳۰ ، سنن ابن ماجه باب ماجاء في فرض الصلوات الخمس والمحافظة عليها رقم ۱۴۰۳ ، كنزالعمال كتاب الصلاة الباب الاول في فضل الصلوة و وجوبها رقم ۱۸۸۷۲ .

۲ - عَنِ ابْنِ أَبِي خَالِدٍ، وَمِسْعَرٍ، وَالْبَخْتَرِيِّ بْنِ الْمُخْتَارِ، سَمِعُوهُ مِنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عُمَارَةَ بْنِ رُؤَيْبَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: « لَنْ يَلِجَ النَّارَ أَحَدٌ صَلَّى قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ ، وَقَبْلَ غُرُوبِهَا » يَعْنِي الْفَجْرَ وَالْعَصْرَ . صحيح مسلم كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ فَضْلِ صَلَاتَيِ الصُّبْحِ وَالْعَصْرِ، وَالْمُحَافَظَةِ عَلَيْهِمَا رقم الحديث ۲۱۳ - (۶۳۴) ، مشكاة المصابيح باب فضائل الصلاة الفصل الاول رقم الحديث ۶۲۴ ( ۱ ) ، كنزالعمال رقم ۱۸۹۲۵ ، صحيح ابن حبان رقم ۱۷۴۰ ذِكرُ وصف البردين اللذين يُرجى دخول الجنة بالصلاة عندهما .

۳ - عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ : كُنَّا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ نَظَرَ إِلَى الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ ، فَقَالَ : « أَمَا إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ رَبَّكُمْ كَمَا تَرَوْنَ هَذَا ، لَا تُضَامُّونَ أَوْ لَا تُضَاهُونَ فِي رُؤْيَتِهِ فَإِنِ اسْتَطَعْتُمْ أَنْ لَا تُغْلَبُوا عَلَى صَلَاةٍ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا ، فَافْعَلُوا » ، ثُمَّ قَالَ : « وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا . سورة طه : ۱۳۰ » . صحيح البخاري بَابُ فَضْلِ صَلَاةِ الْفَجْرِ رقم الحديث ۵۷۳ . صحيح مسلم كِتَابُ الْمَسَاجِدِ وَمَوَاضِعِ الصَّلَاةِ بَابُ فَضْلِ صَلَاتَيِ الصُّبْحِ وَالْعَصْرِ، وَالْمُحَافَظَةِ عَلَيْهِمَا رقم الحديث ۲۱۱ ( ۶۳۳ ) ، السنن الكبرى للنسائي رقم ۴۶۰ فضل صلاة الفجر ، صحيح ابن حبان رقم ۷۴۴۳ .

۴ - كما أنها تزيح عن نفسه و قلبه الهموم و الأحزان، قال تعالى: ﴿وَلَقَد نعلم أَنَّكَ يَضِيقُ صَدْرُكَ بِمَا يَقُولُونَ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَكُن مِّنَ السَّاجِدِينَ﴾ . الفقه الحنفي في ثوبه الجديد، جلد ۱ - ۱۷۰ – ۱۷۲ ، مكتبة حقانية كانسي روډ كويټه

۵ - سورة الروم ، آية (۳۱).

۶ - سورة النساء ، آية (۱۴۲).

۷ - معارف القرآن ، (۲/۲۳۳) ، تاج مکتبه . د بیان القران په حواله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله تعالی فرمایلي دي: ﴿فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّينَ ۝ الَّذِينَ هُمْ عَن صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ ۝﴾ (۱)

ژباړه: پس هلاک کنده د دوزخ یاخرابي ده د لمونځ کوونکو هغه کسان چې دوی له لمانځه خپله غافله بې خبره وي (په خپلو اوقاتو او آدابو سره یې نه اداء کوي).

په پورتني آیت شریف کې د لمانځه څخه د غفلت کوونکو په هکله د هلاکت ذکر راغلی دی.

په تفسیر جلالین شریف کې د ساهون معنا په (غافلون یؤخرون عن وقتها) سره راغلی دی . (۲)

یعني هغه لمونځ کوونکي چې له لمانځه څخه غافله وي، او یا یې له خپل وخت وروسته اداء کوي، هغوی ته هلاکت دی.

له جابر رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: د مسلمان او کافر تر منځ فرق د لمانځه پرېښودل دي . (۳)

د بخاري شریف حدیث دی: سمره بن جندب رضي الله عنه فرمایي چې رسول الله ﷺ به اکثر له صحابه کرامو رضي الله عنهم نه دا پوښتنه کوله : آیا په تاسې کې چا خوب لیدلی ؟ که چا به خوب لیدلی ؤ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته به یې بیان کړ ، یو سهار یې وفرمایل : بیګا شپه ما خوب ولید چې دوه کسان راغلل، زه یې راپاڅولم، او ما ته یې وویل، چې مونږ سره راځه.

زه ورسره روان شوم، مونږ داسې یو کس ته راغلو، چې هغه پروت ؤ، او بل کس یې سر ته ولاړ ؤ، له دې ولاړ کس سره یوه غټه تیږه وه چې په دې غټې تیږې به یې دغه پروت کس پر سر ویشتلو، دده سر به یې ټوټه ټوټه کړ، دا کاڼی به ورغړېد، نو دغه ولاړ کس به په هغې تیږې پسې لاړ او را وابه یې خیستله، کله به چې هغه کس بېرته راتللو د ده سر به د مخکې په شان روغ شوی ؤ، بیا به ورته راګرځېدلو او د لومړي ځل په شان عمل به یې ورسره مسلسل کولو، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: ما دې دوو کسانو ته وویل: سبحان الله! دا دواړه څوک دي؟ دوی را ته وویل: مخکې لاړ شه، مخکې لاړ شه.... رسول الله ﷺ وفرمایل: ما دوی دواړو ته وویل: بېشکه ما نن شپه حیرانوونکي کارونه ولیدل دا څه شی وو چې ما ولیدل؟ رسول الله ﷺ وفرمایل :دوی دواړو راته وویل: مونږ به تا ته ژر د دې خبر درکړو ، هغه اول کس چې ته پرې راتېر شوې او سر به یې په تیږه باندې ټوټه ټوټه کېدلو دا هغه کس ؤ چې قرآنکریم به یې یادولو او بیا به یې هېرولو او له فرض لمانځه نه به ویده کېدلو. (۴)

---

۱ - سورة الماعون، آیة (۴، ۵)

۲ - تفسیر جلالین، (۲/ ۵۰۷)، سورة الماعون آیت: ۴.

۳ عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ بَيْنَ الْعَبْدِ وَبَيْنَ الْكُفْرِ تَرْكُ الصَّلَاةِ. سنن ابی داود للسجستاني، کتاب السنة، باب في رد الارجاء، (۲/ ۶۴۳)، مکتبه حقانیه

۴ - حَدَّثَنَا سَمُرَةُ بْنُ جُنْدُبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِمَّا يُكْثِرُ أَنْ يَقُولَ لِأَصْحَابِهِ: «هَلْ رَأَى أَحَدٌ مِنْكُمْ مِنْ رُؤْيَا» قَالَ: فَيَقُصُّ عَلَيْهِ مَنْ شَاءَ اللَّهُ أَنْ يَقُصَّ، وَإِنَّهُ قَالَ ذَاتَ غَدَاةٍ: «إِنَّهُ أَتَانِي اللَّيْلَةَ آتِيَانِ، وَإِنَّهُمَا ابْتَعَثَانِي، وَإِنَّهُمَا قَالاَ لِي انْطَلِقْ، وَإِنِّي انْطَلَقْتُ مَعَهُمَا، وَإِنَّا أَتَيْنَا عَلَى رَجُلٍ مُضْطَجِعٍ، وَإِذَا آخَرُ قَائِمٌ عَلَيْهِ بِصَخْرَةٍ، وَإِذَا هُوَ يَهْوِي بِالصَّخْرَةِ لِرَأْسِهِ فَيَثْلَغُ رَأْسَهُ، فَيَتَدَهْدَهُ الحَجَرُ هَا هُنَا، فَيَتْبَعُ الحَجَرَ فَيَأْخُذُهُ، فَلاَ يَرْجِعُ إِلَيْهِ حَتَّى يَصِحَّ رَأْسُهُ كَمَا كَانَ، ثُمَّ يَعُودُ عَلَيْهِ فَيَفْعَلُ بِهِ مِثْلَ مَا فَعَلَ المَرَّةَ الأُولَى» قَالَ: " قُلْتُ لَهُمَا: سُبْحَانَ اللَّهِ مَا هَذَانِ؟ " قَالَ: " قَالاَ لِي: انْطَلِقِ انْطَلِقْ "..... قَالَ: " قُلْتُ لَهُمَا: فَإِنِّي قَدْ رَأَيْتُ مُنْذُ اللَّيْلَةِ عَجَبًا، فَمَا هَذَا الَّذِي رَأَيْتُ؟ " قَالَ: " قَالاَ لِي: أَمَا إِنَّا سَنُخْبِرُكَ، أَمَّا الرَّجُلُ الأَوَّلُ الَّذِي أَتَيْتَ عَلَيْهِ يُثْلَغُ رَأْسُهُ بِالحَجَرِ، فَإِنَّهُ الرَّجُلُ يَأْخُذُ القُرْآنَ فَيَرْفُضُهُ وَيَنَامُ عَنِ الصَّلاَةِ المَكْتُوبَةِ، صحیح البخاري، کتاب التعبیر، باب تعبیر الرؤیا بعد صلاة الصبح، (۲/ ۱۰۴۳)، ط: قدیمي کتب خانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شلورم مطلب: د لمانځه له فرضیت نه د منکر حکم:**

هر څوک چې د لمانځه دفرضیت څخه منکر وي کافر بلل کیږي، ځکه چې لمونځ لکه څنګه چې مخکې ذکر شول په قطعي دلائلو سره ثابت دی. مګر که چیرته د سستي او غفلت له مخې یې پرېږدي نو بیا د علماوو رایې مختلفې دي، خو اکثر وایي چې په دې سره فاسق کیږي کافر کیږي نه، ځکه چې الله تعالی فرمایي:

﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَاءُ وَمَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا بَعِيدًا﴾.(۱)

ژباړه: بېشکه الله جَلَّجَلَالُهُ نه کوي مغفرت (نه بښي) دا چې شریک ونیول شي له ده سره او مغفرت کوي (بښي) هغه (ګناه) چې ښکته وي له دې (شرک او کفر نه) هغه چاته چې اراده وفرمایي (د مغفرت یې) او هر څوک چې شریک ونیسي (کوم شی) له الله سره نو په تحقیق ګمراه شوی دی په ګمراهۍ لرې (له حقه).

د سستۍ او کسالت له مخې د لمانځه نه کوونکي په اړه امام مالک او امام شافعي رحمهما الله دواړه فرمایي چې نوموړی کس به توبه وباسي او بیرته به لمونځ کولو ته راګرځي او که داسې ونه کړي نو بیا به وژل کیږي. بل طرف ته امام ابو حنیفه رحمه الله فرمایي چې داسې کس به په زندان کې بندي کیږي او وهل کیږي به تر څو لمونځ وکړي خو قتل کیږي به نه. او ځینې علماء کرامو رَحِمَهُمُاللَّهُ بیا په سستۍ سره لمونځ پرېښودونکي ته کافر ویلی دی، او په دلیل کې یې د عبدالله بن شقیق قول راوړی:

د رسول الله صَلَّىٰاللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ صحابه کرامو رضي الله عنهم به په اعمالو کې د هیڅ یو شي پرېښودل کفر نه ګڼلو مګرد لمونځ پرېښودل.

اګر که زمونږ په مذهب کې د لمانځه پرېښودونکي ته کافر نه دی ویل شوی خو دا ویره موجوده ده چې هسې نه داسې کس له دنیا څخه په سبب د دغه ناوړه عمل سره کافر لاړ شي. ځکه چې لمونځ خو د اسلام یو مهم رکن دی او د مسلمان لپاره د ګناهونو څخه د یوې کلا او زغرې په شان دی. نو کیدای شي الله تعالی ورڅخه یو داسې عمل صادر کړي چې په هغه سره دی له ایمان څخه ووځي او بیا یې په همغه حالت کې له دنیا څخه واخلي.(۲)

---

۱ - سورة النساء –۱۱۶ اية.

۲ - من ترك الصلاة منكراً لوجوبها فإنه يكفر، لثبوتها بالأدلة القطعية. وأما إذا تركها تكاسلاً مع اعتقاده وجوبها، فقد اختلف العلماء فيه، و مذهب الجمهور أنه لا يكفر، بل يحكم بفسقه و يستتاب، قال تعالى: ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ. وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَاءُ وَمَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا بَعِيدًا﴾. و اختلف أصحاب هذا القول في عقوبة تارك الصلاة كسلا، فذهب مالك والشافعي إلى أنه يستتاب حتى يصلي وإلا قتل حداً، واستدلوا بقوله تعالى: ﴿فَإِن تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُا الزَّكَوٰةَ فَخَلُّوا سَبِيلَهُمْ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾، و بقوله عليه الصلاة والسلام: أمرت أن أقاتل الناس حتى يشهدوا أن لا إله إلا الله وأن محمداً رسول الله، ويقيموا الصلاة ويؤتوا الزكاة، فإذا فعلوا عصموا مني دماءهم وأموالهم إلا بحقها، وحسابهم على الله، وذهب أبو حنيفة إلى أنه يعزر ويحبس حتى يصلي ولا يقتل، واستدل بحديث عبد الله بن مسعود رضي الله عنه أن رسول الله صَلَّىٰاللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ قال: «لا يحل دم امرئ مسلم يشهد أن لا إله إلا الله، وأني رسول الله، إلا بإحدى ثلاث : الشيب الزاني والنفس بالنفس والتارك لدينه المفارق للجماعة.و ذهب جماعة من الصحابة و العلماء إلى القول بكفر تارك الصلاة كسلا، و احتجوا بحديث جابر رضي الله عنه أن رسول الله صَلَّىٰاللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ قال: إن بين الرجل وبين الشرك والكفر ترك الصلاة. وعن بريدة رضي الله عنه أن رسول الله صَلَّىٰاللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ قال: «العهد الذي بيننا وبينهم الصلاة، فمن تركها فقد كفر. وعن عبد الله بن شقيق قال: كان أصحاب رسول الله صَلَّىٰاللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ لا يرون شيئاً من الأعمال تركه كفر إلا الصلاة. و تأول أصحاب القول الأول هذه الأحاديث، وحملوها على ترك الصلاة مع جحود مشروعيتها. و مع ذلك فإننا و لو قلنا بعدم كفر تارك الصلاة كسلا و تهاوناً، ولكن نقول: يخشى عليه خاتمة السوء و أن يموت على غير الإيمان: إذ الصلاة هي حصن العقيدة الحصين، ودرعها الأمين، فأنى لتارك الصلاة أن يثبت على الإيمان بوجه أعاصير الزيغ والتشكك و الإلحاد، وهو متجرد عن السلاح الرئيسي الذي يدفع به عن عقيدته، و يصون به إيمانه، ألا وهو الصلاة؟ وأنى له وقد

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبد الله بن عمرو رضی الله تعالی عنه د رسول الله ﷺ څخه روایت کوي چې یوه ورځ یې د لمانځه ذکر وکړو او ویې ویل چې چا د لمانځه پابندي وکړه نو دا به د ده لپاره د قیامت په ورځ نور، حجت او نجات وي او که یې په لمانځه پابندي ونکړه نو نه به د ده لپاره نور وي نه به حجت او نه به نجات وي او د قیامت په ورځ به یې د قارون، فرعون، هامان او ابی ابن خلف سره حشر وي.(۱)

محدثینو کرامو د دغو څلورو کسانو سره د حشر په مورد داسې فرمایلي: هغه کسان چې د مال او دولت له امله د لمانځه پابندي نه کوي د قارون سره به یې حشر کیږي، هغه کسان چې د پاچاهي له امله د لمانځه پابندي نه کوي د فرعون سره به یې حشر کیږي، هغه کسان چې د وزارت له امله د لمانځه پابندی نه کوي د هامان سره به یې حشر کیږي او هغه کسان چې د تجارت له امله د لمانځه پابندي نه کوي د ابی ابن خلف سره به یې حشر کیږي.(۲)

**پنځم مطلب: د لمانځه تفصیلي احکام:**

**په لمانځه کې څوارلس فرضونه دي ( اته بهر له لمانځه نه دي چې هغو ته شرطونه وایي او شپږ داخل په لمانځه کې دي چې هغو ته رکنونه وایي).**

**لومړی فرعه: د لمانځه شرطونه:**

**د لمانځه شرطونه اته(۸) دي:**

۱- اودس کول. ۲- د بدن پاکوالی. ۳- د جامو پاکوالی. ۴- د لمانځه د ځای پاکوالی. ۵- عورت پټول. ۶- قبلې ته مخ کول. ۷- د لمانځه د وختونو پېژندل. ۸- نیت کول.(۳)

**دویمه فرعه: د لمانځه ارکان:**

**په لمانځه کې شپږ (۶)فرایض (ارکان) دي:**

۱ - د لمانځه د شروع کولو تکبیر (تکبیر تحریمه). ۲- په ولاړه درېدل. ۳- قرائت ویل. ۴- رکوع کول. ۵- سجده کول. ۶- د تشهد په اندازه وروستی ناسته.(۱)

---

کان غافلاً عن ربه سبحانه في حیاته بإعراضه عن الصلاة، أن یذکره حینما ینزل به نازل الموت وسکراته. الفقه الحنفي في ثوبه الجدید، ج۱، ص ۱۷۳ –۱۷۴، مکتبة الحقانیة کانسي روډ کوټه:

۱ - - عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ: ذَكَرَ الصَّلَاةَ يَوْمًا فَقَالَ: «مَنْ حَافَظَ عَلَيْهَا؟ كَانَتْ لَهُ نُورًا، وَبُرْهَانًا، وَنَجَاةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَمَنْ لَمْ يُحَافِظْ عَلَيْهَا لَمْ يَكُنْ لَهُ نُورٌ، وَلَا بُرْهَانٌ، وَلَا نَجَاةٌ، وَكَانَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَعَ قَارُونَ، وَفِرْعَوْنَ، وَهَامَانَ، وَأُبَيِّ بْنِ خَلَفٍ». رواه احمد في مسنده.اسناده صحیح رقم الحدیث ۶۵۷۶ مسند عبد الله بن عمرو بن العاص.

۲ قَالَ بعض الْعلمَاء رَحِمهم الله وَإِنَّمَا يحْشر تَارِك الصَّلَاة مَعَ هَؤُلَاءِ الْأَرْبَعَة لِأَنَّهُ إِنَّمَا يشْتَغل عَن الصَّلَاة بِمَالِه أَو بِملكه أَو بوزارته أَو بتجارته فَإِن اشْتغل بِمَالِه حشر مَعَ قَارون وَإِن اشْتغل بِملكه حشر مَعَ فِرْعَوْن وَإِن اشْتغل بوزارته حشر مَعَ هامان وَإِن اشْتغل بتجارته حشر مَعَ أبي بن خلف تَاجر الْكفَّار بِمَكَّة وروى الإِمَام أَحْمد عَن معَاذ بن جبل رَضِي الله عَنهُ أَن رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم قَالَ من ترك صَلَاة مَكْتُوبَة مُتَعَمدا فقد بَرِئت مِنْهُ ذمَّة الله عز وَجل.الکبائر لشمس الدین الذهبي .الکبیرة الرابعة في ترک الصلوة.

۳ أما شرائط أركان الصلاة، فمنها: الطهارة بنوعيها، من الحقيقية والحكمية، والطهارة الحقيقية هي طهارة الثوب، والبدن، ومكان الصلاة عن النجاسة الحقيقية، والطهارة الحكمية هي طهارة أعضاء الوضوء عن الحدث، ...ومنها ستر العورة، ...ومنها استقبال القبلة،... ومنها الوقت لأن الوقت كما هو سبب لوجوب الصلاة، فهو شرط لأدائها، ...ومنها النية. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، کتاب الصلاة، (۱/ ۳۰۱-۳۲۹)، ط: رشيدیه، سرکي روډ –کوټه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**حکم:** که له چا څخه یو هم په قصد او یا په هېره سره پاتې شي لمونځ يې نه صحیح کېږي او بیرته به يې راګرځوي.(۲)

**دریمه فرعه: د لمانځه واجبات**

په لمانځه کې دوولس(۱۲) واجبات دي:

۱- د سورت فاتحې لوستل.

۲- د فرض لمانځه له دریم او څلورم رکعت څخه علاوه د نورو ټولو لمنځونو په هر رکعت کې تر سورت فاتحې وروسته یو اوږد یا درې لنډو آیاتونو لوستل.

۳- د فرضو لمنځونو لومړني دوه رکعتونه د قرائت لپاره تعیینول.

۴- په ترتیب سره د ارکانو ترسره کول.

۵- د ارکانو تعدیل یعني رکوع، سجده او نور ارکان په اطمینان سره ادا کول.

۶- لومړی قعده کول.

۷- په دواړو قعدو کې تشهد لوستل.

۸- د سلام لفظ ویل.

۹- په وترو کې دعای قنوت ویل.

۱۰- د اختر په لمنځونو کې شپږ زوائد تکبیرونه ویل.

۱۱- په جهري لمنځونو کې د امام لپاره په لوړ اواز قرائت ویل.

۱۲- په خفیه لمنځونو کې د امام لپاره خفیه قرائت ویل. (۳)

**د واجبو د پرېښودلو حکم:**

کله چې په لمانځه کې واجب په هېره پاتې شي نو سجده سهوه لازمیږي، او که په قصد سره پرېښودل شي نو ګناهګار شو، او د لمانځه راګرځول پرې واجب دي. (۱)

---

۱ - باب صفة الصلوات، "فرائض الصلاة ستة: التحريمة" لقوله تعالى: ﴿وربك فكبر﴾ سورة المدثر، آية (۳) والمراد تكبيرة الافتتاح "والقيام" لقوله تعالى: ﴿وقوموا لله قانتين﴾ سورة البقرة، آية (۲۳۸) "والقراءة" لقوله تعالى: ﴿فاقرأوا ما تيسر من القرآن﴾ سورة المزمل، آية (۲۰) والركوع والسجود لقوله تعالى: ﴿اركعوا واسجدوا﴾ سورة الحج، آية (۷۷) "والقعدة في آخر الصلاة مقدار التشهد" لقوله عليه الصلاة والسلام لابن مسعود رضي الله عنه حين علمه التشهد "إذا قلت هذا أو فعلت هذا فقد تمت صلاتك" علق التمام بالفعل قرأ أو لم يقرأ. لما في الهداية شرح البداية، كتاب الصلاة، باب صفة الصلوات، (۱/ ۹۲-۹۳)، ط: المكتبة الحقانية، پشاور – پاكستان.

البحر الرائق، كتاب الصلاة، باب صفة الصلاة، (۱/ ۵۰۵)، ط: مكتبه رشيديه، سركي روډ كويټه.

بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، كتاب الصلاة، (۱/ ۲۸۲)، ط: مكتبه فريديه سركي روډ – كويټه.

۲ - (من فرائضها) أي التي لا تصح بدونها، . صفة كاشفة اذ لا شئ من الفروض ما تصح الصلاة بدونه بلا عذر. رد المحتار على الدر المختار، كتاب الصلاة، (۱/ ۱۵۸)، ط: مكتبه سبحانيه، كانسي روډ – كويټه:

۳ - وواجبها قراءة الفاتحة، وضم سورة، وتعيين القراءة في الأوليين...ورعاية الترتيب...وتعديل الأركان، والقعود الأول، والتشهد، ولفظ السلام، وقنوت الوتر، وتكبيرات العيدين، والجهر والاسرار فيما يجهر ويسر. لما في البحر الرائق شرح كنز الدقائق، كتاب الصلاة، باب صفة الصلاة، (۱/ ۵۱۰ –۵۲۶)، ط: مكتبه رشيديه. سركي روډ كويټه. و هكذا في رد المحتار على الدر المختار، كتاب الصلاة، (۲/ ۱۸۱ ۲۰۴)، ط: المكتبة السبحانية، كانسي روډ – كويټه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلورمه فرعه: د لمانځه سنتونه**

**په لمانځه کې څلويښت(۴۰) سنتونه دي:**

۱- د نارينه وو لپاره د تکبير تحريمه پر مهال دواړه لاسونه تر غوږونو پورې پورته کول او د ښځو لپاره تراوږو پورې پورته کول.

۲- د تکبير تحريمه پر مهال د دواړو لاسونو ګوتې پر خپل حال پرېښودل.

۳- د امام له تکبير تحريمه سره د مقتدي تکبير تحريمه پيوسته کول.

۴- د تکبير تحريمه پر مهال سر نه ښکته کول.

۵- د امام لپاره د انتقالاتو تکبيرات او سمع الله لمن حمده په زوره ويل.

۶- د نارينه وو لپاره په قيام کې ښی لاس پر چپ لاس له نامه نه لاندې ايښودل او د ښځو لپاره ښی لاس پر چپ لاس په سينه ايښودل. (۲)

۷- سبحانک اللهم.. ويل.

۸- په لومړي رکعت کې أعوذ بالله او بسم الله ويل.

۹- په هر رکعت کې بسم الله ويل.

۱۰- آمين ويل.

۱۱- سبحانک اللهم، اعوذ بالله، بسم الله او آمين ټول په پټه ويل.

۱۲- د قيام پر مهال د دواړو پښو ترمنځ د لاس د څلورو ګوتو په اندازه فاصله ورکول.

۱۳- له فاتحې سره ضم کړی شوی سورت به د سهار او ماسپښين په لمنځونو کې له طوال مفصل (له سورة الحجرات څخه تر سورة البروج پورې) لولي، او د مازديګر او ماخوستن په لمنځونو کې به او ساط مفصل (له سورة البروج نه تر سورة البينة پورې) لولي او د ماښام په لمانځه کې به له قصار مفصل (له سورة البينة نه تر سورة الناس پورې) لولي که چېرې مقيم وي، او که مسافر وي بيا ورته اختيار دی.

۱۴- يوازې د سهار په لمانځه کې په لومړي رکعت کې د قرائت اوږدول.

۱۵- د انتقالاتو تکبيرونه ويل.

۱۶- په رکوع کې ملا برابرول، سر د ملا له وروستۍ برخې سره برابرول او پښې نېغې درول.

۱۷- په رکوع کې لږ تر لږه درې ځله تسبيحات ويل.

۱۸- د رکوع پر مهال ځنګنونه په لاسونو نيول.

۱۹- په رکوع کې د نارينه وو لپاره د ځنګنونو نيولو پر مهال د لاسونو ګوتې خلاصې نيول او د زنانه وو لپاره ګوتې پيوسته ساتل.

۲۰- له رکوع څخه را پورته کېدل.

۲۱- له رکوع څخه د را پورته کېدلو پر مهال د امام لپاره سمع الله لمن حمده او د مقتدي لپاره ربنا لک الحمد ويل.

۲۲- قومه کول، په داسې ډول چې له رکوع څخه په سمه توګه او اطمينان سره ودرېږي.

---

۱ - باب سجود السهو، يجب سجدتان بتشهد و تسليم لترک واجب سهوا و ان تکرر، وان کان ترکه عمدا أثم و وجب اعادة الصلاة لجبر نقصها، ولا يسجد في العمد للسهو. نور الايضاح، کتاب الصلاة، باب سجود السهو، (ص: ۱۵۳)، ط: مکتبة البشرى، کراتشي باکستان:

رد المحتار على الدر المختار، کتاب الصلاة، باب سجود السهو، (۲/ ۶۵۱ ۶۵۵)، ط: المکتبة السبحانية، کانسي روډ– کويټه.

۲ ووضع المرأة يديها على صدرها من غير تحليق. مراقي الفلاح شرح نور الايضاح-۱-۹۷-فصل في سننها.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۳ – سجدې ته د تللو پر مهال لومړی ځنګنونه، بیا لاسونه او بیا مخ د دواړو ورغویو په منځ کې پر ځمکه ایښودل او د را پورته کېدو پر مهال د دې په عکس (خلاف).

۲۴ – د سجدې پر مهال څنګلې له اړخونو نه او لېچې له ځمکې نه او خېټه له ورنونو نه لرې ساتل.

۲۵ – په سجده کې لږ تر لږه درې ځله تسبیحات ویل، خو که چېرې امام وي، بیا دې تسبیحات ډېر نه اوږدوي.(۱)

۲۶ – له سجدې څخه را پورته کېدل.

۲۷ – جلسه کول، په داسې ډول چې لمونځ کوونکی له سجدې څخه سم په اطمینان سره را کېني.

۲۸ – په جلسه او قعده کې د نارینه وو لپاره چپه پښه غوړول او پرې کېناستل او ښۍ پښه درول او د ښځو لپاره دواړه پښې ښي طرف ته وېستل او په چپ کناټي کېناستل.

۲۹ – د دواړو سجدو ترمنځ د کېناستلو پر مهال د تشهد په څېر د دواړو لاسونه په ورنونو ایښودل.

۳۰ – په سبابې ګوتې سره اشاره کول چې په نفی (لا اله) سره به یې پورته کوي او په اثبات(الا الله) سره به یې بېرته ږدي.

۳۱ – په وروستنیو دوه رکعتونو کې سورة فاتحه ویل.

په وروستۍ قعده کې پر رسول الله صلی الله علیه وسلم درود شریف ویل.

۳۴ – دعاء کول، داسې دعا چې د الله تعالی له کلام او نبوي سنتو سره مشابه وي د خلکو له خبرو سره مشابهت ونلري.

۳۵ – د سلام پر مهال لومړی ښي طرف ته او بیا چپ طرف ته مخ اړول.

۳۶ – د امام لپاره په سلام سره د ملائکو حفظه وو او عامو مسلمانانو او نېکانو پېریانو نیت کول، د مقتدي لپاره که امام ورسره برابر وي په دواړو سلامونو کې د امام نیت کول او که یو لوري ته یې امام وي په همدغه لوري کې به د امام نیت هم کوي او منفرد به دواړو لوریو کې یوازې د ملائکو حفظه وو نیت کوي.

۳۷ – د دویم سلام له اول سلام نه ورو ویل.

۳۸ – لومړی به ښي طرف ته سلام ګرځوي

۳۹ – مقتدي به خپل سلام د امام له سلام سره پیوسته کوي

۴۰ – مسبوق به د امام د سلام انتظار کوي(۲)

---

۱ - و يقول في ركوعه سبحان ربي العظيم ثلاثا، وفي سجوده سبحان ربي الأعلى ثلاثا أدناه ولم يرد به أدنى الجواز، ولو ترک التسبيح أصلا أو أتى به مرة واحدة يجوز ويكره كذا روى عن محمد رحمه الله ولو زاد على الثلاث فذالک أفضل بعد أن يختم على وتر خمس أو سبع أو تسع ولكن ان كان اماما لا يطول، وقال سفيان الثوري ينبغي أن يقول خمسا حتى يتمكن القوم. خلاصة الفتاوى مع مجموعة الفتاوى، كتاب الصلاة، الركوع والسجود، (۱-۲/ ۵۴)، ط: مكتبة القرآن والسنة، محله جنګي قصه خواني، پشاور.

۲ وسننها: رفع اليدين للتحريمة، ونشر أصابعه، وجهر الامام بالتكبير، والثناء، والتعوذ والتسمية، والتأمين سرا، ووضع يمنيه على يساره تحت سرته، وتكبير الركوع والرفع منه، وتسبيحه ثلاثا، وأخذ ركبتيه بيديه، وتفريج أصابعه، وتكبير السجود وتسبيحه ثلاثا، ووضع يديه وركبتيه، وافتراش رجله اليسرى، ونصب اليمنى، والقومة والجلسة، والصلاة على النبي صلى الله عليه وسلم والدعاء. البحر الرائق شرح كنز الدقائق، كتاب الصلاة، باب صفة الصلاة، (۱/ ۵۲۷-۵۳۰)، ط: مكتبه رشيديه سر كي روډ—كويټه:

و هكذا في رد المحتار على الدر المختار، كتاب الصلاة، مطلب سنن الصلاة، (۱/ ۳۴۹- ۳۵۳)، ط: المكتبة الحقانية محله جنګي—بشاور: وزاد فيه: وأن لا يطأطأ رأسه عند التكبير، وكونهن سرا، ..وكونه تحت السرة، وكذا نفس الرفع منه بحيث يستوي جالسا،...ووضع يديه فيها على فخذيه كالتشهد، والصلاة على النبي صلى الله عليه وسلم في القعدة الأخيرة، وبقي بقية تكبيرات الانتقالات والتسميع للامام والتحميد لغيره، وتحويل الوجه يمنة ويسرة للسلام.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د سنتو د پرېښودلو حکم:**

که چا کوم سنت په هېره یا په قصد سره پرېښودلو نو لمونځ یې نه فاسدېږي مګر په قصد سره پرېښودل یې ښه کار نه دی او که څوک یې همیشه پرېږدي نو ګناه ده.(۱)

**پنځمه فرعه: د لمانځه مستحبات**

په لمانځه کې مستحبات پنځه (۵) دي:

۱- د نارینه وو لپاره د تکبیر تحریمه په وخت کې له لستوڼو څخه د لاسونو را وېستل او غوږو ته پورته کول او د ښځو لپاره په ټکري کې دننه تر اوږو لاسونه پورته کول.

۲- په رکوع او سجده کې د منفرد (یوازې لمونځ کونکي) لپاره درې، پنځه یا اووه واره تسبیح ویل.

۳- د قیام په حالت کې د سجدې ځای ته، په رکوع کې پښو ته، په سجده کې د پوزې نرمۍ ته، په قعده کې سینې ته او د سلام په وخت کې خپلو اوږو ته کتل.

۴- د وس په اندازه د ټوخي بندول.

۵- د اروېمي (ځله وازي) په وخت کې د خُلې بندول، البته د نه بندېدو په صورت کې د قیام په حالت کې د ښي لاس او په نورو حالاتو کې د چپ لاس شا په خُله ایښودل.(۲)

---

و هکذا في بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، كتاب الصلاة، سنن الصلاة، (۱/ ۴۶۵- ۴۹۶)، ط: المكتبة الرشيدية –سركي روډ–كويټه.

سنن الصلوة وهي إحدى وخمسون:

١ – رفع اليدين للتحريمة حذاء الأذنين للرجل والأمة. ٢ – وحذاء المنكبين للحرة.

٣ – ونشر الأصابع. ٤ – ومقارنة إحرام المقتدي لإحرام إمامه. ٥ – ووضع الرجل يده اليمنى على اليسرى تحت سرته. وصفة الوضع: أن يجعل باطن كف اليمنى على ظاهر كف اليسرى محلقا بالخنصر والإبهام على الرسغ. ٦ – ووضع المرأة يديها على صدرها من غير تحليق. ٧ – والثناء. ٨ – والتعوذ للقراءة. ٩ – والتسمية أول كل ركعة. ١٠ – والتأمين. ١١ – والتحميد. ١٢ – والإسرار بها. ١٣ – والاعتدال عند التحريمة من غير طأطأة الرأس. ١٤ – وجهر الإمام بالتكبير والتسميع. ١٥ – وتفريج القدمين في القيام قدر أربع أصابع. ١٦ – وأن تكون السورة المضمومة للفاتحة: أ – من طوال المفصل في الفجر والظهر. ج – ومن قصاره في المغرب لو كان مقيما. د – ويقرأ أي سورة شاء لو كان مسافرا. ١٧ – وإطالة الأولى في الفجر فقط. ١٨ – وتكبيرة الركوع. ١٩ – وتسبيحه ثلاثا. ٢٠ – وأخذ ركبتيه بيديه. ٢١ – وتفريج أصابعه والمرأة لا تفرجها. ٢٢ – ونصب ساقيه. ٢٣ – وبسط ظهره. ٢٤ – وتسوية رأسه بعجزه. ٢٥ – والرفع من الركوع. ٢٦ – والقيام بعده مطمئنا. ٢٧ – ووضع ركبتيه ثم يديه ثم وجهه للسجود. ٢٨ – وعكسه للنهوض. ٢٩ – وتكبير السجود. ٣٠ – وتكبير الرفع. ٣١ – وكون السجود بين كفيه. ٣٢ – وتسبيحه ثلاثا. ٣٣ – ومجافاة الرجل بطنه عن فخذيه ومرفقيه عن جنبيه وذراعيه عن الأرض. ٣٤ – وانخفاض المرأة ولزقها بطنها بفخذيها. ٣٥ – والقومة.٣٦ – والجلسة بين السجدتين. ٣٧ – ووضع اليدين على الفخذين فيما بين السجدتين كحالة التشهد. ٣٨ – وافتراش رجله اليسرى ونصب اليمنى. ٣٩ – وتورك المرأة.٤٠ – والإشارة في – الصحيح – بالمسبحة عند الشهادة يرفعها عند النفي ويضعها عند الإثبات. ٤١ – وقراءة الفاتحة فيما بعد الأوليين. ٤٢ – والصلاة على النبي صلى الله عليه وسلم في الجلوس الأخير. ٤٣ – والدعاء بما يشبه ألفاظ القرآن والسنة لا كلام الناس. ٤٤ – والالتفات يمينا ثم يسارا بالتسليمتين. ٤٥ – ونية الإمام: أ – الرجال ب – والحفظة . ج – وصالح الجن بالتسلمتين في الأصح. ٤٦ – ونية المأموم إمامه في جهته وإن حاذاه نواه في التسليمتين مع: أ – القوم ب – والحفظة ج – وصالح الجن. ٤٧ – ونية المنفرد الملائكة فقط. ٤٨ – وخفض الثانية عن الأولى. ٤٩ – ومقارنته لسلام الإمام. ٥٠ – والبداءة باليمين. ٥١ – وانتظار المسبوق فراغ الإمام. نور الايضاح-١-٥٧-٥٨.

۱ - الاساءة دون الكراهة: لا يجب فسادا ولا سهوا بل اساءة لو عامدا، غير مستخف وقالوا الاساءة أدون من الكراهة. الدر المختار للحصكفي، كتاب الصلاة، مطلب: في قوله الاساءة دون الكراهة، (۱/ ۳۴۹- ۳۵۰)، ط: المكتبة الحقانيه، محله جنګي–پشاور.

و هكذا في البحر الرائق شرح كنز الدقائق، كتاب الصلاة، باب صفة الصلاة، (۱/۵۲۷)، ط: مكتبه رشيديه سركي روډ–كويټه.

۲ - وآدابها نظره الى موضع سجوده، أي في حال القيام ، وأما في حالة الركوع فإلى ظهر قدميه ، وفي سجوده إلى أرنبته ، وفي قعوده إلى حجره وعند التسليمة الأولى إلى منكبه الأيمن وعند الثانية إلى منكبه الأيسر ؛ لأن المقصود الخشوع، وكظم فمه عند التثاؤب، واخراج كفيه من كميه عند

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د مستحبو د پرېښودلو حکم:**

پرېښودل يې بد والى او ملامتي نه راولي، لکه د زايدو سنتو پرېښودل، خو ترسره کول يې بهتره او افضل دي.(۱)

**شپږمه فرعه: د لمانځه مفسدات:**

**د لمانځه مفسدات په لاندې ډول دي:**

**۱- په قصد يا هېره سره خبرې کول.**

**۲- په ژبې سره سلام ويل.**

**۳- په ژبې سره د سلام ځواب ورکول.**

**۴- له عذر پرته غاړې تازه کول.**

**۵- په لمانځه کې داسې دعا کول چې د خلکو له خبرو سره مشابهت ولري.**

**۶- د تکليف يا درد له امله زګروي کول، يا أه ، يا آه او يا أف ويل.**

**۷- د درد يا مصيبت له امله ژړل.**

**۸ پرنجي کوونکي ته په يرحمک الله سره ځواب ورکول.**

**۹- د بد خبر په اورېدلو سره انا لله وانا اليه راجعون ويل.**

**۱۰- هر هغه څه ويل چې د بل چا ځواب يې مطلب وي.**

**۱۱- له خپل امام پرته بل چا ته فتح ورکول.**

**۱۲- خوراک کول.**

**۱۳- څښاک کول.**

**۱۴- قرآن کريم له مخې ويل.**

**۱۵- عمل کثير، داسې عمل ترسره کول چې يو بل تن يې ووينې، او د لمونځ کوونکي ګومان پرې ونه کړي.**

**۱۶- پر نجس ځاى سجده کول.**

**۱۷- د رکوع يا سجدې په اندازه وخت د عورت له لوڅوالي يا نجاست سره ترسره کول.**

---

التكبير، ودفع السعال ما استطاع، والقيام حين قيل حي على الفلاح وشروع الامام مذ قيل قد قامت الصلاة. لما في البحر الرائق شرح كنز الدقائق، كتاب الصلاة، باب صفة الصلاة، (۱/ ۵۳۰۹-۵۳۱)، ط: مكتبه رشيديه، سر كي روډ – كويټه.

(قَوْلُهُ وَإِمْسَاكُ فَمِهِ عِنْدَ التَّثَاؤُبِ) بِالْهَمْزِ، وَأَمَّا الْوَاوُ فَغَلَطٌ كَمَا فِي الْمُغْرِبِ وَغَيْرِهِ وَسَيَأْتِي فِي بَابِ مَا يُفْسِدُ الصَّلَاةَ أَوْ يُكْرَهُ أَنَّهُ يُكْرَهُ وَلَوْ خَارِجَهَا لِأَنَّهُ مِنْ الشَّيْطَانِ وَالْأَنْبِيَاءُ مَحْفُوظُونَ مِنْهُ (قَوْلُهُ وَلَوْ بِأَخْذِ شَفَتَيْهِ بِسِنِّهِ) فِي بَعْضِ النُّسَخِ شَفَتَهُ بِصِيغَةِ الْمُفْرَدِ وَهِيَ أَحْسَنُ لِأَنَّ الْمُتَيَسِّرَ لِدَفْعِ التَّثَاؤُبِ هُوَ أَخْذُ الشَّفَةِ السُّفْلَى وَحْدَهَا ثُمَّ رَأَيْت التَّقْيِيدَ بِهَا فِي الضِّيَاءِ (قَوْلُهُ بِظَهْرِ يَدِهِ الْيُسْرَى) كَذَا فِي الضِّيَاءِ الْمَعْنَوِيِّ، وَمِثْلُهُ فِي الْحِلْيَةِ فِي بَابِ السُّنَنِ وَالشَّارِحُ عَزَا الْمَسْأَلَةَ إلَى الْمُجْتَبَى مَعَ أَنَّ الْمَنْقُولَ فِي الْبَحْرِ وَالنَّهْرِ وَالْمِنَحِ عَنْ الْمُجْتَبَى أَنَّهُ يُغَطِّي فَاهُ بِيَمِينِهِ، وَقِيلَ بِيَمِينِهِ فِي الْقِيَامِ وَفِي غَيْرِهِ بِيَسَارِهِ اهـ وَهَكَذَا فِي شَرْحِ الشَّيْخِ إسْمَاعِيلَ. وَعِبَارَةُ الشَّارِحِ فِي الْخَزَائِنِ: أَيْ بِظَهْرِ يَدِهِ الْيُمْنَى إلَخْ فَالْمُنَاسِبُ إبْدَالُ الْيُسْرَى بِالْيُمْنَى (قَوْلُهُ وَقِيلَ إلَخْ) كَأَنَّهُ لِأَنَّ التَّغْطِيَةَ يَنْبَغِي أَنْ تَكُونَ بِالْيُسْرَى كَالِامْتِخَاطِ. فَإِذَا كَانَ قَاعِدًا يَسْهُلُ ذَلِكَ عَلَيْهِ وَلَمْ يَلْزَمْ مِنْهُ حَرَكَةُ الْيَدَيْنِ، بِخِلَافِ مَا إذَا كَانَ قَائِمًا فَإِنَّهُ يَلْزَمُ مِنْ التَّغْطِيَةِ بِالْيُسْرَى حَرَكَةُ الْيَمِينِ أَيْضًا لِأَنَّهَا تَحْتَهَا. اه. الرد المحتار-۱-۴۷۸. باب اداب الصلواة.

الفتاوى الهندية، كتاب الصلاة، باب صفة الصلاة، الفصل الثالث في سنن الصلاة وآدابه، (۱/ ۳۷۲)، المكتبة الحقانية محله جنگى بشاور.

۱ -: وتركه لا يوجب اساءة، ولا عتابا، كترک سنة الزوائد لكن فعله أفضل. لما في رد المحتار على الدر المختار، كتاب الصلاة، باب صفة الصلاة فصل في آداب الصلاة، (۱/ ۳۵۳)، ط: المكتبة الحقانيه، محله جنگي – بشاور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۸- له عذر پرته له قبلې څخه سينه اړول. (۱)

۱۹. که د لمانځه له شرطونو يا رکنونو څخه پرته له عذره يو پاتې شي.

۲۰. جنون (ليونتوب).

۲۱. بې هوښي.

۲۲. د سهار په لمانځه کې د لمر راختل.

۲۳. په لمانځه کې داسې خندا کول چې په خپله يې واوري. (۲)

**د مفسداتو د ترسره کولو حکم:**

که چا په لمانځه کې کوم مفسد کار وکړ نو لمونځ يې نه صحيح کېږي. (۳)

**اوومه فرعه: د لمانځه مکروهات:**

۱- په جامو يا بدن لوبې کول.

۲- د ګوتو ټکان ايستل يا ګوتې يو په بل کې ورکول.

۳- پر تشو لاسونه نيول.

۴- يوې او بلې خوا ته په لمانځه کې کتل.

۵- د سپي په څېر کېناستل.

۶- څنګلې پر ځمکه غوړول.

۷- په لاس د سلام ځواب ورکول.

۸- له عذر پرته چار زانو (پلتۍ) کېناستل.

۹- وېښتان سره راټولول او تړل.

۱۰- جامې سره را پېچل.

۱۱- له ځړيدلو جامو سره لمونځ کول، څادر په سر داسې اچول چې دواړه طرفونه يې ځمکې طرف ته غوړيدلي وي، يا چپنه په داسې ډول اغوستل چې لستوڼي يې نه وي اغوستل شوي.

۱۲- داسې ځای لمونځ کول چې پر سر، يا مخ ته او يا د لمونځ کوونکي ښي يا چپ طرف ته تصويرونه وي.

---

۱ - باب ما يفسد الصلاة، : يفسدها التكلم عمده وسهوه قبل قعوده قدر التشهد... بخلاف السلام على انسان، فانه يفسدها، ولو ساهيا، والتنحنح بلا عذر، والدعاء بما يشبه كلامنا، والأنين، والتأوه، والتأفيف، والبكاء بصوت لوجع أو مصيبة لا لذكر جنة أو نار، ويفسدها تشميت عاطس بيرحمك الله ولو من العاطس لنفسه لا، وجواب خبر سوء بالاسترجاع على المذهب، وكذا كل ما قصد به الجواب، وفتحه على غير امامه بخلاف فتحه على امامه، وأكله وشربه مطلقا الا اذا كان بين أسنانه مأكول، وانتقاله من صلاة الى مغايرتها، وقراءته من مصحف مطلقا، ويفسدها كل عمل كثير، وفسدها سجوده على نجس ويفسدها أداء ركن أو تمكنه مع كشف عورة أو نجاسة، وتحويل صدره عن القبلة بغير عذر. رد المحتار على الدر المختار، كتاب الصلاة، باب ما يفسد الصلاة، (۲/ -۳۷۰- ۳۸۸)، ط: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان

و هكذا في نور الايضاح، كتاب الصلاة، باب ما يفسد الصلاة، (ص: ۱۰۷ – ۱۱۵)، ط: مكتبة البشرى- كراتشي.

۲ . باب ما يفسد الصلاة.... وطلوع الشمس في الفجر... والإغماء. والجنون. نور الإيضاح ونجاة الأرواح في الفقه الحنفي ص ۷۰ . وهكذا في الفقه الميسر .-

(من فرائضها) أى التي لا تصح بدونها. صفة كاشفة اذ لا شئ من الفروض ما تصح الصلاة بدونه بلا عذر. رد المحتار على الدر المختار، كتاب الصلاة، (۱/ ۱۵۸)، ط: مكتبه سبحانيه، كانسي روډ – كويټه:

۳ - الفساد والبطلان في العبادات سواء، لأن المراد بهما خروج العبادة عن كونها عبادة بسبب فوات بعض الفرائض...عقب العارض الخ أى أن المفسدات عوارض على الصحة. الرد المحتار على الدر المختار، كتاب الصلاة، باب ما يفسد الصلاة، (۲/ ۳۷۰- ۳۸۸)، ط: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳- په لمانځه کې په لاس سره د آیتونو، تسبیحاتو او سورتونو شمېرل. (۱)

**اتمه فرعه: د لمانځه اداء کولو مکروه وختونه**

په لاندې درې وختونو کې هر قسم لمونځ کول مکروه دي.

۱-د لمر راختلو وخت

۲- د لمر پرېوتلو وخت

۳-د استواء وخت (چې کله لمر د آسمان نیمایی ته راشي). (۲)

**نهمه فرعه: هغه ځایونه چې هلته لمونځ کول مکروه دي:**

په اوو ځایونو کې لمونځ کول مکروه دي:

۱- په هغه ځای کې چې ناپاکي او پلیتي غورځول کیږي.

۲- په مسلخ او قصابی کې.

۳- په هدیره کې.

۴- د لارې په منځ کې.

۵- په حمام کې.

۶- د اوښانو د چو کېدلو ځای کې.

۷- د بیت الله شریف پر بام. (۳)

**شپږم مطلب: د سجده سهوې بیان:**

د واجب اصلي په پرېښودلو یا په تأخیر د واجبو یا فرضو، یا د یو فرض له خپل ځای مخکې ادا کولو یا د رکن په تکرار سره سجده سهوه واجبیږي. او که چا پورته کارونه په لمانځه کې په قصد سره وکړل نو لمونځ دې بیرته راوګرځوي. (۱)

---

۱ ویکره للمصلي أن یعبث بثوبه أو بجسده، ولا یفرقع أصابعه، ولا یتخصر في الصلاة، ولا یلتفت، ولا یقعي ولا یفترش ذراعیه، ولا یرد السلام بلسانه ولا بیده، ولا یتربع الا من عذر، ولا یعقص شعره، ولا یکفر ثوبه، ولا یسدل، ویکره أن یقوم في الطاق،ویکره أن یکون الامام وحده علی الدکان، ویکره أن یکون فوق رأسه في السقف أو بین یدیه، أو بحذاءه تصاویر أو صورة معلقة، ..ویکره عد الآی والتسبیحات بالید في الصلاة، وکذالک عدد السور. الهدایة، کتاب الصلاة، باب ما یفسد الصلاة، (۱/ ۱۶-۲۸)، ط: ادارة القرآن والعلوم الاسلامیة، کراتشي- باکستان. الرد المحتار علی الدر المختار، کتاب الصلاة، باب ما یفسد الصلاة وما یکره فیها، (۲/ ۴۰۴-۴۲۱)، ط: دار الکتب العلمیة، بیروت- لبنان. البحر الرائق شرح کنز الدقائق، کتاب الصلاة باب ما یفسد الصلاة وما یکره فیها، (۲/۱۶-۵۶)، ط: دار الکتب العلمیة، بیروت- لبنان.

۲ - لا تجوز الصلاة عند طلوع الشمس ولا عند قیامها في الظهیرة ولا عند غروبها. الهدایة، کتاب الصلاة، باب المواقیت، فصل في الأوقات التي تکره فیها الصلاة، (۱/ ۲۶۵-۲۶۶)، ط: ادارة القرآن والعلوم الاسلامیة، کراتشي- باکستان.

و في قول أبي حنیفة رحمه الله ویجوز قضاء الفوائت في أي وقت شاء الا في ثلاث ساعات لا یجوز فیها التطوع ولا یجوز المکتوبات ولا صلاة الجنازة، ولا سجود التلاوة اذا طلعت الشمس حتی ترتفع، وعند الانتصاب الا أن تزول الشمس، وعند احمرار الشمس الا أن تغیب الا عصر یومه فانه یجوز أداؤها عند غروبه. الفتاوی العالمکیریة، کتاب الصلاة، الباب الرابع في صفة الصلاة، الفصل الثالث في سنن الصلاة وآدابها وکیفیتها، (۱/ ۷۴)، ط: المکتبة الحقانیة، محله جنګي- پشاور

۳ - عَن ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى أَنْ يُصَلَّى فِي سَبْعَةِ مَوَاطِنَ: فِي الْمَزْبَلَةِ، وَالْمَجْزَرَةِ، وَالْمَقْبَرَةِ، وَقَارِعَةِ الطَّرِيقِ، وَفِي الْحَمَّامِ، وَفِي مَعَاطِنِ الإِبِلِ، وَفَوْقَ ظَهْرِ بَيْتِ اللَّهِ "،جامع الترمذي، کتاب الصلاة، باب ما جاء في کراهیة ما یصلي الیه وفیه، (۱/ ۲۳۹)، ط: مکتبة البشری، جمعیة البشری الخیریة للخدمات الانسانیة والتعلیمیة. الموسوعة الفقهیة الکویتیة، (۲۷/ ۱۱۳)، الأماکن التي تکره الصلاة فیها.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لومړۍ فرعه: د سجده سهوې طريقه :**

**په اخيره قعده کې به له تشهد لوستلو وروسته ښي طرف ته سلام وګرځوي بيا به سجده سهوه وکړي او بيا به التحيات، درود شريف او دعا ووايي او سلام به وګرځوي. (۲)**

**دويمه فرعه: د سجده سهوې د لازمېدلو وختونه**

**۱- اوله قعده پرېښودل، يا په دواړو قعدو کې د تشهد هېريدل . (۳)**

**۲- د رکوع تکرار کول . (۴)**

**۳- درې ځلي سجده کول. (۵)**

**۴- اوله قعده کې پس له تشهد نه درود ويل. (۶)**

**۵- د امام لپاره په جهري لمنځونو کې خفيه قرائت او په خفيه لمنځونو کې په جهر سره قرائت کول. (۷)**

---

۱ و لا يجب السجود إلا بترك واجب أو تأخيره أو تأخير ركن أو تقديمه أو تكراره أو تغيير واجب بأن يجهر فيما يخافت وفي الحقيقة وجوبه بشيء واحد وهو ترك الواجب، كذا في الكافي. ولو كرر التشهد في القعدة الأولى فعليه السهو، وكذا لو زاد على التشهد الصلاة على النبي صلى الله عليه وسلم. الفتاوى الهندية، كتاب الصلاة، باب سجود السهو، (۱/۱۲۷، ۱۳۹)، ط: دار الفكر . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، كتاب الصلاة، (۱/۴۰۱)، ط: مكتبه رشيديه، سركي روډ كويټه.

۲ - بعد سلام واحد، عن يمينه فقط. الدر المختار، كتاب الصلاة، (۲/۶۵۲)، ط: المكتبة السبحانية، كانسي روډ كويټه .البحر الرائق شرح كنز الدقائق، كتاب الصلاة، باب سجود السهو، (۲/۱۶۴)، ط: مكتبه علمية، كانسي روډ كويټه.

۳ - لو ترک قراءة التشهد ساهياً في القعدة الأولى أو الثانية وتذكر بعد السلام يلزمه سجود السهو. البحر الرائق شرح كنز الدقائق، كتاب الصلاة، باب سجود السهو، (۱/۱۶۸)، ط: مكتبة علمية، كانسي روډ كويټه:

ومنها القعدة الأولى، حتى لو تركها يجب عليه السهو،..ومنها التشهد فاذا تركه في القعدة الأولى أو الأخيرة وجب عليه سجود السهو. الفتاوى الهندية، كتاب الصلاة، باب سجود السهو، (۱/۱۲۷)، ط: دار الفكر

۴ - لو ركع ركوعين أو سجد ثلاثا في ركعة لزمه السجود لتأخير الفرض. البحر الرائق شرح كنز الدقائق، كتاب الصلاة، باب سجود السهو، (۲/۱۷۲)، ط: مكتبه علميه

۵ - لو ركع ركوعين أو سجد ثلاثا في ركعة لزمه السجود لتأخير الفرض. البحر الرائق شرح كنز الدقائق، كتاب الصلاة، باب سجود السهو، (۲/۱۷۲)، ط: مكتبه علميه

۶ - وكذا لو زاد على التشهد، الصلاة على النبي صلى الله عليه وسلم. الفتاوى الهندية، كتاب الصلاة، الباب الثاني عشر في سجود السهو، (۱/۱۲۷)، ط: المكتبة الحقانيه، محل جنگي پشاور

و لو زاد في القعدة الأولى على التشهد فقال اللهم صل على محمد يلزم السهو. فتاوى قاضيخان، كتاب الصلاة، باب الحدث في الصلاة وما يكره فيها، فصل فيما يوجب السهو وما لا يوجب السهو، (۱/۶۰۵۹)، ط: امير حمزه كتب خانه، ارک بازار –کندهار افغانستان

۷ ولا يوجب السجود الا بترک واجب أو تأخيره أو تأخير ركن أو تقديمه أو تكراره أو تغيير واجب بأن يجهر فيما يخافت. الفتاوى العالمگيرية، كتاب الصلاة، الباب الثاني عشر في سجود السهو، (۱/۱۲۶)، ط: المكتبة الحقانية، محله جنگي – پشاور . فتاوى قاضيخان، كتاب الصلاة، باب الحدث في الصلاة وما يكره فيها، فصل فيما يوجب السهو وما لا يوجب السهو، (۱/۵۹)، ط: امير حمزه كتب خانه، ارک بازار –کندهار افغانستان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يادونه**: په جهري لمنځونو کې قرائت خفيه ويل، او په خفيه لمنځونو کې قرائت په جهر ويل، برابره خبره ده که لږ قرائت په خفيه لمانځه کې په جهر وويل شي او يا ډېر همدا سې په جهري لمانځه کې که لږ قرائت په خفيه وويل شي او يا ډېر په هر صورت کې سجده سهوه لازميږي.(۱)

**لومړۍ مسئله**: که يو څوک په لمانځه کې سورة فاتحه پريږدي يا مخکې له فاتحې نه بل سورت قرائت کړي او بيا سورت فاتحه ولولي پدې صورت کې سجده سهوی لازميږي.(۲)

**دويمه مسئله**: که چا سورت فاتحه ولوستله بيا پدې فکر کې شو چې کوم سورت ورسره ضم کړي او درې ځله تسبيحاتو په اندازه وخت ووتلو بيا يې سورت ياد ته راغی سجده سهو پرې لازم ده. (۳)

**دريمه مسئله**: که څوک په آخره قاعده کې شکمن شو چې څلور رکعته يې کړي که درې رکعته او دومره وخت ورباندې تير شولو چې درې ځله سبحان الله ويل کيږي نو په دې صورت کې هم سجده سهوه پرې لازميږي.(۴)

**څلورمه مسئله**: په درې رکعتي او څلور رکعتي لمانځه کې که يو څوک وروسته له دوو اولو رکعتونو څخه قاعده هيره کړي او نيغ ودريږي په دې حالت کې بيرته کيناستل ضرور ندي نو بيا به په آخر کې سجده سهوه کوي. (۵)

**پنځمه مسئله**: که د ضرورت په بنا يو قدم مخ ته يا شاته يا هم څنګ ته لاړ شي پدې شرط چې مخ له قبلې څخه وا نه ړوي لمونځ نه فاسديږي. (۶)

**شپږمه مسئله**: که چيرته د لمانځه په حالت کې يو چاته په مبايل زنګ راشي او نورو خلکوته تکليف رسيږي نو په لمانځه کې بيا د مبايل بندول بهتر دي. (۱)

---

۱ - (وَالْجَهْرِ فِيمَا يَخْفَى) وَكَذَا الْمُخَافَتَةُ فِيمَا يُجْهَرُ.وَفِي الْهِدَايَةِ وَاخْتَلَفَتْ الرِّوَايَةُ فِي الْمِقْدَارِ وَالْأَصَحُّ قَدْرُ مَا تَجُوزُ بِهِ الصَّلَاةُ فِي الْفَصْلَيْنِ لِأَنَّ الْيَسِيرَ مِنْ الْجَهْرِ وَالْإِخْفَاءِ لَا يُمْكِنُ الِاحْتِرَازُ عَنْهُ وَعَنْ الْكَثِيرِ مُمْكِنٌ وَمَا تَصِحُّ بِهِ الصَّلَاةُ كَثِيرٌ غَيْرَ أَنَّ ذَلِكَ عِنْدَهُ آيَةٌ وَاحِدَةٌ وَعِنْدَهُمَا ثَلَاثُ آيَاتٍ لَكِنَّ هَذَا عَلَى رِوَايَةِ النَّوَادِرِ وَأَمَّا فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ فَيَجِبُ سُجُودُ السَّهْوِ بِهِمَا مُطْلَقًا أَيْ قَلَّ أَوْ كَثُرَ كَمَا فِي أَكْثَرِ الْمُعْتَبَرَاتِ.مجمع الانهر-۱-۱۴۹.باب سجود السهو. رد المحتار على الدر المختار، كتاب الصلاة، باب سجود السهو، (۱ /۴۶۹-)، ط: دار المعرفة:

ومنها اذا جهر وهو امام فيما يخافت فيه قل ذلک أو كثر أو خافت فيما يجهر فيه قل ذلک أو كثر في ظاهر الرواية.قاضيخان، كتاب الصلاة، باب الحدث في الصلاة وما يكره فيها، فصل فيما يوجب السهو وما لا يوجب السهو، (۱/۵۹)، ط: امير حمزه كتب خانه، ارک بازار-كندهار افغانستان.

۲ - منها قراءة الفاتحة والسورة اذا ترک الفاتحة في الأوليين أو أحدهما يلزمه السهو، ...ولو أخر الفاتحة عن السورة فعليه سجود السهو. الفتاوى العالمكيرية، كتاب الصلاة، الباب الثاني عشر في سجود السهو، (۱/۱۲۶)، ط: المكتبة الحقانية، محله جنگی-بشاور.

۳ ولا يوجب السجود الا بترک واجب أو تأخيره أو تأخير ركن أو تقديمه أو تكراره أو تغيير واجب بأن يجهر فيما يخافت. الفتاوى العالمكيرية، كتاب الصلاة، الباب الثاني عشر في سجود السهو، (۱/۱۲۶)، ط: المكتبة الحقانية، محله جنگي-پشاور . فتاوى قاضيخان، كتاب الصلاة، باب الحدث في الصلاة وما يكره فيها، فصل فيما يوجب السهو وما لا يوجب السهو، (۱/۵۹)، ط: امير حمزه كتب خانه، ارک بازار-كندهار افغانستان.

۴ واذا قعد المصلي في صلاته وتشهد ثم شک أنه صلى ثلاثا أو أربعا حتى شغله ذالک عن التسليم ثم استيقن أنه صلى أربعا فأتم صلاته فعليه سجدتا السهو وان شک في ذلک بعد ما سلم تسليمة واحدة فلا سهو عليه. الفتاوى الهندية، كتاب الصلاة، الباب الثاني عشر في سجود السهو، (۱/۱۲۸)، ط: المكتبة الحقانية محله جنگی-بشاور.

۵ - ومنها القعدة الأولى حتى لو تركها يجب عليه السهو. الفتاوى العالمكيرية، كتاب الصلاة، الباب الثاني عشر،(۱/۱۲۷)، ط: المكتبة الحقانية محله جنگي-بشاور.

۶ ولو مشى في صلاته ان كان قدر صف واحد لا تفسد وان مشى قدر صفين بدفعة واحدة تفسد ولو مشى الى صف ووقف ثم مشى الى صف آخر ووقف ثم وثم لا تفسد صلاته. خلاصة الفتاوى، كتاب الصلاة، (۱/۱۳۱)، ط: مكتبة القرآن والسنة، محله جنگي قصه خواني پشاور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اوومه مسئله**: که د چا دعا قنوت یاد نه وي نو پرځای یې اللهم ربنا آتنا... ، یا درې ځلي اللهم اغفرلي، او یا درې ځلي یاربي ووایي صحیح ده.(۲)

**اووم مطلب: د لمانځه د الفاظو د صحیح کولو اهمیت**:

په لمونځ کوونکي لازم دي چې د لمانځه الفاظ په سمه توګه اداء کړي ځکه کله د حروفو سم نه ادا کول د معنی د فساد لامل کېږي چې د معنی فساد بیا د لمانځه د فساد سبب کېږي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به قرأنکریم په ارامه او اطمینان سره کلمه کلمه لوستلو چې هر څوک به پرې پوهېدل په تېزۍ سره به یې قرائت نه کولو ان تر دې چې د ارامه لوستلو له امله به یې لمونځ په ډېر وخت کې ادا کولو.(۳)

---

۱۔ نماز شروع کرنے سے قبل بلکہ مسجد میں داخل ہوتے ہی موبائل بند کر دینا چاہیے تاکہ گھنٹی بجنے کا اندیشہ نہ رہے لیکن اگر اتفاقاً بند کرنا یاد نہ رہے اور دورانِ نماز گھنٹی بجنے لگے اور عمل قلیل سے بند کر دینا ممکن ہو تو بحالت نماز ہی بند کر دینا چاہیے، اگر عمل کثیر کر کے گھنٹی بند کی گئی تو نماز فاسد ہو جائے گی۔ موبائل کی گھنٹی میں اگر ساز (میوزک یا گانا) ہو اور بغیر عمل کثیر کے بند کرنا ممکن نہ ہو تو ایسی صورت میں نماز توڑ کر موبائل بند کر دینا چاہیے اور اگر گھنٹی سادی ہو کہ جس کی وجہ سے نمازیوں کو توحش اور ناقابل برداشت تشویش میں ابتلا نہ ہوتا ہو تو گھنٹی بجتی چھوڑ کر نماز پوری کر لینے کی گنجائش ہے۔ موبائل میں ساز یعنی میوز یا گانے والی گھنٹی لگانا ناجائز ہے اور عمل قلیل و کثیر کی تشریح کتب فقہ میں مذکور ہے۔

واللہ تعالیٰ اعلم دارالافتاء، دارالعلوم دیوبند ۳۵-۱۳۱. فتوي نمبر ۲۹۸.

(وَ) يُفْسِدُهَا (كُلُّ عَمَلٍ كَثِيرٍ) لَيْسَ مِنْ أَعْمَالِهَا وَلَا لِإِصْلَاحِهَا، وَفِيهِ أَقْوَالٌ خَمْسَةٌ أَصَحُّهَا (مَا لَا يَشُكُّ) بِسَبَبِهِ (النَّاظِرُ) مِنْ بَعِيدٍ (فِي فَاعِلِهِ أَنَّهُ لَيْسَ فِيهَا) الدر المختار وحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (۱/ ۶۲۴).

۲ وَمَنْ لَا يُحْسِنُ الْقُنُوتَ بِالْعَرَبِيَّةِ أَوْ لَا يَحْفَظُهُ فَفِيهِ ثَلَاثَةُ أَقْوَالٍ مُخْتَارَةٍ قِيلَ يَقُولُ يَا رَبُّ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ يَرْكَعُ وَقِيلَ يَقُولُ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي ثَلَاثَ مَرَّاتٍ وَقِيلَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ وَالظَّاهِرُ أَنَّ الِاخْتِلَافَ فِي الْأَفْضَلِيَّةِ لَا فِي الْجَوَازِ وَأَنَّ الْأَخِيرَ أَفْضَلُ لِشُمُولِهِ وَأَنَّ التَّقْيِيدَ بِمَنْ لَا يُحْسِنُ الْعَرَبِيَّةَ لَيْسَ بِشَرْطٍ بَلْ يَجُوزُ لِمَنْ يَعْرِفُ الدُّعَاءَ الْمَعْرُوفَ أَنْ يَقْتَصِرَ عَلَى وَاحِدٍ مِمَّا ذُكِرَ لِمَا عَلِمْت أَنَّ ظَاهِرَ الرِّوَايَةِ عَدَمُ تَوْقِيتِهِ. البحر الرائق شرح كنز الدقائق، كتاب الصلاة، باب الوتر والنوافل، (۴۵/۲) مكتبه دار الكتاب الإسلامي.

۳ وَقَوْلُهُ: {وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلا} أَيِ: اقْرَأْهُ عَلَى تَمَهُّلٍ، فَإِنَّهُ يَكُونُ عَوْنًا عَلَى فَهْمِ الْقُرْآنِ وَتَدَبُّرِهِ. وَكَذَلِكَ كَانَ يَقْرَأُ صَلَوَاتُ اللَّهِ وَسَلَامُهُ عَلَيْهِ، قَالَتْ عَائِشَةُ: كَانَ يَقْرَأُ السُّورَةَ فَيُرَتِّلُهَا، حَتَّى تَكُونَ أَطْوَلَ مِنْ أَطْوَلِ مِنْهَا. وَفِي صَحِيحِ الْبُخَارِيِّ، عَنْ أَنَسٍ: أَنَّهُ سُئِلَ عَنْ قِرَاءَةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: كَانَتْ مَدًّا، ثُمَّ قَرَأَ {بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ} يَمُدُّ بِسْمِ اللَّهِ، وَيَمُدُّ الرَّحْمَنِ، وَيَمُدُّ الرَّحِيمِ. وَقَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ، عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ: أَنَّهَا سُئِلَتْ عَنْ قِرَاءَةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: كَانَ يُقَطِّعُ قِرَاءَتَهُ آيَةً آيَةً، {بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ} رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ. تفسير ابن كثير-۸-۲۵۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لومړۍ فرعه: عامو خلکو ته د لمانځه د الفاظو او معناګانو ور زده کولو طریقه:**

**۱- د مسجد محترم امام او مدرس دې په ورځ کې د یو لمانځه نه وروسته صرف یو یا دوه لفظه لمونځ پخپله په تکرار څو ځله صحیح الفاظ ووایې او بیا دې د هغه لفظ ټولې غلطې طریقې هم ووایي کله چې امام د خپلو مقتدیانو څخه مطمئن شو چې نور یې لمونځ زده شو بیا دې بل لفظ په راتلونکې لمانځه کې شروع کړي ولو که پوره اونۍ پر یوه لفظ تیریږي هم امام دې مخ ته نه ځي. ځکه په لمانځه کې ډیر الفاظ شته چې په لږ کوږوالي یې هم لمونځ فاسدیږي.**

**۲- کله چې د مسجد امام د خپل مسجد د ټولو مقتدیانو څخه مطمئن شو چې د لمونځ الفاظ یې صحیح زده شول بیا دې د لمانځه احکام پرې زده کړي. دا کار اسانه دی خصوصاً کوم مقتدیان چې خط لوستلای شي هغوی ته دې په لیکلې طریقه ورکړي خپله یې یادولای شي.**

**۳- په دریمه مرحله کې چې د لمونځ احکام هم زده شول بیا دې څو ورځې لمونځ په ژباړه ورته ووایې او بیا دې دا لیکلې ژباړه هم ورکړي ان شاءالله هغه یې خپله هم زده کولای شي.**

**۴- امام او مدرس دې نهایې کوښښ وکړي چې مقتدیانو ته داسې طریقه جوړه کړي چې د شرم کولو، سام (رعب) غورځولو، تحقیر او سپکاوي کولو زمینه را منځته نشي او هر مقتدي په فخر او خوشحالۍ سره لمونځ زده کړي.**

**۵- مسئولین دې وخت په وخت پوښتنه، ترغیب او تشویق ورکوي.**

**۶- د مسجد امام او مدرس دې مقتدیانو ته دا هم ووایې چې که څوک خواهش لري چې ماته په جلا توګه لمونځ ووایې هم دې د الله جَلَّجَلَالُهُ د رضاء لپاره امام او مدرس څو ورځې کوښښ او همکاري ورسره وکړي.**

**دویمه فرعه: د لمانځه الفاظ صحیح لوستل:**

| صحیح الفاظ | غلط الفاظ |
|---|---|
| اللهُ أَکْبَر – سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَ بِحَمْدِكَ، و تَبارَكَ اسْمُكَ، و تَعالَى جَدُّكَ، و لَا إِلٰهَ غَيْرُكَ | اللهَ اکبر – الله وکبر – الله اکپر– الله اکبار سبهانک – سبئانک– سبحانک اللئم – اللحم– اللوم وبهمدک – وبامدک– وبحمدک و تبارک اسمک – و تبارق اسمک و تالی جدک – و تئالی جدک ولا اَله و لا الهَ غیرک ولا الح غیرک – لا یلاه. |
| تعوذ | |
| أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ ◌الرَّجِيمِ | اعوظ – اءوذ – اعوذ باللح من الشیتن– من الشیطوان الروجیم |
| تسمیه | |
| بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ | بشم الله الروحمن – الرامان الروحیم – الرئیم |
| سورة الفاتحة | |

---

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنْ يَعْلَى بْنِ مَمْلَكٍ، أَنَّهُ سَأَلَ أُمَّ سَلَمَةَ، عَنْ قِرَاءَةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصَلَاتِهِ، قَالَتْ: مَا لَكُمْ وَصَلَاتَهُ، ثُمَّ نَعَتَتْ لَهُ قِرَاءَتَهُ، فَإِذَا هِيَ «تَنْعَتُ قِرَاءَةً مُفَسَّرَةً حَرْفًا حَرْفًا».السنن الکبري للنسائي—۲-۲۸.

حَدَّثَنِي عَبْدُ اللهِ بْنُ سَخْبَرَةَ أَبُو مَعْمَرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ ابْنَ مَسْعُودٍ، يَقُولُ: عَلَّمَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ التَّشَهُّدَ كَفِّي بَيْنَ كَفَّيْهِ كَمَا يُعَلِّمُنِي السُّورَةَ مِنَ الْقُرْآنِ، قَالَ: «التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ، وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ، السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ، السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِينَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ».مسند احمد-۷ - ۴۹ .مسند عبد الله بن مسعود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



| صحیح الفاظ | غلط الفاظ |
| --- | --- |
| اَلْحَمْدُلله رَبّ الْعَالَمِين الرَّحْمَن الرَّحِيم مَالك يَوْم الدِّين إِيَّاكَ نَعْبُدُوإِيَّاكَ نَسْتَعِين اهْدنا الصِّرَاطَ الْمُستقيم صراطَ الَّذين أَنْعَمْتَ عَلَيْهِم غَيْر الْمَغضُوبَ عَلَيهم ولاَ الضَّالّين آمين | الحَمد الهمد– الأمد – الحَمدُوا – الحمدللهی رب الالمین – رب العالمین الروحمن الروحیم – الرامان الرن الرئیم مالک یوم دین – مالق یوم الدین ایاک نابد – ایاق نعبد– نابودو ایاک نستیین اهدینا– اهدنا– السراتول – الصیراطول المستکیم صراطوالذین – صیراتوالذین – اللذین انعمت – ائنمت – انعمت الیهم – علیحم – علیهیم – علیهوم غیرالمغضوب – المغذوب – المغظوب –ولا الظالین – ولغدالین – ولا لذالین ولا الدوالین و لغضالین–و لاغضوالین– ولا الضوالیین |
| سورة الاخلاص | |
| قُل هُوَ اللهُ أَحَدٌ، اللهُ الصَّمَدُ، لَمْ يَلِدْ، وَلَمْ يُولَدْ، وَلَمْ يَكُن لَهُ كُفُواً أَحَدٌ | کل هو الله – هؤالله – قل حو الله اهد – احَّد – آحد الله السمد– اللح الصمد – الله صمد – اللهو الصمدلم یلد – لم یلید ولم اولد – ولم یلُد ولم یقل له – ولم یکن له کَفوا– کوفوا |
| تسبیح الرکوع | |
| سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيم | سبهان – سبئان – سبحان – سوبحان ربی – ربئ– الغظیم – الاعظیم – العظویم |
| سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ | سمی الله – سمیع الله – سمیع اللح همده – حَمده – حَمده – حمدح – أمده ربنا – لک – الامد – لک الهمد– لک حمد |
| تسبیح السجدة | |
| سُبحانَ رَبِّيَ الأَعْلَى | ربی العلی – ربی الئلی – العلا |
| التشهد | |
| التَّحِيَّاتُ للهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ،السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُه،السَّلَامُ عَلَيْنَاوَعَلَى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِين،أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّداعَبْدُه وَرَسُولُهُ<br>اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّد، وَعَلَى آلِ مُحَمَّد،كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيم،وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيم إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ | التهیات– التایات– اتایاتوصلوات – و الصوات– والصلوادوالتیبات – و الطبات – والطیباتو اسلام علیک – السلاما الیک – السلام علیک ایحا النبي – ایئ النبي ورهمت الله– و رحمتوالله وبرکاتوه – سلام الینا – السلام الینا – السلام علین وعلی اباد الله – ابادالله الصالئین – الصالهین اشحدان – اشهدو – اشهدوان لا یلاه – لا اله الی الله – لا اله الی الله و اشدون مهمدا – مامدا ابده – عبدوه – ابدوه – و رسولوا–اللئم – اللحم – سل – صول – صلی– ألا محمد – هلا محمد کما صلَیت – سلیت – صولیت– صلیط علی یبراهیم – هبراهیم – الی ابراهیم – ا الی ال ابراحیم – ولآل ابراهیم انک همید |
| اللَّهُمَّ رَبَّنَاآتِنَا فِي الدُّنْيَاحَسَنَةً،وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةًوَقِنَا عَذَابَ النَّار | ربنا– ربناعاتنا– اتینا– اتنا في دنیا – اجنا في الدنیاخسنة – حصنة – اسنة و بي الاخرة – و في الاخرةو کنا اذاب – و قینا – وقنًا – وکینا – |
| دعاء القنوت | |
| اللَّهُمَّ إِنَّا نَسْتَعِينُكَ وَنَسْتَغْفِرُكَ وَنُؤْمِنُ بِكَ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْكَ وَنُثْنِي عَلَيْكَ الْخَيْر وَنَشْكُرُكَ وَلَا نَكْفُرُكَ وَنَخْلَعُ وَنَتْرُكُ مَنْ يَفْجُرُكَ اللَّهُمَّ إِيَّاكَ نَعْبُدُ | نستیینک – نسطعینک – نستعینوک و نستغفروک – و نستغپروک و نومین – و نومنو بک و نتوکلو – الیک ونسني ألیک و نشکروک – ولا نشکرک –ولا نکفروک – ونکفروک و نخلؤ – ونخلعوا و نتروک – و نترک یفجروکا ایاک نابد– نستهینو نحفدوا– و |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| غلط الفاظ | صحيح الفاظ |
|---|---|
| نحفد رهمتک – و نشخی– ونغشی– ان أذابک –بالکوفار– بالکپار– ملهک | وَلَكَ نُصَلِّي وَنَسْجُدُ وإِلَيْكَ نَسْعَى وَنَحْفِدُ ونرجو رَحْمَتَكَ ونَخْشَى عَذَابَكَ إِنَّ عَذابَكَ بِالْكُفَّارِ مُلْحِقٌ |

**اتم مطلب: د لمانځه ټکي په ټکي ژباړه:**

**﴿الله اکبر﴾: الله ډېر لوی دی.**

**﴿سُبْحانَکَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِکَ﴾: پاکي ده تالره ای الله او ثناء ده تالره.**

**﴿وتَبارَکَ اسْمُکَ وَتَعالٰی جَدُّکَ﴾: مبارک دی نوم ستا او لوړ دی شان ستا.**

**﴿وَلاَ اِلٰهَ غَيْرُکَ﴾: او له تا پرته بل معبود نشته.**

**﴿اعوذ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ﴾: پناه غواړم په الله سره له شيطان رټل شوي نه.**

**﴿بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ﴾: شروع کوم په نامه د الله چې ډېر زيات مهربان او رحم لرونکی دی.**

**﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ①﴾: ټولې ستاينې (صفتونه) خاص الله لره دي، چې پالونکی د عالميانو (د خپل حکمت له مخې) دی.**

**﴿الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ②﴾ډېر زيات مهربان پوره رحم لرونکی دی.**

**﴿مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ③﴾: ، څښتن (مالک) د ټولو امورو د ورځې جزا دی.**

**﴿اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ ④﴾: خاص تا ته عبادت کوو، او خاص له تا څخه مرسته (مدد) غواړو.**

**﴿اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ⑤﴾: وښيه موږ ته لاره سمه.**

**﴿صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ﴾ لاره د هغو کسانو چې انعام کړی تا پر هغو باندې.**

**﴿غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّيْنَ ⑦﴾: نه (لاره د هغو بدو کسانو چې) غضب کړی شوی پر هغو باندې او نه لاره (د هغو بدو کسانو چې) ګمراهان دي.**

**(آمين) ای الله تعالیٰ! ته زمونږ دعا قبوله کړه.**

**﴿قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ﴾: ووايه (ای محمده دوی ته) شان دا دی چې الله يو دی (په ذات او صفاتو خپلو کې).**

**﴿اَللّٰهُ الصَّمَدُ﴾: الله بې پروا دی (الله ته هر شی محتاج دي).**

**﴿لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُوْلَدْ﴾: نه ده زېږولي (هېڅوک) او نه دی زېږول شوی دی (له هېچا نه).**

**- ﴿وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ﴾: او نشته دغه (الله) لره برابر سيال هېڅوک.**

**﴿سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْمِ﴾: پاکي ده رب زما لره چې لوی دی.**

**﴿سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ﴾: الله تعالی د هغه چا اوري چې ستاينه يې کوي.**

**﴿رَبَّنَا لَکَ الْحَمْدُ﴾: ای زمونږ ربه تالره ستاينه ده.**

**﴿سُبْحَانَ رَبِّيَ الْاَعْلٰى﴾: پاکي ده رب زما لره چې ډېر اوچت دی.**

**﴿اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ﴾: ټول قولي، بدني، او مالی عبادتونه خاص الله تعالی لره دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحۡمَتُ اللهِ وَبَرَکَاتُهُ﴾: سلام دې وي پرتا ای نبي او د الله تعالی رحمت او برکتونه دې وي.

﴿اَلسَّلَامُ عَلَيۡنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِيۡنَ﴾: سلام دې وي په مونږ او د الله تعالی په نېکو بنده ګانو باندې.

﴿اَشۡهَدُ اَنۡ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاَشۡهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبۡدُهٗ وَرَسُوۡلُهٗ﴾: زه ګواهي ور کوم چې له الله تعالی پرته بل معبود نشته، او ګواهي ورکوم چې محمد د هغه بنده او رسول دی.

﴿اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ﴾: ای الله رحمت نازل کړه پر محمد ﷺ او د هغه په کورنۍ.

﴿كَمَا صَلَّيۡتَ عَلٰى اِبۡرَاهِيۡمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبۡرَاهِيۡمَ﴾: لکه څرنګه چې تا رحمت نازل کړی په ابراهیم علیه السلام او د هغه په کورنۍ.

﴿اِنَّکَ حَمِيۡدٌ مَّجِيۡدٌ﴾: بېشکه ته ستایل شوی او عزت مند یې.

﴿اَللّٰهُمَّ بَارِکۡ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ﴾: ای الله ته برکت نازل کړه پر محمد ﷺ او د هغه په کورنۍ.

﴿كَمَا بَارَکۡتَ عَلٰى اِبۡرَاهِيۡمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبۡرَاهِيۡمَ﴾: لکه څرنګه چې تا برکت نازل کړی ؤ په ابراهیم علیه السلام او د هغه په کورنۍ.

﴿اِنَّکَ حَمِيۡدٌ مَّجِيۡدٌ﴾: بېشکه ته ستایل شوی او عزتمند یې.

﴿اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا اٰتِنَا فِي الدُّنۡيَا حَسَنَةً﴾: ای الله زمونږ ربه! ته په دنیا کې مونږ ته نېکي (ښه ژوند) راکړه.

﴿وَفِي الۡاٰخِرَةِ حَسَنَةً﴾: او په اخرت کې نېکي (جنت) راکړه.

﴿وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ﴾: او ومو ژغوره د اور له عذاب څخه.

﴿السَّلَامُ عَلَيۡكُمۡ وَرَحۡمَةُ اللهِ﴾: سلام او د الله رحمت دې وي پر تاسو.

﴿اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسۡتَعِيۡنُکَ وَنَسۡتَغۡفِرُکَ﴾: ای الله! بېشکه مونږ له تا څخه مرسته او بښنه غواړو.

﴿وَنُؤۡمِنُ بِکَ وَنَتَوَکَّلُ عَلَيۡکَ﴾: او ایمان لرو پرتا او توکل کوو پر تا. ﴿وَنُثۡنِيۡ عَلَيۡکَ الۡخَيۡرَ﴾: او ستا غوره ستاینه کوو.

﴿وَنَشۡكُرُکَ﴾: او ستا شکر ادا کوو. ﴿وَلَا نَكۡفُرُکَ﴾: او ستا ناشکري نه کوو.

﴿وَنَخۡلَعُ وَنَتۡرُکُ مَنۡ يَّفۡجُرُکَ﴾: او مونږ جلا کېږو او پرېږدو هغه څوک چې ستا نافرماني کوي.

﴿اَللّٰهُمَّ اِيَّاکَ نَعۡبُدُ وَلَکَ نُصَلِّيۡ﴾: ای الله! خاص ستا عبادت کوو او خاص تا ته لمونځ کوو.

﴿وَنَسۡجُدُ﴾: او موږ تاته سجده کوو. ﴿وَاِلَيۡکَ نَسۡعٰى﴾: او ستا لور ته په تېزۍ سره درځو. ﴿وَنَحۡفِدُ﴾: او ستا د دین خدمت کوو.

﴿وَنَرۡجُوۡا رَحۡمَتَکَ﴾: او ستا د رحمت هیله لرو. ﴿وَنَخۡشٰى عَذَابَکَ﴾: او ستا له عذابه وېرېږو.

﴿اِنَّ عَذَابَکَ بِالۡكُفَّارِ مُلۡحِقٌ﴾: بېشکه ستا عذاب په کافرانو پورې پیوسته کېدونکی دی.

**نهم مطلب: د لمانځه د اداء کولو طریقه:**

کله چې یو مسلمان له اودس کولو نه وروسته د لمانځه د اداء کولو اراده وکړي نو مخ په قبله به ودرېږي، نیت به وکړي چې د کوم وخت او کوم لمونځ اداء کوي، بیا به تکبیر تحریمه ووایي.(۱)

داسې چې دواړه لاسونه یې د غوږونو تر نرمیو پورې پورته کړې وي دسړي دپاره، او که ښځه وي نو بیا به لاسونه تر اوږو پورې پورته کوي.(۲)

لاسونه به قبلې طرف ته مخامخ نیسي، یعني د لاسونو ورغوي باید قبلې طرف ته وي.

---

۱ قال الله تعالی: ﴿وَذَكَرَ اسۡمَ رَبِّهٖ فَصَلّٰى﴾ سورة الأعلی، آیة ۱۵ ﴿وَرَبَّکَ فَكَبِّرۡ﴾ سورة المدثر، آیة ۳.

۲ عن مالک بن الحویرث رضي الله عنه ان رسول الله ﷺ اذا کبر رفع یدیه حتی یحاذي بهما اذنیه وفي روایة: حتی یحاذي بهما فروع اذنیه،رواه مسلم-۱-۲۹۳. اثار السنن ص ۸۶، أبواب صفة الصلاة، مکتبة البشری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا به خپل ښی لاس په چپ لاس باندې ږدي، نارینه به خپل ښی لاس په چپ لاس باندې تر نامه (نو) لاندې تړي او ښځینه به ښی لاس په چپ لاس په سینه باندې ږدي.(۱)

د تکبیر تحریمه څخه وروسته به ثناء { سُبْحَانَكَ اللهُمَّ ...} ووایي(۲). له هغه وروسته به { أَعُوذُ بِاللَّهِ ...} او {بسم الله ...} ووایي.(۳)

بیا به سورة الفاتحه {الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ...} ووایي او د قران کریم څخه کوم سورت او یا کمه اندازه د تلاوت چې درې کوچني آیاتونه او یا یو اوږد آیت دې تلاوت کړي.(۴)

که چیرې په امام پسې په جماعت ولاړ وي نو بیا به فاتحه او قراءت نه وایي ځکه چې د امام قراءت د مقتدي لپاره هم قرائت دی.(۵)

او کله چې امام په جهري لمونځ کې سورة فاتحه ووایي، نو مقتدي به په ټیټ غږ سره آمین ووایي.(۶)

---

۱ -عن علقمة بن وائل بن حجر، عن أبيه قال: رأيت النبي صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يضع يمينه على شماله في الصلاة تحت السرة، رواه ابن أبي شيبة. اثار السنن، أبواب صفة الصلوة، باب في وضع اليمين تحت السرة، ص ۱۱۱، ح ۳۲۰، مكتبة البشرى.

۲ عن أنس بن مالك رضي الله عنه قال: كان رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إذا استفتح الصلاة قال: سبحانك اللهم وبحمدك، وتبارك اسمك، وتعالى جدك، ولا إله غيرك. رواه الطبراني في كتابه المفرد في الدعاء، وإسناده جيد. اثار السنن، أبواب صفة الصلاة، ص ۱۱۳، ح ۳۳۶، مكتبة البشرى.

عن الأسود، عن عمر رضي الله عنه أنه كان إذا استفتح الصلاة قال: سبحانك اللهم وبحمدك، وتبارك اسمك، وتعالى جدك، ولا إله غيرك. رواه الدارقطني والطحاوي، وإسناده صحيح. اثار السنن، أبواب صفة الصلاة، ص ۱۱۴، رقم الحديث ۳۳۷، مكتبة البشرى.

۳ عن الأسود بن يزيد قال: رأيت عمر بن الخطاب رضي الله عنه حين افتتح الصلاة كبر، ثم قال: سبحانك اللهم وبحمدك، وتبارك اسمك، وتعالى جدك، ولا إله غيرك، ثم يتعوذ. رواه الدارقطني، وإسناده صحيح. اثار السنن، أبواب صفة الصلاة، ص ۱۱۳، رقم الحديث ۳۳۹، مكتبة البشرى.

۴ وعن رفاعة بن رافع الزرقي رضي الله عنه وكان من أصحاب النبي صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال: جاء رجل ورسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جالس في المسجد فصلى قريبا منه، ثم انصرف إلى رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقال له: "أعد صلاتك فإنك لم تصل، فقال: يا رسول الله، علمني كيف أصنع؟ قال: "إذا استقبلت القبلة فكبر، ثم اقرأ بأم القرآن، ثم اقرأ بما شئت فإذا ركعت فاجعل راحتيك على ركبتيك، وامدد ظهرك، ومكن لركوعك، فإذا رفعت رأسك فأقم صلبك حتى ترجع العظام إلى مفاصلها، فإذا سجدت فمكن لسجودك فإذا رفعت رأسك فاجلس على فخذك اليسرى، ثم اصنع . ذلك في كل ركعة". رواه أحمد وإسناده حسن. اثار السنن، أبواب صفة الصلاة، ص ۱۱۷، رقم الحديث ۳۵۱، مكتبة البشرى.

۵ عن أبي موسى رضي الله عنه قال: علمنا رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال: "إذا قمتم إلى الصلاة فليؤمكم أحدكم، وإذا قرأ الإمام فأنصتوا". رواه أحمد ومسلم، وهو حديث صحيح. اثار السنن، أبواب صفة الصلاة، ص ۱۲۹–۱۳۱، رقم الحديث ۳۵۹، ۳۶۰، مكتبة البشرى.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، " إِنَّمَا جُعِلَ الْإِمَامُ لِيُؤْتَمَّ بِهِ، فَإِذَا كَبَّرَ فَكَبِّرُوا، وَإِذَا قَرَأَ فَأَنْصِتُوا. سنن ابن ماجه-۱-۲۷۶- رقم الحديث-۸۴۶.باب اذا قرأ الامام فانصتوا.

و عن جابر رضي الله عنه قال: قال رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "من كان له إمام فقراءة الإمام له قراءة. رواه الحافظ أحمد بن منيع في مسنده، ومحمد بن الحسن في الموطأ، والطحاوي والدارقطني وإسناده صحيح. اثار السنن، أبواب صفة الصلاة، ص ۱۳۲، رقم الحديث ۳۶۳، مكتبة البشرى.

وعن علقمة عن ابن مسعود، قال: ليت الذي يقرأ خلف الإمام ملئ فوه ترابا. رواه الطحاوي" وإسناده حسن. اثار السنن، أبواب صفة الصلاة، ص ۱۳۵، رقم الحديث ۳۷۰، مكتبة البشرى.

۶- قال الله تعالى: ﴿ادْعُوا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ﴾ سورة الاعراف، آية ۵۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له هغه وروسته به الله اکبر وايي او رکوع ته به کوزيږي، زنګنونه به په خپلو لاسونو ټينګ نيسي، او ﴿سبحان ربي العظيم﴾ به درې ځلي ووايي(۱)، بيا به سر پورته کړي او ﴿سمع الله لمن حمده به ووايي.(۲) سيده به په اطمينان سره ودريږي او (ربنا لک الحمد﴾ به ووايي. او که چيرته امام پسې ولاړ وي نو امام چې کله د رکوع څخه راپورته کيږي نو ﴿سمع الله لمن حمده﴾ به په جهر سره وايي او مقتدی به يوازې ﴿ربنا لک الحمد﴾ کلمات وايي.

بيا به له ولاړيدو څخه وروسته سجدې ته کوز شي داسې چې لومړی زنګنونه، بيا لاسونه او بيا مخ په ځمکه کيږدي، نارينه به خپل لاسونه د اړخونو څخه لرې نيسي او د پښو ګوتې به قبلې طرف ته کړوي، ځکه چې د بدن ټول اعضاء د امکان تر حده پورې بايد په لمانځه کې شامل شي. او ښځينه به لاسونه د اړخونو سره نژدې نيسي ځکه چې دا د ستر لپاره بهتره لار ده.(۳) په سجده

---

(ادْعُوا رَبَّكُمْ تَضَرُّعاً وَخُفْيَةً). وذكر عبد اصالحا رَضِيَ فِعْلَهُ فَقَالَ: " إِذْ نَادَى رَبَّهُ نِداءً خَفِيًّا". وَقَدِ اسْتَدَلَّ أَصْحَابُ أَبِي حَنِيفَةَ بِهَذَا عَلَى أَنَّ إِخْفَاءَ" آمِينَ" أَوْلَى مِنَ الْجَهْرِ بِهَا، لِأَنَّهُ دُعَاءٌ. وَقَدْ مَضَى الْقَوْلُ فِيهِ فِي" الْفَاتِحَةِ .تفسير القرطبي (۷/ ۲۲۴).

عن وائل بن حجر رضي الله عنه قال صلى بنا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فلما قرأ: غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ، قال: "أمين"، وأخفى بها صوته، ووضع يده اليمنى على يده اليسرى، وسلم عن يمينه وعن يساره. رواه أحمد والترمذي وأبو داود الطيالسي والدار قطني والحاكم وآخرون، وإسناده صحيح. اثار السنن، أبواب صفة الصلاة، ص ۱۴۳، رقم الحديث ۳۸۴، مكتبة البشرى.

۱- عن مصعب بن سعد رضي الله عنه قال: صليت إلى جنب أبي فطبقت بين كفي ثم وضعتهما بين فخذي، فنهاني أبي وقال: كنا نفعله فنهينا عنه، أمرنا أن نضع أيدينا على الركب. رواه الجماعة. اثار السنن، أبواب صفة الصلاة، ص ۱۶۲، رقم الحديث ۴۱۳، مكتبة البشرى. –

عن أبي برزة الأسلمي رضي الله عنه قال: كان رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إذا ركع لو صبَّ على ظهره ماء لاستقر. رواه الطبراني في الكبير والأوسط.

۲ عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: كان رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إذا قام إلى الصلاة يكبر حين يقوم، ثم يكبر حين يركع، ثم يقول: سمع الله لمن حمده حين يرفع صلبه من الركوع، ثم يقول وهو قائم: "ربنا ولك الحمد، ثم يكبر حين يهوي، ثم يكبر حين يرفع رأسه، ثم يكبر حين يسجد، ثم يكبر حين يرفع رأسه، ثم يفعل ذلك في الصلاة كلها حتى يقضيها، ويكبر حين يقوم من الثنتين بعد الجلوس. رواه الشيخان. اثار السنن، أبواب صفة الصلاة، ص ۱۶۱، رقم الحديث ۴۰۸، مكتبة البشرى.

عن أبي سلمة رضي الله عنه، عن أبي هريرة رضي الله عنه أنه كان يصلي بهم فيكبر كلما خفض ورفع، فإذا انصرف قال: إني لأشبهكم صلاة برسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رواه البخاري. اثار السنن، أبواب صفة الصلاة، ص ۱۶۲، رقم الديث ۴۰۹، مكتبة البشرى.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " إِذَا قَالَ الإِمَامُ: سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، فَقُولُوا: اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الحَمْدُ، فَإِنَّهُ مَنْ وَافَقَ قَوْلُهُ قَوْلَ المَلاَئِكَةِ، غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ .رواه البخاري-۱ - ۱۵۸ - رقم الحديث- ۷۹۷. اثار السنن، أبواب صفة الصلاة، ص ۱۶۶، رقم الحديث ۴۲۷، ۴۲۸، مكتبة البشرى.

۳-عن وائل بن حجر رضي الله عنه قال: رأيت رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إذا سجد وضع ركبتيه قبل يديه، وإذا نهض رفع يديه قبل ركبتيه. رواه الأربعة وابن خزيمة وابن حبان وابن السكن وحسنه الترمذي. اثار السنن، أبواب صفة الصلاة، ص ۱۶۹ - ۱۷۲، رقم الحديث ۴۳۱، ۴۳۳، ۴۴۳، ۴۳۵، ۴۳۷، ۴۴۴، مكتبة البشرى:

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «اعْتَدِلُوا فِي السُّجُودِ، وَلاَ يَبْسُطْ أَحَدُكُمْ ذِرَاعَيْهِ انْبِسَاطَ الكَلْبِ» صحيح البخاري (۱/ ۱۶۴) رقم الحديث-۸۲۲.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أُمِرْتُ أَنْ أَسْجُدَ عَلَى سَبْعَةِ أَعْظُمٍ عَلَى الجَبْهَةِ، وَأَشَارَ بِيَدِهِ عَلَى أَنْفِهِ وَاليَدَيْنِ وَالرُّكْبَتَيْنِ، وَأَطْرَافِ القَدَمَيْنِ وَلاَ نَكْفِتَ الثِّيَابَ وَالشَّعَرَ». صحيح البخاري (۱/ ۱۶۲) رقم الحديث-۸۱۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې به درې ځلې ﴿سبحان ربي الأعلى﴾ ووايي(۱)، بيا به سر راپورته کړي او الله اکبر به ووايي او د اطمينان.(۲) په حالت کې به لکه د تشهد په شکل کښيني، بيا به د الله اکبر په ويلو سره دوهمې سجدې ته لاړ شي او د اولې په څير به دا سجده هم اداء کړي.
بيا به دوهم رکعت ته د الله اکبر په ويلو سره ولاړ شي ثناء (سبحانک اللهم...) او تعوذ (أعوذ بالله ...) به نه وايي بلکې د تسميې (بسم الله ...) څخه به پيل وکړي.(۳) او د لمړي رکعت په څېر به دوهم رکعت هم ادا کړي.
د دوهم رکعت د دوهمې سجدې کولو څخه وروسته به کښيني، داسې چې په چپه پښه به ناست وي او ښۍ پښه به يې درولې وي چې ګوتې يې د قبلې طرف ته تاو وي، ښی لاس په ښي ورون او چپ لاس به يې په چپ ورون ايښی وي. بيا به تشهد {التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ ..... تر عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ پورې} ووايي.(۴)

---

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَالِكٍ ابْنِ بُحَيْنَةَ، «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا صَلَّى فَرَّجَ بَيْنَ يَدَيْهِ حَتَّى يَبْدُوَ بَيَاضُ إِبْطَيْهِ» صحيح البخاري (۱/ ۸۷) رقم الحديث ۳۹۰

عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ... يَفْرِشُ رِجْلَهُ الْيُسْرَى وَيَنْصِبُ رِجْلَهُ الْيُمْنَى، وَكَانَ يَنْهَى عَنْ عُقْبَةِ الشَّيْطَانِ. صحيح مسلم (۱/ ۳۵۷) رقم الحديث ۲۴۰ (۴۹۸)

و عن أبي حُميد الساعدي رضي الله عنه مرفوعا: ثُمَّ يَهْوِي إِلَى الْأَرْضِ فَيُجَافِي يَدَيْهِ عَنْ جَنْبَيْهِ، ثُمَّ يَرْفَعُ رَأْسَهُ وَيَثْنِي رِجْلَهُ الْيُسْرَى فَيَقْعُدُ عَلَيْهَا، وَيَفْتَحُ أَصَابِعَ رِجْلَيْهِ إِذَا سَجَدَ، وَيَسْجُدُ ثُمَّ يَقُولُ: اللَّهُ أَكْبَرُ. سنن أبي داود (۱/ ۱۹۴) رقم الحديث ۷۳۰

۱- عن حذيفة رضي الله عنه قال: صليت مع رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فركع، فقال في ركوعه: سبحان ربي العظيم، وفي سجوده: سبحان ربي الأعلى". رواه النسائي وآخرون وإسناده صحيح. وعن عقبة بن عامر الجهني رضي الله عنه قال: لما نزلت: (فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ العظيم)، قال لنا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اجعلوها في ركوعكم"، فلما نزلت (سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى)، قال قال: اجعلوها في سجودكم. رواه أحمد وأبو د داود وابن ماجه والحاكم وابن حبان وإسناده حسن. اثار السنن،أبواب صفة الصلاة، ص ۱۶۵، رقم الحديث ۴۲۳، ۴۲۴، مكتبة البشرى.

۲ عن أبي هريرة رضي الله عنه: أن النبي دخل المسجد فدخل رجل فصلى، ثم جاء فسلم على النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرد عليه النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقال: "ارجع فصل فإنك لم تصل"، فصلى ثم جاء فسلم على النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقال: "ارجع فصل فإنك لم تُصَلِّ ثلاثا، فقال: والذي بعثك بالحق ما أحسن غيره فعلمني، فقال: "إذا قمت إلى الصلاة فكبر، ثم اقرأ ما تيسر معك من القرآن، ثم اركع حتى تطمئن راكعا، ثم ارفع حتى تعتدل قائما، ثم اسجد حتى تطمئن ساجدا، ثم ارفع حتى تطمئن جالسا، ثم اسجد حتى تطمئن ساجدا، ثم افعل ذلك في صلاتك كلها. رواه الشيخان. اثار السنن، أبواب صفة الصلاة، ص ۱۶۳، رقم الحديث ۴۱۶، مكتبة البشرى.

وعن رفاعة بن رافع رضي الله عنه قال: جاء رجل ورسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جالس في المسجد فصلى قريبا منه، ثم انصرف إلى رسول الله فسلم عليه، فقال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أعد صلاتك فإنك لم تصل، فرجع فصلى كنحو ما صلى، ثم انصرف إلى رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فسلم عليه، فقال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أعد صلاتك فإنك لم تصل، فقال: يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ علمني، فقال: "إذا استقبلت القبلة فكبر، ثم اقرأ بأم القرآن، ثم اقرأ بما شئت، فإذا ركعت فاجعل راحتيك على ركبتيك، وَامْدُدْ ظهرك، ومكن ركوعك، فإذا رفعت رأسك فأقم صلبك حتى ترجع العظام إلى مفاصلها، فإذا سجدت فمكن سجودك، فإذا رفعت رأسك فاجلس على فخذك اليسرى، ثم اصنع ذلك في كل ركعة وسجدة". رواه أحمد وإسناده حسن. اثار السنن، أبواب صفة الصلاة، ص ۱۶۴، ح ۴۱۸، مكتبة البشرى:

۳: و سمى سراً في كل ركعة، أي ثم يسمي المصلي بأن يقول بسم الله الرحمن الرحيم. هذا هو المراد بالتسمية هنا. البحر الرائق، ج ۱، ص ۵۴۴، كتاب الصلاة، باب صفة الصلاة، دار الكتب العلمية بيروت لبنان.

۴- و عن وائل بن حجر رضي الله عنه، قال: صليت خلف رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فلما قعد و تشهد فرش قدمه اليسرى على الأرض و جلس عليها. رواه سعيد بن منصور و الطحاوي. و اسناده صحيح. اثار السنن، أبواب صفة الصلاة، ص ۱۷۷، ح ۴۵۷، ۴۵۹، ۴۶۰، ۴۶۲. مكتبة البشرى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر کله چې د أشهد أن لا اله الا الله کلمات ویل کیږي نو د ښي لاس شهادت ګوته باندې به اشاره کوي، د اشارې کولو مختلف ډولونه رانقل شوي لیکن د احنافو په نزد بهتره طریقه هغه ده کومه چې د وائل بن حجر رضي الله عنه په روایت کې راغلې ده، چې د منځنۍ ګوتې او ابهامه (غټه ګوته) څخه دې حلقه جوړه کړي او خنصره (خچه ګوته) او بنصره (تر خچې ګوتې وروسته دوهمه ګوته) دې راټولې کړي اود دواړو ګوتو سرونه دې له ورغوي سره ولګوي او په سبابه (شهادت ګوته) دې اشاره وکړي.(۱)

که چیرې دا لمونځ دوه رکعتي ؤ نو له تشهد څخه وروسته به درود{اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ... او همدا راز اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ...}ووايي(۲)او بیا به دا دعا {اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا ...} ووايي، او که چیرې د دوو رکعتونو څخه زیات وو نو د

---

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ وَهُوَ ابْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ: «مِنْ سُنَّةِ الصَّلَاةِ أَنْ تَنْصِبَ الْقَدَمَ الْيُمْنَى، وَاسْتِقْبَالُهُ بِأَصَابِعِهَا الْقِبْلَةَ وَالْجُلُوسُ عَلَى الْيُسْرَى» سنن النسائي (۲/ ۲۳۶) رقم الحديث ۱۱۵۸

عَنْ شَقِيقِ بْنِ سَلَمَةَ، قَالَ: قَالَ عَبْدُ اللَّهِ: كُنَّا إِذَا صَلَّيْنَا خَلْفَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قُلْنَا: السَّلَامُ عَلَى جِبْرِيلَ وَمِيكَائِيلَ السَّلَامُ عَلَى فُلَانٍ وَفُلَانٍ، فَالْتَفَتَ إِلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: " إِنَّ اللَّهَ هُوَ السَّلَامُ، فَإِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ، فَلْيَقُلْ: التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ، السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ، السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللَّهِ الصَّالِحِينَ، فَإِنَّكُمْ إِذَا قُلْتُمُوهَا أَصَابَتْ كُلَّ عَبْدٍ لِلَّهِ صَالِحٍ فِي السَّمَاءِ وَالأَرْضِ، أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ" صحيح البخاري (۱/ ۱۶۶) رقم الحديث ۸۳۱ .

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ رضي الله عنه، أَنَّهُ قَالَ: إِنَّ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُلِّمَ فَوَاتِحَ الْخَيْرِ، وَجَوَامِعَهُ، وَخَوَاتِمَهُ، فَقَالَ: " إِذَا قَعَدْتُمْ فِي كُلِّ رَكْعَتَيْنِ، فَقُولُوا: التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ، وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ، السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ، السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللَّهِ الصَّالِحِينَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، ثُمَّ لِيَتَخَيَّرْ أَحَدُكُمْ مِنَ الدُّعَاءِ أَعْجَبَهُ إِلَيْهِ، فَلْيَدْعُ بِهِ رَبَّهُ عَزَّ وَجَلَّ" . مسند أحمد مخرجا (۷/ ۲۲۷) رقم الحديث ۴۱۶۰ .

عن عبد الله بن الزبير رضي الله عنهما قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَعَدَ يَدْعُو، وَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى فَخِذِهِ الْيُمْنَى، وَيَدَهُ الْيُسْرَى عَلَى فَخِذِهِ الْيُسْرَى، وَأَشَارَ بِإِصْبَعِهِ السَّبَّابَةِ، وَوَضَعَ إِبْهَامَهُ عَلَى إِصْبَعِهِ الْوُسْطَى، وَيُلْقِمُ كَفَّهُ الْيُسْرَى رُكْبَتَهُ» صحيح مسلم (۱/ ۴۰۸) رقم الحديث ۱۱۳ (۵۷۹)

1 ..... وَهُوَ قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ، وَكَثُرَتْ بِهِ الْآثَارُ وَالْأَخْبَارُ فَالْعَمَلُ بِهِ أَوْلَى. اهـ. فَهُوَ صَرِيحٌ فِي أَنَّ الْمُفْتَى بِهِ هُوَ الْإِشَارَةُ بِالْمُسَبِّحَةِ مَعَ عَقْدِ الْأَصَابِعِ عَلَى الْكَيْفِيَّةِ الْمَذْكُورَةِ لَا مَعَ بَسْطِهَا فَإِنَّهُ لَا إشَارَةَ مَعَ الْبَسْطِ عِنْدَنَا، وَلِذَا قَالَ فِي مُنْيَةِ الْمُصَلِّي: فَإِنْ أَشَارَ يَعْقِدُ الْخِنْصَرَ وَالْبِنْصِرَ وَيُحَلِّقُ الْوُسْطَى بِالْإِبْهَامِ وَيُقِيمُ السَّبَّابَةَ. الدر المختار وحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (۱/ ۵۰۸).

عن وائل ابن حجر عن رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال ثم جلس فافترش رجله اليسرى و وضع يده اليسرى على فخذه اليسرى و مد مرفقة اليمنى على فخذه اليمنى و قبض ثنتين و حلق حلقة ثم رفع اصبعه فرأيته يحركها يدعو بها. رواه ابوداؤد، والدارمي. مشكوة المصابيح، ج ۱، ص ۵۲۷–۵۲۸، باب التشهد، مكتبة البشرى كراتشي.

۲- عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ أَبِي لَيْلَى، قَالَ: لَقِيَنِي كَعْبُ بْنُ عُجْرَةَ، فَقَالَ: أَلاَ أُهْدِي لَكَ هَدِيَّةً سَمِعْتُهَا مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ فَقُلْتُ: بَلَى، فَأَهْدِهَا لِي، فَقَالَ: سَأَلْنَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، كَيْفَ الصَّلاَةُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ البَيْتِ، فَإِنَّ اللَّهَ قَدْ عَلَّمَنَا كَيْفَ نُسَلِّمُ عَلَيْكُمْ؟ قَالَ: " قُولُوا: اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ .رواه الشيخان -۴-۱۴۶- رقم الحديث فى البخارى ۳۳۷۰. اثار السنن، أبواب صفة الصلاة، ص ۱۷۹، ح ۴۶۶، مكتبة البشرى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تشهد ویلو ځخه وروسته به پاتې دریم او یا څلورم رکعت ته پورته شي او هغه به هم د تېر دوهم رکعت په څېر اداء کړي خو که فرض لمونځ وي نو له فاتحې سره به ضم د سورت نه کوي.(۱)

د اخري رکعت د دوهمې سجدې ځخه وروسته به بیا تشهد، درود او دعا ووایي او بیا به لومړی ښي او بیا چپ طرف ته د ﴿السلام علیکم ورحمة الله﴾(۲) په ویلو سره سلام وګرځوي(۳).

**لسم مطلب: له لمانځه ځخه وروسته اذکار:**

کله چې سلام وګرځوي نو بیا به وروسته یو ځل الله اکبر وایي او بیا به درې ځلي استغفر الله وایي او بیا به ﴿اللهم أنت السلام و منک السلام، تبارکت یاذا الجلال و الاکرام﴾ ووایي.(۴)

---

۱ عن أبي قتادة رضي الله عنه: أن النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كان يقرأ في الظهر في الأوليين بأم الكتاب وسورتين وفي الركعتين الأخريين بأم الكتاب، ويسمعنا الآية، ويطول في الركعة الأولى ما لا يطيل في الركعة الثانية، وهكذا في الصبح. رواه الشيخان. اثار السنن، أبواب صفة الصلاة، ص ۱۴۷، ح ۳۸۷، مكتبة البشرى.

۲ وعن ابن مسعود: أن النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كان يسلم عن يمينه و عن يساره: السلام عليكم و رحمة الله، السلام عليكم ورحمة الله، حتى أرى بياض خده. رواه الخمسة" وصححه الترمذي. اثار السنن، أبواب صفة الصلاة، ص ۱۸۱، رقم الحديث ۴۷۰، مكتبة البشرى.

۳ - وإذا أراد الشروع في الصلاة، يقف مستقبل القبلة، ناوياً في قلبه الصلاة التي يريدها، ويكبر قائلاً: الله أكبر مع رفع يديه إلى محاذاة شحمتي أذنيه، وأما المرأة فترفع يديها إلى حذاء منكبيها. و يجوز الشروع بغير العربية للعاجز عنها، ولا تصح القراءة في الصلاة بغير العربية. و يضع الرجل يمينه على يساره تحت سرته في أثناء القيام و تضع المرأة الكف على الكف تحت ثديها. ويقرأ بعد التكبير مباشرة: سبحانك اللهم وبحمدك، وتبارك اسمك وتعالى جدك، ولا إله غيرك. ثم يتعوذ ويبسمل سراً. ثم يقرأ الفاتحة و شيئاً من القرآن، و أقله ثلاث آيات قصار ثم يكبر مع الانحطاط للركوع، و يضع يديه معتمداً بهما على ركبتيه و يفرج أصابعه، و يبسط ظهره، و يسويه بعجزه غير رافع و لا منكس رأسه، و يسبح فيه سبحان ربي العظيم، و أقله ثلاث. ثم يرفع رأسه من ركوعه قائلاً: سمع الله لمن حمده، و يضم إليه: اللهم ربنا ولك الحمد، و يقوم مستوياً حتى يطمئن، ثم يكبر مع الخرور إلى السجود، و يسجد واضعاً على الأرض ركبتيه ثم يديه ثم وجهه، و يمكن جبهته و أنفه من الأرض، و يقول: سبحان ربي الأعلى، و أقله ثلاث، و يظهر في أثناء السجود عضديه في غير زحمة، و يباعد بطنه عن فخذيه، و يوجه أطراف أصابع قدميه إلى القبلة. وأما المرأة فتنخفض و لا تبدي عضديها، وتلصق بطنها بفخذيها، لأنه أستر لها. ثم يرفع رأسه مكبراً، ويجلس بين السجدتين مطمئناً، كجلسة التشهد، ويدعو في هذه الجلسة سائلاً المغفرة ... ثم يكبر ويسجد ثانية كالسجدة الأولى، ثم ينهض على صدور قدميه بلا اعتماد على الأرض، حتى يستوي قائماً، وهو يقول: الله أكبر. ويقرأ في الركعة الثانية الفاتحة من غير استفتاح ولا تعوذ، ويضم إليها ما تيسر له من القرآن، ثم يركع ويسجد في الركعة الثانية كما فعل في الركعة الأولى. وبعد فراغه من سجدتي الركعة الثانية، يجلس واضعاً رجله اليسرى تحت اليتيه، وينصب قدمه اليمنى مع توجيه أصابع المنصوبة نحو القبلة ويضع يده اليمنى على فخذه اليمنى، ويسراه على اليسرى، باسطاً أصابعه، جاعلاً أطرافها عند ركبتيه .. ويقرأ سراً التشهد، ويشير بأصبع يده اليمنى المسبحة، عند الشهادة مع عقد أصابع يده اليمنى. وينوي بألفاظ التشهد معانيها على وجه الإنشاء، كأنه يحيي الله تعالى ويسلم على نبيه وعلى نفسه والصالحين. ولا يزيد في الفرض والوتر والسنن الرواتب على التشهد في القعدة الأولى، ويقوم بعدها مباشرة إلى الركعة الثالثة. ويقرأ في قيام الركعة الثالثة والرابعة، إن كانت صلاته ثلاثية أو رباعية الفاتحة فقط في الصلاة المفروضة. ويفعل في القعود الثاني كالأول، ويضم بعد التشهد الصلوات الإبراهيمية، ويدعو بعدها بالأدعية المأثورة التي تقدم ذكرها في سنن الصلاة. ثم يسلم عن يمينه ويساره، حتى يرى بياض خده، قائلاً: السلام عليكم ورحمة الله ناوياً السلام على من في يمينه ويساره. الفقه الحنفي فى ثوبه الجديد، كتاب الصلاة، تأليف أفعال الصلاة، ج ۱، ص ۲۴۰ – ۲۴۱:

۴ وعن ثوبان رضي الله عنه قال: كان رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إذا انصرف من صلاته استغفر ثلاثا، وقال: اللهم أنت السلام و منك السلام، تباركت ياذا الجلال والإكرام. رواه الجماعة إلا البخاري. لما في اثار السنن، أبواب صفة الصلاة، ص ۱۸۲، ح ۴۷۵، مكتبة البشرى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عایشي رضي الله تعالی عنها څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ به کله سلام وکړځولو، نو ویل به یې {اللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ}.(۱).

د مغیره بن شعبه رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ به د هر لمانځه څخه وروسته دا دعا لوستله:

{ لا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لا شريكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، اللهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِ مِنْكَ الْجَدِ}(۲).

د ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي: هر هغه څوک چې د لمانځه څخه وروسته ۳۳ ځله سبحان الله، ۳۳ ځله الحمد لله، ۳۳ ځله الله اکبر ووايي چې دا ۹۹ ځله کيږي او په سلم (۱۰۰) ځل لا إله إلا الله وحده لا شريک له، له الملک، وله الحمد، وهو على کل شيء قدير، ووايي نو ګناهونه به يې وبښل شي اګر که د سمندر د ځګ په اندازه هم وي.(۳)

همدارنګه د ابو امامة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي: هر هغه څوک چې د فرض لمونځ څخه وروسته آية الکرسي لولي نو جنت ته د داخليدلو څخه به يې پرته له مرګ څخه هيڅ شی منع نه کړي، يعني فقط چې مړ شي نو جنت ته به داخليږي.(۴)

دا خبره بايد واضحه شي چې د لمونځ څخه وروسته د ذکر او دعا په باره کې د رسول الله ﷺ څخه د کوم مطلق خاص وخت يعني (د فرضو څخه وروسته او يا د سنتو څخه وروسته) تعين نه دی شوی. له رسول الله ﷺ او صحابه کرامو رضي الله عنهم څخه په انفرادي او اجتماعي شکل سره دعا ثابته ده. همدارنګه په مبارکو احاديثو کې د (دبر الصلاة) يعني تر لمونځ وروسته د دعا کولو ترغيب هم ورکړل شوی دی. په داسې حال کې چې د (دبر) اطلاق لکه څرنګه چې د فرض لمنځونو په متصل باندې کيږي نو همدارنګه په منفصل وخت يعني وروسته له سنتو څخه هم کيږي، ځکه چې سنت د فرضو د مکملاتو

---

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: «كُنَّا نَعْرِفُ انْقِضَاءَ صَلَاةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالتَّكْبِيرِ». صحيح مسلم—۱-۴۱۰. رقم الحديث- (۵۸۳).

وَيُسْتَحَبُّ أَنْ يَسْتَغْفِرَ ثَلَاثًا وَيَقْرَأُ آيَةَ الْكُرْسِيِّ وَالْمُعَوِّذَاتِ وَيُسَبِّحُ وَيَحْمَدُ وَيُكَبِّرُ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ؛ وَيُهَلِّلُ تَمَامَ الْمِائَةِ وَيَدْعُو وَيَخْتِمُ بِسُبْحَانَ رَبِّكَ. الدر المختار-۱-۵۳۰.

۱ - وعن عائشة، قالت: كان رسول الله ﷺ إذا سلم لم يقعد إلا مقدار ما يقول: "اللهم أنت السلام، ومنك السلام، تباركت يا ذا الجلال والإكرام". رواه مسلم. مشكوة المصابيح، كتاب الصلاة، باب الذكر بعد الصلاة، الفصل الأول، ص ۵۴۴، ح ۹۶۲، مكتبة البشرى كراتشي:

۲ وعن المغيرة بن شعبة، أن النبي كان يقول في دبر كل صلاة مكتوبة: "لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد، وهو على كل شيء قدير، اللهم لا مانع لما أعطيت، ولا معطي لما منعت، ولا ينفع ذا الجد منك الجد". متفق عليه. مشكوة المصابيح، كتاب الصلاة، باب الذكر بعد الصلاة، الفصل الأول، ص ۵۴۴، ح ۹۶۲، مكتبة البشرى كراتشي:

۳ وعن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: "من سبح الله في دبر كل صلاة ثلاثاً ثلاثين، وحمد الله ثلاثاً وثلاثين، وكبر الله ثلاثاً وثلاثين، فتلك تسعة وتسعون، وقال تمام المائة: لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك، وله الحمد، وهو على كل شيء قدير، غفرت خطاياه وإن كانت مثل زبد البحر"، رواه مسلم. مشكوة المصابيح، كتاب الصلاة، باب الذكر بعد الصلاة، الفصل الأول، ص ۵۴۶، ح ۹۶۷، مكتبة البشرى كراتشي

۴ عَنْ أَبِي أُمَامَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ قَرَأَ آيَةَ الْكُرْسِيِّ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ مَكْتُوبَةٍ لَمْ يَمْنَعْهُ مِنْ دُخُولِ الْجَنَّةِ إِلَّا أَنْ يَمُوتَ» السنن الكبرى للنسائي (۹/ ۴۴) رقم الحديث ۹۸۴۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه شمېرل کېږي. لهذا که چېرته د فرضو او يا سنتو څخه وروسته په اجتماعي هيئت سره، له التزام پرته دعا وغوښتل شي نو په دې کې شرعاً څه قباحت نشته ليکن دا خبره ياد ساتل پکار دي چې مسئله د فتنې او فساد ذريعه بايد ونه ګرځول شي.(۱)

**يوولسم مطلب: د جماعت لمونځ:**

په جماعت سره لمونځ کول سنت مؤکد دی، په حکم د واجبو کې دی .(۲) د اسلام په مبارک دين کې د جماعت د لمانځه ډېر زيات تأکيد شوی دی، هر مسلمان ته پکار دي چې خپل پنځه وخته لمونځ بايد په مسجد کې په جماعت سره اداء کړي.

له ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صَلَّىٰ ٱللَّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي: څوک چې مسجد ته په سهار او ماښام کې لاړ شي هغه ته الله تعالى هر سهار او ماښام په جنت کې مېلمستيا تياروي.(۳)

همدارنګه له ده رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صَلَّىٰ ٱللَّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ فرمايلي: څوک چې په خپل کور کې ښه اودس وکړي، بيا د الله جل جلاله له جوماتونو نه يو جومات ته ورشي، چې د الله جل جلاله له فرضونو نه يوه فريضه په کې ادا کړي، د هغه يو قدم اخيستل يوه ګناه له منځه وړي او بل قدم يې يوه درجه اوچتوي.(۴)

همدارنګه په يو بل حديث مبارک کې له ده رضي الله عنه څخه روايت دی چې فرمايي: رسول الله صَلَّىٰ ٱللَّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: آيا هغه څه چې الله جل جلاله په هغه سره ګناهونه له منځه وړي او درجې پرې لوړوي درته ونه ښايم؟ هغوی وويل: ای د الله رسوله! ولې نه وښيه هغه وويل: په سختيو (په سخته يخنۍ تېزه ګرمۍ يا ناروغۍ) کې په کامله او پوره توګه سره اودس کول (د اوداسه فرض سنت او مستحب پر ځای کول) جوماتونو ته ډېر قدمونه اخيستل، له يو لمانځه وروسته د بل لمانځه انتظار کول دي، دا د اسلامي سرحد ساتنې له ثواب سره برابر عمل دی.(۵)

په جماعت سره لمونځ کول د يوازې لمانځه په پرتله اووه ويشت درجې فضيلت لري، ځکه چې په يو حديث مبارک کې د عبدالله بن عمر رَضِيَ ٱللَّٰهُ عَنۡهُمَا څخه روايت دی چې رسول الله صَلَّىٰ ٱللَّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:

« صَلَاةُ الجَمَاعَةِ تَفْضُلُ صَلَاةَ الفَذِّ بِسَبْعٍ وَعِشْرِينَ دَرَجَةً »(۶)

ژباړه: د جماعت لمونځ پر يوازې لمانځه اووه ويشت درجې فضيلت لري.

---

۱ قال العلامة يوسف البنوری رَحِمَهُ ٱللَّٰهُ الدعاء للأمام و المأموم و المنفرد مستحب عقب كل صلاة بلا خلاف – و يقول و يستحب أن يقبل على الناس فيدعوا. معارف السنن، ج۳، ص ۱۲۳.

۲- الجماعة سنة مؤكدة، أي قوية تشبه الواجب في القوة. والراجح عند أهل المذهب الوجوب و نقله في البدائع عن عامة مشايخنا، و ذكر هو وغيره أن القائل منهم أنها سنة مؤكدة ليس مخالفاً في الحقيقة بل في العبارة لأن السنة المؤكدة و الواجب سواء خصوصاً ما كان من شعائر الاسلام. البحر الرائق، كتاب الصلاة، ج ۱، ص ۶۰۲ – ۶۰۳، مكتبة دار الكتب العلمية بيروت لبنان:

۳ مَنْ غَدَا إِلَى المَسْجِدِ أَوْ رَاحَ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُ فِي الجَنَّةِ نُزُلاً كُلَّمَا غَدَا أَوْ رَاحَ. الصحيح لمسلم، كتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب المشى الى الصلاة تمحى به الخطايا وترفع به الدرجات، (۲/ ۵۳۶-۵۳۷)، ط: مكتبة البشرى، كراتشي – باكستان:

۴ - مَنْ تَطَهَّرَ فِي بَيْتِهِ ثُمَّ مَضَى إِلَى بَيْتٍ مِنْ بُيُوتِ اللهِ لِيَقْضِيَ فَرِيضَةً مِنْ فَرَائِضِ اللهِ كَانَتْ خُطْوَاتُهُ إِحْدَاهَا تَحُطُّ خَطِيئَةً وَالْأُخْرَى تَرْفَعُ دَرَجَةً. لما في الصحيح لمسلم، كتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب المشى الى الصلاة تمحى به الخطايا وترفع به الدرجات، (۲/۵۳۶)، ط: مكتبة البشرى، كراتشي – باكستان.

۵ أَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى مَا يَمْحُو اللَّهُ بِهِ الْخَطَايَا وَيَرْفَعُ بِهِ الدَّرَجَاتِ؟ قَالُوا: بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ. قَالَ: إِسْبَاغُ الْوُضُوءِ عَلَى الْمَكَارِهِ وَكَثْرَةُ الْخُطَا إِلَى الْمَسَاجِدِ وَانْتِظَارُ الصَّلَاةِ بَعْدَ الصَّلَاةِ فَذَلِكُمُ الرِّبَاطُ. الصحيح لمسلم، كتاب الطهارة، باب فضل اسباغ الوضوء على المكاره، (۲/ ۳۶)، مكتبة البشرى، كراتشي – باكستان.

۶ صحيح البخاري (۱/ ۱۳۱) رقم الحديث ۶۴۵ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه په یو بل حدیث مبارک کې راځي چې له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: د سړي لپاره په جمع لمونځ له هغه لمانځه چې په خپل کور او یا بازار کې یې وکړي پنځه ویشت برابره ګرځي، دا ځکه چې کله هغه اودس وکړي او ښه اودس وکړي (د خپل اوداسه فرض سنت او مستحب پر ځای کړي) بیا جومات ته ووځي پرته له لمانځه بل څه یې نه باسي، یو قدم نه پورته کوي مګر په هغه سره یې یوه درجه لوړیږي، او یوه یې ګناه له منځه ځي، کله چې لمونځ وکړي تر څو چې د لمانځه په ځای کې وي فرښتې ورته دعاګانې کوي، تر څو یې اودس نه وي مات شوی، هغوي وايي: ای الله جل جلاله! رحم پرې وکړې، تر څو چې د لمانځه انتظار کوي هغه د لمانځه په حکم کې دی.(۱)

په لمانځه کې د ستر اجر څښتن هغه څوک دی چې تر ټولو له ډېر لرې ځای څخه ورځي. بیا هغه چې له نورو کسانو لرې وي، هغه څوک چې له امام سره د جمع لمانځه لپاره انتظار باسي له هغه چا څخه چې خپل لمونځ وکړي او بیا ویده شي د ستر ثواب څښتن دی.(۲)

د اُبَی بن کعب رضي الله عنه نه روایت دی هغه ویلي: په انصارو کې یو سړی ؤ چې ما له هغه نه له جومات نه بل د لرې کور څښتن نه پېژندلو له هغه نه به هېڅ لمونځ نه تېرېدلو، هغه ته وویل شول: کاشکې تا کوم خر اخیستی وای چې په هغه به په تیارو او ګرمیو کې سپرېدلې، هغه وویل: په دې چې زما کور د جومات په څنګ کې وي زه نه خوشحالیږم زه غواړم چې زما جومات ته تلل او خپل کور ته بېرته ګرځېدل په عمل نامه کې ولیکل شي، رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: بېشکه الله جل جلاله تا ته دا هرڅه یوځای کړي.(۳)

څوک چې په تیارو کې د سهار او ماخوستن لمنځونو لپاره جومات ته ځي، د قیامت په ورځ په پل صراط د تېرېدو په مهال به ورته داسې رڼا وي چې هره خوا به یې روښانه کړې وي، ځکه چې رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي:

«بشِّرِ المَشَّائِينَ فِي الظُّلَمِ إلى المَسَاجِدِ بِالنور التَّامِّ يَوْمَ القِيامَة».(۴)

ژباړه: کوم خلق چې په تیارو کې جماتونو ته ځي ته هغوی ته زیری ورکړه چې د قیامت په ورځ به د هغوی لپاره کامل نور وي.

په یو حدیث مبارک کې د ابو هریرة رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ څخه رانقل دي چې رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: قسم په هغه ذات چې زما ساه د هغه په لاس کې ده ما قصد وکړ چې زه د لرګیو په راوړلو امر وکړم، لرګي راوړل شي بیا په لمونځ کولو امر وکړم چې اذان ورته

---

۱ وعن أبي هريرة رضي الله عنه قَالَ: قال رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: «صَلاةُ الرَّجُلِ فِي جَمَاعةٍ تُضَعَّفُ عَلَى صَلاتِهِ فِي بَيْتِهِ وفي سُوقِهِ خَمْسًا وَعِشْرِينَ ضِعفًا، وَذلِكَ أَنَّهُ إِذَا تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الوُضُوءَ، ثُمَّ خَرَجَ إلى المَسْجِدِ، لا يُخرِجُهُ إلاَّ الصَّلاةُ، لَمْ يَخْطُ خَطْوَةً إلاَّ رُفِعَتْ لَهُ بِهَا دَرَجَةٌ، وَحُطَّتْ عَنهُ بِهَا خَطِيئَةٌ، فَإِذَا صَلَّى لَمْ تَزَلِ المَلائِكَةُ تُصَلِّي عَلَيْهِ مَا دَامَ فِي مُصَلاَّهُ، مَا لَمْ يُحدِث، تقولُ: اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَيهِ، اللَّهُمَّ ارْحَمْهُ، وَلَا يَزَالُ فِي صَلاةٍ مَا انْتَظَرَ الصَّلاةَ. صحيح البخاري، كتاب الأذان، باب فضل صلاة الجماعة، ج۱، ص ۴۲۹، مكتب البشرى كراتشي.

۲ إِنَّ أَعْظَم الناس أَجرًا في الصَّلاةِ أَبْعَدُهُمْ إِلَيها مَمْشًى فَأَبْعَدُهُم. والَّذي يَنْتَظِرُ الصَّلاةَ حتَّى يُصلِّيها مَعَ الإِمامِ أَعْظَمُ أَجراً مِنَ الذي يُصلِّيها ثُمَّ يَنَامُ. صحيح لمسلم، كتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب فضل كثرة الخطا الى المساجد، (۲/ ۵۳۴)، ط: مكتبة البشرى، كراتشي – باكستان.

۳ عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ رضي الله عنه قَالَ: كَانَ رَجُلٌ لَا أَعْلَمُ رَجُلًا أَبْعَدَ مِنَ الْمَسْجِدِ مِنْهُ وَكَانَ لَا تُخْطِئُهُ صَلَاةٌ. قَالَ: فَقِيلَ لَهُ أَوْ قُلْتُ لَهُ: لَوِ اشْتَرَيْتَ حِمَارًا تَرْكَبُهُ فِي الظَّلْمَاءِ، وَفِي الرَّمْضَاءِ قَالَ: مَا يَسُرُّنِي أَنَّ مَنْزِلِي إِلَى جَنْبِ الْمَسْجِدِ، إِنِّي أُرِيدُ أَنْ يُكْتَبَ لِي مَمْشَايَ إِلَى الْمَسْجِدِ، وَرُجُوعِي إِذَا رَجَعْتُ إِلَى أَهْلِي. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: قَدْ جَمَعَ اللهُ لَكَ ذَلِكَ كُلَّهُ. الصحيح لمسلم، كتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب فضل كثرة الخطا الى المساجد، (۲/ ۵۳۴)، ط: مكتبة البشرى، كراتشي – باكستان.

۴ لما في جامع الترمذي، أبواب الصلاة، باب ما جاء في فضل العشاء والفجر في جماعة، (۱/ ۱۱۹)، الطاف اينڈ سنز، كراتشي باكستان للنشر والتوزيع.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړل شي، بیا یو سړي ته امر وکړم چې خلکو ته لمونځ ورکړي، بیا هغو خلکو پسې چې لمانځه ته نه دي راغلي ورشم په هغوی د هغوی کورونه وسوځوم.(۱)

یوه ورځ رسول الله ﷺ ته یو نابینا صحابي مبارک راغی، غوښتنه یې ترینه وکړه چې زه ځوک نه لرم چې ما مسجد ته د لمانځه لپاره راولي او بیرته کورته مې بوځي، که چیرته ما ته اجازه راکړې نو زه به خپل لمونځ په کور کې کوم. رسول الله ﷺ ورته وفرمایل چې آیا د اذان غږ اورې؟ هغه ورته وویل هو د اذان غږ اورم، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل چې بیا د اذان کوونکي بلنه ومنه یعني د جماعت لپاره مسجد ته راځه.(۲) نو که چیرته اوس مونږ فکر وکړو چې رسول الله ﷺ داسې کس ته اجازه نه ورکوله چې په سترګو نابینا دی او نه یې ځوک شته چې په تلو او راتلو کې ورسره مرسته وکړي، نو زمونږ لپاره به څه عذر وي چې الحمدلله د بدن ټول غړي مو جوړ وي او بیا هم د خپلې سستۍ له امله د جماعت لمونځ ته ځان نشو حاضرولای او همېشه په دې فکر کې یو چې څنګه یوه بهانه پیدا کړو چې د مسجد له تګ څخه پاتې شو.

په یو بل حدیث مبارک کې چې د عبدالرحمن ابن أبي لیلی رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه فرمایي: یوه ورځ رسول الله ﷺ ته عبدالله ابن ام مکتوم راغی او ویې ویل، ای د الله رسوله ﷺ ! مدینه منوره ماران لړمان او ځناور ډېر لري، که په کور کې راته د ماخوستن او سهار د لمانځه د ادا کولو اجازه راکړې؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: آیا حي على الصلاة، حي على الفلاح اورې؟ ویې ویل: هو. نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: نو راځه.(۳)

د مسجد محترم امام ته لازمه ده چې خپلو مقتدیانو او د قریې خلکو ته د جماعت په پابندۍ باندې اصرار وکړي او هغوی ته د جماعت د لمانځه اهمیت او ارزښت بیان کړي. عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه فرمایي: ځوک چې خوښوي چې الله جل جلاله سره د رښتیني تابع داری په حالت کې مخامخ شي پنځه وخته لمنځونه دې په هغه جومات کې چې اذان په کې کیږي په جمع سره ادا کړي، الله جل جلاله ستاسو نبي صلی الله علیه وسلم ته د هدایت او حق موندنې لارې څرګندې کړي دا پنځه وخته لمونځ حق موندنې له لارو چارو څخه دی، که تاسو په خپلو کورونو کې لمونځ وکړ لکه دغه منافق یې چې خپل کور کې کوي تاسو به د خپل نبي تګلاره پریښې وي، که تاسو د خپل نبي تګلاره پرېښوده هرومرو به ګمراهان او بې لارې شی، مونږ به خپل ملګري لیدل پرته له هغه منافق نه چې منافقت به یې څرګند و بل چا له جمع مخالفت نه کولو، یو سړی به په داسې حال کې چې دوه کسانو به د مټو نه نیولی ؤ راوستل شو او په صف کې به ودرول شو. (۴)

---

۱ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ آمُرَ بِحَطَبٍ فَيُحْتَطَبَ ثُمَّ آمُرَ بِالصَّلَاةِ فَيُؤَذَّنَ لَهَا ثُمَّ آمُرَ رَجُلًا فَيَؤُمَّ النَّاسَ ثُمَّ أُخَالِفَ إِلَى رِجَالٍ فَأُحَرِّقَ عَلَيْهِمْ بُيُوتَهُمْ. صحیح البخاري، کتاب الأذان، باب وجوب صلاة الجماعة، وقال الحسن ان منعته أمه عن العشاء في الجماعة شفقة لم یطعها، (۱/ ۱۵۷)، ط: مکتبه رحمانیه، اقرأ سنټر غزني سټریټ اردو بازار – لاهور.

۲ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: جَاءَ أَعْمَى إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صلی الله علیه وسلم فَقَالَ: إِنَّهُ لَيْسَ لِي قَائِدٌ يَقُودُنِي إِلَى الصَّلَاةِ فَسَأَلَهُ أَنْ يُرَخِّصَ لَهُ فِي بَيْتِهِ فَأَذِنَ لَهُ، فَلَمَّا وَلَّى دَعَاهُ، فَقَالَ لَهُ: «هَلْ تَسْمَعُ النِّدَاءَ بِالصَّلَاةِ؟» فَقَالَ: نَعَمْ، قَالَ: «فَأَجِبْ». صحیح لمسلم، کتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب یجب اتیان المسجد على من سمع النداء، رقم الحدیث: (۱۴۸۵)، (۲/۵۲۱)، ط: مکتبة البشری، کراتشي – باکستان.

۳ - عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى قَالَ: جَاءَ ابْنُ أُمِّ مَكْتُومٍ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، إِنَّ الْمَدِينَةَ أَرْضُ هَوَامٍّ وَسِبَاعٍ، فَهَلْ لِي رُخْصَةٌ أَنْ أُصَلِّيَ الْعِشَاءَ وَالْفَجْرَ فِي بَيْتِي؟ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَتَسْمَعُ حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ» قَالَ: فَقَالَ: نَعَمْ قَالَ: «فَحَيَّهَلَا». مصنف ابن أبي شیبة، کتاب الصلوات، باب من اذا سمع المنادي فلیجب، (۱/ ۳۰۴)، المکتبة الشاملة:

۴ - عَن ابنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَلْقَى اللَّهَ تعالى غَدًا مُسْلِمًا فَلْيُحَافِظْ عَلَى هَؤُلَاءِ الصَّلَوَات حَيْثُ يُنَادَى بِهِن فَإِنَّ اللَّهَ شَرَعَ لِنَبِيِّكم صلى الله علیه وسلم سُنَنَ الْهُدَى وَإِنَّهُنَّ مِنْ سُنَنِ الْهُدَى وَلَو أَنَّكُمْ صَلَّيْتم فِي بُيُوتِكم كما يُصَلِّي هذا الْمُتَخَلِّف فِي بَيْتِهِ لَتَرَكتم سُنَّةَ نَبِيِّكم ولو تَركتم سُنَّةَ نَبِيِّكم لَضَلَلْتُم ولَقَد رَأَيْتُنَا وما يَتَخَلَّف عنها إِلاَّ منافق مَعْلُومُ النِّفَاق وَلَقَدْ كَانَ الرَّجُل يُؤتَى بِهِ يُهَادَي بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ حَتَّى يُقَامَ فِي الصَّفِّ. صحیح

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یو بل روایت کې له ده مبارک رضي الله عنه څخه روایت دی چې: رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ ته د حق موندنې لارې ښودلې دي، د حق موندنې له لارو څارو څخه په هغه جوماتونو کې لمونځ کول دي چې په هغه کې أذان کېږي.(۱)

**دولسم مطلب: د مقتدي ډولونه:**

**مقتدي پر څلور ډوله دی:**

**۱- مدرک، ۲- لاحق. ۳- مسبوق. ۴- لاحق مسبوق**

**مدرک:** هغه چا ته ویل کیږي، چې له امام سره بشپړ لمونځ ترسره کړي، یعني ټول رکعتونه له امام سره ترسره کړي، برابره خبره ده، که له امام سره په تکبیر تحریمه کې شریک وي، یا د لومړي رکعت په رکوع کې ورسره شریک شي، او له امام سره په لمانځه کې شریک وي، تر دې چې په وروستۍ ناسته کې هم ورسره شریک وي.

**لاحق:** هغه څوک چې له پیل څخه له امام سره شریک وي وروسته د یو عذر له مخې او دا سه ته لاړ شي یو رکعت یا زیات له یو رکعت څخه ترینه تیر شي لاحق بلل کېږي.

**مسبوق:** هغه څوک چې پس له تیریدو د یو رکعت یا دوه رکعتونو څخه په جماعت کې شریک او تر آخره له امام سره وي.

**لاحق مسبوق:** هغه مقتدي ته ویل کیږي، چې مقتدي مقیم وي، او په مسافر امام پسې یې اقتداء کړې وي، خو له امام سره په لمانځه کې په لومړي رکعت کې شریک نه شي.(۲)

---

مسلم, کتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب صلاة الجماعة من سنن الهدى، رقم الحديث: (١٣٨٧)، (٢/ ٥٢٢)، ط: مكتبة البشرى، كراتشي – باكستان:

١ وفي رواية له قال: إِنَّ رسولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم عَلَّمَنَا سُنَنَ الهُدَى وَإِنَّ مِن سُنَنِ الهُدَى الصَّلَاةَ في المَسجِدِ الذي يُؤَذَّنُ فيه. صحيح مسلم, كتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب صلاة الجماعة من سنن الهدى، رقم الحديث: (١٣٨٦)، (٢/ ٥٢٢)، ط: مكتبة البشرى، كراتشي – باكستان.

٢ مَطْلَبٌ فِي أَحْكَامِ الْمَسْبُوقِ وَالْمُدْرِكِ اللَّاحِقِ (قَوْلُهُ وَاعْلَمْ أَنَّ الْمُدْرِكَ إلَخْ) حَاصِلُهُ أَنَّ الْمُقْتَدِيَ أَرْبَعَةُ أَقْسَامٍ: مُدْرِكٌ، وَلَاحِقٌ فَقَطْ، وَمَسْبُوقٌ فَقَطْ، وَلَاحِقٌ مَسْبُوقٌ؛ فَالْمُدْرِكُ لَا يَكُونُ لَاحِقًا وَلَا مَسْبُوقًا، وَهَذَا بِنَاءً عَلَى تَعْرِيفِهِ الْمُدْرِكَ تَبَعًا لِلْبَحْرِ وَالدُّرَرِ بِمَنْ صَلَّاهَا كَامِلَةً مَعَ الْإِمَامِ: أَيْ أَدْرَكَ جَمِيعَ رَكَعَاتِهَا مَعَهُ، سَوَاءٌ أَدْرَكَ مَعَهُ التَّحْرِيمَةَ أَوْ أَدْرَكَهُ فِي جُزْءٍ مِنْ رُكُوعِ الرَّكْعَةِ الْأُولَى إلَى أَنْ قَعَدَ مَعَهُ الْقَعْدَةَ الْأَخِيرَةَ، سَوَاءٌ سَلَّمَ مَعَهُ أَوْ قَبْلَهُ؛ وَأَمَّا عَلَى مَا فِي النَّهْرِ مِنْ تَعْرِيفِهِ الْمُدْرِكَ بِمَنْ أَدْرَكَ أَوَّلَ صَلَاةِ الْإِمَامِ فَإِنَّهُ قَدْ يَكُونُ لَاحِقًا، وَعَلَيْهِ فَيُقَالُ: الْمُقْتَدِي إمَّا مُدْرِكٌ أَوْ مَسْبُوقٌ، وَكُلٌّ مِنْهَا إمَّا لَاحِقٌ أَوْ لَا. وَاعْلَمْ أَنَّ التَّفْرِقَةَ بَيْنَ الْمُدْرِكِ وَاللَّاحِقِ اصْطِلَاحِيَّةٌ. وَفِي اللُّغَةِ: يَصْدُقُ كُلٌّ مِنْهُمَا عَلَى الْآخَرِ. مَطْلَبٌ فِيمَا لَوْ أَتَى بِالرُّكُوعِ أَوْ السُّجُودِ أَوْ بِهِمَا مَعَ الْإِمَامِ أَوْ قَبْلَهُ أَوْ بَعْدَهُ (قَوْلُهُ مَنْ فَاتَتْهُ الرَّكَعَاتُ إلَخْ) الْمُرَادُ بِالْفَوَاتِ أَنَّهُ لَمْ يَصِلْ جَمِيعَ صَلَاتِهِ مَعَ الْإِمَامِ بِأَنْ لَمْ يَصِلْ مَعَهُ شَيْئًا مِنْهَا أَوْ صَلَّى بَعْضَهَا. فَيَدْخُلُ فِيهِ الْمُقِيمُ الْمُقْتَدِي بِمُسَافِرٍ فَإِنَّهُ لَمْ يَفُتْهُ شَيْءٌ مِنْ صَلَاةِ الْإِمَامِ بَعْدَ اقْتِدَائِهِ بِهِ وَلَكِنَّهُ صَلَّى مَعَهُ بَعْضَ صَلَاةِ نَفْسِهِ فَيَكُونُ لَاحِقًا فِي بَاقِيهَا. هَذَا مَا ظَهَرَ لِي فَتَدَبَّرْهُ (قَوْلُهُ بَعْدَ اقْتِدَائِهِ) مُتَعَلِّقٌ بِقَوْلِهِ فَاتَتْهُ. ثُمَّ إنْ كَانَ اقْتِدَاؤُهُ فِي أَوَّلِ الصَّلَاةِ فَقَدْ يَفُوتُهُ كُلُّهَا، بِأَنْ نَامَ عَقِبَ اقْتِدَائِهِ إلَى آخِرِهَا، وَقَدْ يَفُوتُهُ بَعْضُهَا، وَإِنْ كَانَ اقْتِدَاؤُهُ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ مَثَلًا فَقَدْ فَاتَهُ بَعْضُهَا وَيَكُونُ لَاحِقًا مَسْبُوقًا وَالْأَوَّلُ لَاحِقٌ فَقَطْ. نَعَمْ عَلَى تَعْرِيفِ النَّهْرِ الْمَارِّ يَكُونُ مُدْرِكًا لَاحِقًا فَافْهَمْ (قَوْلُهُ بِعُذْرٍ) مُتَعَلِّقٌ بِفَاتَتْهُ أَيْضًا (قَوْلُهُ وَزَحْمَةٍ) بِأَنْ زَحَمَهُ النَّاسُ فِي الْجُمُعَةِ مَثَلًا فَلَمْ يَقْدِرْ عَلَى أَدَاءِ الرَّكْعَةِ الْأُولَى مَعَ الْإِمَامِ وَقَدَرَ عَلَى الْبَاقِي، فَيُصَلِّيهَا ثُمَّ يُتَابِعُهُ (قَوْلُهُ وَسَبْقِ حَدَثٍ) أَيْ لِمُؤْتَمٍّ، وَكَذَا الْإِمَامُ إذَا أَدَّى الْمُسْتَخْلِفُ بَعْضَهَا حَالَ الذَّهَابِ إلَى الْوُضُوءِ ط (قَوْلُهُ وَصَلَاةِ خَوْفٍ) أَيْ فِي الطَّائِفَةِ الْأُولَى وَأَمَّا الثَّانِيَةُ فَمَسْبُوقَةٌ اهـ ح (قَوْلُهُ وَمُقِيمٍ إلَخْ) أَيْ فَهُوَ لَاحِقٌ بِالنَّظَرِ لِلْأَخِيرَتَيْنِ، وَقَدْ يَكُونُ مَسْبُوقًا أَيْضًا كَمَا إذَا فَاتَهُ أَوَّلُ صَلَاةِ إمَامِهِ الْمُسَافِرِ ط (قَوْلُهُ فَإِنَّهُ يَقْضِي رَكْعَةً) لِأَنَّ الرُّكُوعَ وَالسُّجُودَ قَبْلَ الْإِمَامِ لَغْوٌ، فَيَنْتَقِلُ مَا فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ إلَى الْأُولَى، وَمَا فِي الثَّالِثَةِ إلَى الثَّانِيَةِ، وَمَا فِي الرَّابِعَةِ إلَى الثَّالِثَةِ، فَبَقِيَتْ عَلَيْهِ رَكْعَةٌ هُوَ لَاحِقٌ فِيهَا. هَذَا. رد المحتار على الدر المختار، كتاب الصلاة، باب الامامة، (١/ -٥٩٤)، ط: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لومړی فرعه: د مدرک احکام:**

په پورتنیو څلورو ډولونو کې د مدرک اړوند احکام واضح دي، ځکه له امام سره د لمانځه له شروع بیا تر پایه شریک وي، نو دلته بیا ورته د تفصیل ضرورت نشته.

**دویمه فرعه: د لاحق احکام:**

**مسئله:** لاحق مقتدي د خپل لمانځه ترسره کولو پرمهال د مدرک په څېر دی، یعنې کله چې لاحق هغه لمونځ راګرځوي، چې ترې تېر شوی دی، نو قراءت به هم په کې نه لولي، او نه به د سهوې سجده کوي.(۱)

**دریمه فرعه: د مسبوق احکام:**

**مسئله:** مسبوق مقتدي به د امام له سلام ګرځولو څخه وروسته هغه لمونځ چې ترې پاتې شوی دی راګرځوي.

**مسئله:** کله چې مسبوق د پاته رکعتونو د راګرځولو لپاره پورته شي، نو سبحانک اللهم.. به وايي، أعوذ بالله..به وايي، قراءت به کوي.(۲)

**مسئله:** کله چې یو مقتدي امام په رکوع، سجده یا قعده کې ومومي؛ نو لومړی دې د ولاړې په حالت کې د تحریمې تکبیر ووايي، او بیا دې دویم تکبیر ووايي، او له امام سره دې شریک شي. (۳)

**څلورمه فرعه: د لاحق او مسبوق احکام:**

لاحق مسبوق یعني داسې مقتدي چې هم لاحق وي، هم مسبوق وي، نو حکم یې دا دی، چې په هغو رکعتونو کې به چوپ درېږي، چې لاحق دی، او په هغو رکعتونو کې به قراءت کوي، چې مسبوق دی.(۴)

د بېلګې په ډول: مقتدي مقیم وي، او امام مسافر وي، او له مقتدي څخه یو رکعت تېر شي، یعنې مسافر امام په دویم رکعت کې وي، او دغه مقتدي په لمانځه کې ورسره یو ځای شي، نو امام دې د دویم رکعت له پوره کېدو وروسته سلام وګرځوي، نو مقتدي به درې رکعتونه راګرځوي، چې د لومړي رکعت د راګرځولو پر مهال به د مسبوق په څېر وي، یعنې سبحانک اللهم..أعوذ بالله...بسم الله... سورة فاتحه او سورت به وايي، او په هغو نورو دوو رکعتونو کې به د لاحق په څېر وي، یعنې د فاتحې د سورت د ویلو په اندازه به چوپ درېږي.(۵)

## څلورم مبحث: د مختلفو لمنځونو احکام:

**لومړی مطلب: د جُمعې لمونځ:**

د جمعې لمونځ فرض عین دی او ور څخه منکر کافر دی، او فرضیت یې په قرانکریم، احادیثو او د امت په اجماع ثابت دی.(۶)

د جمعې لمونځ په هر هغه مسلمان فرض دی چې عاقل، بالغ، ازاد، نارینه، مقیم او روغ وي، په لېوني، ماشوم، غلام غیر د

---

۱ - وحكمه كمؤتم فلا يأتي بقراءة ولا سهو. رد المحتار على الدر المختار، كتاب الصلاة، باب الامامة، (۳۴۴/۲ - ۳۴۵)، ط: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان.

۲ والمسبوق من سبقه الامام بها أو ببعضها وهو منفرد حتى يثني ويتعوذ ويقرأ، وان قرأ مع الامام لعدم الاعتداد بها لكراهتها فيما يقضيه. رد المحتار على الدر المختار، كتاب الصلاة، باب الامامة، (۲/ ۳۴۶-۳۴۷)، ط: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان.

۳ الفقه الحنفي في ثوبه الجديد ج۱ ص۲۰۱ باب فروض الصلاة.

۴ - ومقيم ائتم بمسافر: أى فهو لاحق بالنظر للأخيرتين، وقد يكون مسبوقا أيضا كما اذا فاتته أو صلاة امامه المسافر. رد المحتار على الدر المختار، كتاب الصلاة، باب الامامة، (۲/۳۴۴)، ط: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان:

۵ ومقيم ائتم بمسافر: أى فهو لاحق بالنظر للأخيرتين، وقد يكون مسبوقا أيضا كما اذا فاتته أو ل صلاة امامه المسافر. رد المحتار على الدر كتاب الصلاة، باب الامامة، (۲/۳۴۴)، ط: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان.

۶ أما الكتاب فقوله تعالى: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِن يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ﴾. سورة الجمعه، آية۹. وأما السنة: فالحديث المشهور، وهو ما روي عن النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى فَرَضَ عَلَيْكُمُ الْجُمُعَةَ فِي مَقَامِي هَذَا، في

(c) ketabton.com: The Digital Library



مالک له اجازې څخه، مسافر، مریض او هغه څوک چې له دښمن څخه ویره ولري فرض نه دی. که حضور پکې پیدا کړي د ماسپښین دلمانځه قایم مقام ګرځي.(۱)

کله چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له قباء څخه مدینې منورې ته تشریف راوړلو نو دا د جمعې مبارکې ورځ وه او په دې وخت کې یو جومات هم آباد نه ؤ. د دې لپاره رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په وادي بني سالم بن عمرو کې د جمعې خطبه وویله، دا د جمعې لومړی خطبه وه چې له ده مبارک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه واوریدل شوه.(۲)

د ابولبابه بدري رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: د د اونۍ دورځو سرداره د جمعې ورځ ده، او د الله جَلَّ جَلَالُهُ په نزد د عظمت والا ورځ ده او دا ورځ د الله جَلَّ جَلَالُهُ په وړاندې د لوی اختر او کوچني اختر څخه لویه ده. په دغه ورځ کې یو ساعت دی چې د کوم مسلمان دعا د هغه ساعت سره برابره شي نو الله تعالی یې په خپل فضل سره قبلوي.(۳)

د جمعې د لمانځه وخت د ماسپښین د لمانځه وخت دی. په اول وخت کې څلور رکعته سنت بیا دوه خطبې چې د دوه رکعتونو قایم مقام دي او وروسته دوه رکعته فرض لمونځ په جماعت سره ، جهري قرائت سره لوستل ، بیا څلور رکعته سنت بالآخره دوه رکعته سنت اداء کیږي . د خطبې لوستلو په وخت کې سکوت لازم دی لمونځ او خبرې کول منع دي .د خطبې په جریان کې که د

---

يَوْمِي هَذَا فِي شَهْرِي هَذَا، فِي سَنَتِي هَذِهِ؛ فَمَنْ تَرَكَهَا فِي حَيَاتِي أَوْ بَعْدَ مَمَاتِي اسْتِخْفَافاً بِهَا وَجُحُوداً عَلَيْهَا وَتَهَاوُناً بِحَقِّهَا، وَلَهُ إِمَامٌ عَادِلٌ، أَوْ جَائِرٌ – فَلَا جَمَعَ اللهُ شَمْلَهُ وَلَا بَارَكَ لَهُ فِي أَمْرِهِ؛ أَلَا لَا صَلَاةَ لَهُ، أَلَا لَا زَكَاةَ لَهُ، أَلَا لَا حَجَّ لَهُ، أَلَا لَا صَوْمَ لَهُ ؛ إِلَّا أَنْ يَتُوبَ؛ فَمَنْ تَابَ تَابَ اللهُ عَلَيْهِ. و أيضاً. و روي عن ابن عمر – رضي الله عنهما – عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: مَنْ تَرَكَ ثَلَاثَ جُمَعٍ ؛ تهاوناً طَبَعَ اللهُ عَلَى قَلْبِهِ. ومثل هذا الوعيد لا يلحق إلا بترك الفرض، وعليه إجماع الأمة. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع. ج ۲، كتاب الصلاة، ص ۱۸۰ – ۱۸۱، دار الكتب العلمية بيروت لبنان:

وهي فريضة محكمة بالكتاب و السنة و الاجماع يكفر جاحدها. البحر الرائق، ج۲، ص۲۲۵، كتاب الصلاة، باب صلاة الجمعة، دار الكتب العلمية بيروت لبنان:

۱ - أما الذي يرجع الى المصلي فستة: العقل، والبلوغ، والحرية، والذكورة، والاقامة، وصحة البدن، فلا تجب الجمعة على المجانين، و الصبيان، و العبيد الا باذن مواليهم، والمسافرين و الزّمنى و المريض. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، كتاب الصلاة، ج ۲، ص ۱۸۶، فصل في بيان شرائط الجمعة، دار الكتب العلمية بيروت لبنان:

عن طارق بن شهاب عن النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال: الجمعة حق واجب على كل مسلم في جماعة الا اربعة عبد مملوك او امرة او صبي او مريض. سنن ابي داؤد، ج۱، ص ۳۲۵، كتاب الصلاة، باب الجمعة للمملوك و المرأة، دار الكتب العلمية بيروت لبنان.

۲ قال ابن جرير حدثني يونس بن عبد الاعلى اخبرنا ابن وهب بن سعيد بن عبدالرحمن الجمحي انه بلغه عن خطبة النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ في اول الجمعة صلاها بالمدينة في بني سالم بن عمرو بن عوف رضي الله عنهم الخ. (البداية و النهاية ج۳، ص۲۱۳).

و كان يوم الجمعة في الجاهلية يسمى عَرُوبة بفتح العين المهملة و ضم الراء و بالباء الموحدة، و أول من سماها يوم الجمعة كعب بن لؤى، و لما قدم رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ المدينة أقام يوم الأثنين و الثلاثاء و الأربعاء و الخميس في بني عمرو بن عوف و أسس مسجدهم ثم خرج من عندهم فأدركته الجمعة في بني سالم بن عوف فصلاها في المسجد الذي في بطن الوادي – وادي را تونا – فكانت أوّل جمعة صلاها صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بالمدينة. البحر الرائق، كتاب الصلاة، باب صلاة الجمعة، ج۲، ص ۲۲۵، دار الكتب العلمية بيروت، لبنان.

۳ - عن ابي لبابة بن عبدالمنذر قال: قال النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ان يوم الجمعة سيد الأيام و اعظمها عند الله من يوم الأضحى و يوم الفطر فيه خمس خلال خلق فيه آدم، و اهبط الله فيه آدم الى الأرض، وفيه توفى الله آدم، و فيه ساعة لا يسأل الله فيها عبد شيأً الى اعطاه مالم يسأل حراماً، وفيه تقوم الساعة ما من ملك مقرب و لا سماء و لا أرض و لا رياح و لا جبال و لا بحر الا وهن يشفقن من يوم الجمعة. سنن ابن ماجه، ص۱۸۳، ح۱۰۸۴، باب في فضل الجمعة، مكتبة رحمانية اردو بازار لاهور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد ﷺ نوم یاد شي نو په زړه کې درود ویل مناسب دي.او په دې دوران کې هر هغه عمل چې د خطبې د اورېدو څخه توجه اړوي ناجائز دي. له دې وجهې د فقهې حنفي له مخې د خطبې په وخت کې د سنتو اداء کول هم صحیح نه دي.(۱)

**لومړی فرعه : د جمعې د لمانځه د صحت شرائط :**

د جمعې د لمانځه د صحت لپاره ۷ شرطونه دي چې په لاندې ډول دي:

۱ مصر (ښار) یا پناه د ښار ، ۲- شرعي حاکم. ۳- د ماسپښین وخت، ۴- د ماسپښین په وخت کې خطبه، ۵- له لمانځه څخه مخکې د خطبې ویل د خلکو په وړاندې. ۶- دومره اندازه ډله چې د جُمعې لمونځ پرې برابرېږي، ۷- د لمانځه د اداء کولو لپاره عامو خلکو ته اجازه.

تشریح: په مصر یا ښار کې د ښار سره تړلې هغه ځایونه هم شامل دي چې د ښار په ډول سهولتونه پکې موجود وي. د جُمعې لمانځه لپاره د خلکو تر ټولو کمه ډله له امام څخه پرته (۳) کسان دي چې په شتون کې یې د جمعې لمونځ صحیح کېږي. (۲) او که چیرې په کوم مسجد کې د امنیتي مشکلاتو له وجهې ځینې بندیزونه لګېدلي وي نو دا عمل مشکل نه لري. (۳) په کومو ځایونو کې چې اسلامي سلطنت قائم وي نو هلته صراحتاً یا دلالتاً د وخت د حاکم اجازه ضروري ده، مګر په کومو ځایونو کې چې داسې انتظام نه وي نو د شرائطو تر رعایتولو وروسته عام مسلمانان دې د خپلو ذمه وارېو د محسوسولو له مخې د جمعې د لمانځه اهتمام وکړي.

---

۱ - فلا صلاة، شمل السنة و تحية المسجد. رد المحتار على الدر المختار، ج۳، ص۳۸، كتاب الصلاة، مطلب في شروط وجوب الجمعة، مكتبة السبحانية كانسی روډ کویټه:

و اذا خرج الامام يوم الجمعة ترك الناس الصلاة و الكلام حتى يفرغ من خطبته. الهداية ج۱، ص ۱۴۳، كتاب الصلاة، مكتبة حقانية.

۲ و أما الكلام فى مقدار الجماعة، فقد قال أبو حنيفة و محمد: أدناه ثلاثة سوى الامام. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، كتاب الصلاة، ص ۲۱۰، دار الكتب العلمية بيروت لبنان.

۳ - و يشترط لصحتها سبعة اشياء، الأول: المصر وهو ما لا يسع اكبر مساجده أهله المكلفين بها وعليه فتوى أكثر الفقهاء. والثاني: السلطان ولو متغلباً او امرأة فيجوز أمرها باقامتها أو مأمورة باقامتها و لو عبداً و لي عمل ناحية و ان لم تجز أنكحته و أقضيته. والثالث: وقت الظهر فتبطل الجمعة بخروجه مطلقاً و لو لاحقاً بعذر نوم أو زحمة على المذهب، لأن الوقت شرط الأداء لا شرط الافتتاح. والرابع: الخطبة فيه فلو خطب قبله و صلى فيه لم تصح. والخامس: كونها قبلها لأن شرط الشيء سابق عليه بحضرة جماعة تنعقد الجمعة بهم و لو صماً او نياماً، فلو خطب وحده لم يجز على الأصح. والسادس: الجماعة و أقلها ثلاثة رجال و لو غير الثلاثة الذين حضروا الخطبة سوى الامام بالنص لأنه لا بد من الذاكر وهو الخطيب، وثلاثة سواه بنص – فاسعوا الى ذكر الله – فان نفروا قبل سجوده و قالا قبل التحريمة بطلت و ان بقي ثلاثة رجال ولذا أتى بالتاء او نفروا بعد سجوده او عادوا و ادركوه راكعاً، او نفروا بعد الخطبة وصلى بآخرين لا تبطل و أتمها جمعة. والسابع: الاذن العام من الامام، وهو يحصل بفتح أبواب الجامع للواردين. رد المحتار على الدر المختار، ج۳، ص ۵-۲۵، كتاب الصلاة، باب الجمعة، دار عالم الكتب الرياض.

و هكذا لما في البحر الرائق ج۲، ص ۲۴۵-۲۶۴، كتاب الصلاة، باب صلاة الجمعة، مكتبة علميه كانسی روډ کویټه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دویمه فرعه : د جمعې د ورځې سنتونه او اداب:**

د جمعې د ورځې د سنتونو او آدابو څخه: تیل لګول، عطر لګول، د نوکانو پرې کول، غسل کول او د پاکو کالیو اغوستل که نوي وي او یا استعمال شوي وي، ځکه چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: د جمعې ورځ د ټولو ورځو سرداره ده، همدارنګه د اسلام د عظیمو شعائرو د جملې څخه دی نو پکار دی چې مقیم مسلمان خپل ځان په ښه صورت برابر کړي. (۱)

همدارنګه د جمعې په ورځ مسلمان بنده باید چې په رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زیات درود ووايي ځکه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي چې تاسو په ما باندې د جمعې په ورځ زیات درود وايې. د جمعې په ورځ کې یو ساعت دی، که چیرې د کوم کس دعا له هغه سره موافقه شي نو چې د الله تعالی څخه یې هر خیر غواړي الله تعالی یې قبلوي، او د دغه ساعت په اړه اکثره رايې دا دي چې د مازدیګر د لمانځه او د ماښام د لمانځه تر منځ دی. همدارنګه د جمعې په ورځ باید سورة الکهف تلاوت کړل شي، ځکه چې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حدیث مفهوم دی: هر هغه څوک چې د جمعې په ورځ د سورت کهف تلاوت کوي الله تعالی به یې د دجال له فتنې څخه محفوظ وساتي.(۲)

**دویم مطلب : د اخترونو لمونځ :**

**لومړی فرعه : د اخترونو د لمانځه حکم او طریقه :**

د دواړو اخترونو کوچني او لوی اختر لمونځونه دوه دوه رکعته واجب دي .او د دواړو لمنځونو لپاره اذان او اقامت نشته.(۳)

د ادا کولو طریقه یې داسې ده: تر هر څه له مخې دې داسې نیت وکړي:

---

۱ - فالمستحب في يوم الجمعة لمن يحضر الجمعة أن يدهن، و يمس طيباً، و يلبس أحسن ثيابه ان كان عنده ذلك، و يغسل، لأن الجمعة من أعظم شعائر الاسلام، فيستحب أن يكون المقيم فيه على أحسن وصف. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، كتاب الصلاة، ج ۲، ص ۲۱۵، فصل فيما يستحب في هذا اليوم، دار الكتب العلمية بيروت لبنان.

۲ - عن أبي هريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عن النبى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أنه قال: ان في الجمعة لساعة، لا يوافقها مسلم يسأل الله فيها خيرا، الا أعطاه اياه وهي ساعة خفيفة. رواه المسلم. صحيح المسلم، ج۳، ص ۱۷۸، ح ۱۹۷۱، كتاب الجعة، باب في الساعة التي في يوم الجمعة، مكتبة البشرى كراتشي:

عن أبي هريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قال: خرجت إلى الطور، فلقيت كعب الأحبار، فجلست معه، فحدثني عن التوراة، وحدثته عن رسول الله ، فكان فيما حدثته أن قلت: قال رسول الله : "خير يوم طلعت عليه الشمس يوم الجمعة، فيه خلق آدم، وفيه أهبط، وفيه تيب عليه، وفيه مات، وفيه تقوم الساعة، وما من دابة إلا وهي مصيخة يوم الجمعة من حين تصبح حتى تطلع الشمس، شفقاً من الساعة، إلا الجن والإنس. وفيه ساعة لا يُصادفها عبد مسلم وهو يصلي يسأل الله شيئا إلا أعطاه إياه. قال كعب ذلك في كل سنة يوم؟ فقلت: بل في كل جمعة، فقرأ كعب التوراة، فقال: صدق رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال أبو هريرة لقيت عبد الله بن سلام، فحدثته بمجلسي مع كعب الأحبار وما حدثته في يوم الجمعة، فقلت له: قال كعب: ذلك في كل سنة يوم؟ قال عبد الله بن سلام: كذب كعب. فقلت له: ثم قرأ كعب التوراة، فقال: بل هي في كل جمعة فقال عبد الله بن سلام صدق كعب. ثم قال عبد الله بن سلام قد علمت آية ساعة هي؟ قال أبو هريرة: فقلت: أخبرني بها ولا تضن علي. فقال عبد الله بن سلام: هي آخر ساعة في يوم الجمعة. قال أبو هريرة: فقلت: وكيف تكون آخر ساعة في يوم الجمعة وقد قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "لا يُصادفها عبد مسلم وهو يُصلي فيها؟ فقال عبد الله بن سلام: ألم يقل رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "من جلس مجلساً ينتظر الصلاة، فهو في صلاة حتى يصلي "؟ قال أبو هريرة فقلت: بلى. قال: فهو ذلك. رواه مالك، وأبو داود، والترمذي، والنسائي، وروى أحمد إلى قوله: صدق كعب. مشكوة المصابيح، كتاب الصلاة، باب الجمعة، ج ۲، ص ۱۲۳،۱۲۲، ح ۱۳۵۹، مكتبة البشرى كراتشي.

۳ - عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى يَوْمَ الفِطْرِ رَكْعَتَيْنِ لَمْ يُصَلِّ قَبْلَهَا وَلاَ بَعْدَهَا، ثُمَّ أَتَى النِّسَاءَ وَمَعَهُ بِلاَلٌ». صحيح البخاري، كتاب الوتر، باب ما جاء في الوتر، ص ۵۷۶، رقم الحديث ۹۸۹، مكتبة البشرى كراتشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه د لوی اختر یا کوچني اختر لمونځ کوم ، سره له شپږو تکبیرونو ، اقتدا کوم په دې حاضر امام پسې ، مخ مې کړ په لوري د کعبې شریفې .
بیا دې لاسونه غوږونو ته پورته کړي او الله اکبر دې ووایې او لاسونه دې تر نامه لاندې وتړي ثناء (سبحانک اللهم وبحمدک ...). دې ووایې بیا دې لاسونه غوږو ته پورته کړي او الله اکبر دې ووایي او لاسونه دې ښکته پرېږدي دا لومړی تکبیر شو ، بیا دې په دویم ځل الله اکبر ووایې او لاسونه دې غوږو ته پورته کړي او بیا دې همداسې ښکته پریږدي دا دویم تکبیر شو ، بیادې په دریم ځل الله اکبر ووایې او لاسونه دې غوږو ته پورته کړي او په دې ځل دې لاسونه تر نامه لاندې وتړي دا دریم تکبیر شو ، بیادې امام قرأت پیل کړي او دنورو لمنځونو په څیر به دا رکعت پوره کړي. کله چې دویم رکعت پیل شي نو امام به قرأت ووایي او د قرائت له فراغت نه وروسته دې مخکې تردې چې رکوع ته لاړ شي لاسونه غوږو ته پورته کړي او الله اکبر دې ووایی او لاسونه دې همداسې ځوړند پریږدي دا لومړی تکبیر شو ، بیا دې لاسونه غوږونو ته پورته کړي او الله اکبر دې ووایي او لاسونه دې همداسې پریږدي دا دوهم تکبیر شو ، په دریم ځل دې بیا الله اکبر ووایي او لاسونه دې غوږو ته پورته کړي او ځوړند دې کړي دا دریم تکبیر شو ، بیا دې بغیر له لاسو پورته کېدلو الله کبر ووایي او رکوع ته دې لاړ شي. بیا دې دغه رکعت هم د نورو عادي رکعتونو په څیر پوره کړي. بیا دې امام خطبه ووایي او خلک دې پټه خوله کېني او خطبه دې واوري، ځکه چې ددې خطبو اوریدل هم واجب دي. په اخترونو کې هم دجمعې په څیر دوه خطبې دي، او امام ته د دواړو خطبو تر منځ ناسته سنت ده.(۱)
د اخترونو لمونځ په جماعت سره اداء کول شرط دي، که چیرې څوک د کومې وجهې له مخې په جماعت لمونځ ونه کړي نو یواځې یې نه شي کولای، همدارنګه که لمونځ فاسد شي نو بیا هم قضاء پرې واجبه نه ده.(۲)
که چېرې یو کس د لمانځه په دوهم رکعت کې له امام سره شریک شو نو په داسې موقع باندې که چېرته د هغه یقین دا وي چې درې تکبیرونه ویلی شم او له امام سره په رکوع کې شریکېدلی شم، نو هغه به لومړی له نیت څخه وروسته په ولاړې درې تکبیرونه وایي او وروسته به په رکوع کښې له امام سره شریکېږي، که چېرته د رکوع د تېرېدو وېره وي نو په رکوع کښې دې له امام سره شریک شي او د سبحان ربی العظیم په ځای دې په رکوع کې زائد تکبیرونه ووایي لیکن په رکوع کې به لاسونه تر غوږو نه پورته کوي. که چیرته د دریو تکبیرونو تر پوره کیدو مخکې امام له رکوع څخه پورته شو نو هغه به د امام اقتداء کوي چې هر څو تکبیرونه پاتې شول نو هغه معاف دي. که چیرته له چا څخه زائد تکبیرونه تېر شوي وي او هغه له امام سره په قیام کې شریک شي نو د نیت تر تړلو وروسته دې تر ټولو مخکې زائد تکبیرونه ووایي اګر که امام قرائت شروع کړی وي.(۳)

---

۱ - ویصلي الإمام رکعتین فیکبر تکبیرة الافتتاح ثم یستفتح ثم یکبر ثلاثاً ثم یقرأ جهرا ثم یکبر تکبیرة الرکوع فإذا قام إلي الثانیة قرأ ثم کبر ثلاثاً ورکع بالرابعة فتکون التکبیرات الزوائد ستاً ثلاثاً في الأولی وثلاثاً في الأخری وثلاث أصلیات تکبیرة الافتتاح وتکبیرتان للرکوع فیکبر في الرکعتین تسع تکبیرات ویوالي بین القراءتین وهذه روایة ابن مسعود وبها أخذ أصحابنا کذا في محیط السرخسي، ویرفع یدیه في الزوائد ویسکت بین کل تکبیرتین مقدار ثلاث تسبیحات کذا في التبیین، وبه أفتی مشایخنا کذا في الغیاثیة، ویرسل الیدین بین التکبیرتین ولا یضع هکذا في الظهیریة، ثم یخطب بعد الصلاة خطبتین کذا في الجوهرة النیرة، ویجلس بینهما جلسة خفیفة کذا في فتاوی قاضیخان. فتاوی الهندیة، ج ۱، کتاب الصلاة، باب صلاة العیدین، الباب السابع عشر في صلاة العیدین، ص ۱۶۵، دار الکتب العلمیة بیروت لبنان.

۲ - و لو صلاها مع الامام بالجماعة و فاتت بعض الناس لا یقضیها من فاتته خرج الوقت او لم یخرج. الفتاوی الهندیة، کتاب الصلاة، باب صلاة العیدین، الباب السابع عشر في صلاة العیدین، ص ۱۶۷، دار الکتب العلمیة بیروت لبنان.

۳ - و لو انتهی رجل إلی الإمام في الرکوع في العیدین فإنه یکبر للافتتاح قائماً فإن أمکنه أن یأتي بالتکبیرات ویدرك الرکوع فعل ویکبر علی رأي نفسه وإن لم یمکنه رکع واشتغل بالتکبیرات عند أبي حنیفة ومحمد رحمهما الله تعالی هکذا في السراج الوهاج، ولا یرفع یدیه إذا أتی بتکبیرات العید

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چېرته له چا څخه یو رکعت د اختر لمونځ تېر شوی وي نو هغه باید د امام له سلام ګرځولو وروسته خپل رکعت بیرته را وګرځوي تر ټولو مخکښې دې قرائت وایي او بیا دې زائد تکبیرونه ووایي او رکوع ته دې لاړ شي.(۱)
که چېرته د امام څخه له رکوع مخکښې تکبیرونه هېر شي او د رکوع په حالت کښې ورپه یاد شي نو په رکوع کې دې تکبیرونه ووایي او بیا دې قیام ته را وګرځي، خو که چېرته په غلطی سره امام بیا و درېږي او په ولاړې زائد تکبیرونه ووایي نو دا صورت هم جائز دی لمونځ نه فاسد ېـږي.(۲)

**دویمه فرعه : د تشریق ورځې :**

د تشریق ورځې د لوی اختر یا د قربانۍ د اختر د ذی الحجې د نهمې نېټې د سهار له لمانځه څخه شروع د ذی الحجې د دریالسمې نیټې د مازدیګر تر لمانځه پورې دوام مومي .وروسته د هر فرض لمانځه څخه به دغه تکبیرات لولي: (اَللّٰهُ أَكْبَرُ، اللّٰهُ أَكْبَرُ، لَا إِلَهَ إِلا الله ، وَاللّٰهُ أَكْبَرُ، اللّٰهُ أَكْبَرُ، وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ) چې دې تکبیراتو ته د تشریق تکبیرات ویل کېږي.(۳)
د صاحبینو رحمهما الله په نزد د ایام تشریق د تکبیرونو لپاره جماعت، اقامت او ښار شرط نه دی بلکې په ټولو لمونځ کوونکو باندې واجب دي که له جماعت سره لمونځونه کوي او که یواځې لمونځونه کوي. بناء پر دې صورت د نارینه وو غوندې په ښځو باندې دا تکبیرونه واجب دي. البته د ښځو لپاره ضروري ده چې تکبیرونه ټیټ یعني په پټ اواز سره ووایي. د فقهې له کتابونو څخه د صاحبینو قول راجح معلومیږي او په همدې باندې فتوی هم ده. (۴)

---

في الركوع كذا في الكافي، ولو رفع الإمام رأسه بعدها أدى بعض التكبيرات فإنه يرفع رأسه ويتابع الإمام وتسقط عنه التكبيرات الباقية كذا في السراج الوهاج. الفتاوى الهندية، كتاب الصلاة، باب صلاة العيدين، الباب السابع عشر في صلاة العيدين، ص ۱۶۶، دار الكتب العلمية بيروت لبنان.

۱ ولو أدركه في القومة لا يقضي فيها لانه يقضي الركعة الأولى مع التكبيرات. فتاوى الهندية، كتاب الصلاة، باب صلاة العيدين، الباب السابع عشر صلاة العيدين، ص ۱۶۶، دار الكتب العلمية بيروت لبنان.

۲ - و اذا نسي الامام تكبيرات العيد حتى قرأ فانه يكبر بعد القراءة أو في الركوع ما لم يرفع رأسه. فتاوى الهندية، كتاب الصلاة، باب صلاة العيدين، الباب السابع عشر في صلاة العيدين، ص ۱۶۷، دار الكتب العلمية بيروت لبنان.

۳ - قال الله تعالى: ﴿وَاذْكُرُواْ اللّهَ فِي أَيَّامٍ مَّعْدُودَاتٍ ...﴾ (سورة البقرة، آية ۲۰۳)، ﴿وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ فِي أَيَّامٍ مَّعْلُومَاتٍ ...﴾ (سورة الحج آية ۲۸).
و صفة التكبير اللّٰهُ أَكْبَرُ، اللّٰهُ أَكْبَرُ، لَا إِلَهَ إِلا اللّٰهُ، وَاللّٰهُ أَكْبَرُ، اللّٰهُ أَكْبَرُ، وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ. فهو تحليلة بين اربع تكبيرات ثم تحميده و الجهر به واجب، و قيل سنة: و المرأة تكبر سراً. و التكبير بهذا الصفة مروى عن ابن مسعود بسند جيد – فعن ابي الأحوص عن عبدالله أنه كان يكبر أيام اللّٰهُ أَكْبَرُ، اللّٰهُ أَكْبَرُ، لَا إِلَهَ إِلا اللّٰهُ، وَاللّٰهُ أَكْبَرُ، اللّٰهُ أَكْبَرُ، وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ. – قال ابن حجر: و أصح ما ورد فيه عن الصحابة قول على و ابن مسعود: أنه من صبح يوم عرفة الى آخر أيام منى. فتح الباري ج ۲، ص ۴۶۲. الفقه الحنفي في ثوبه الجديد، ج ۱، ص ۳۲۸، مكتبة حقانية كانسي روډ كويټه.

۴ و يجب تكبير التشريق في الأصح للأمر به – أى فى قوله تعالى: و اذكروا الله في ايام معدودات، و يذكروا اسم الله في ايام معلومات. مرة و ان زاد عليها يكون فضلاً. قاله العيني صفته: الله اكبر الله اكبر لا اله الا الله و الله اكبر الله اكبر و لله الحمد. عقب كل فرض ادا بجماعة مستحبة – و قالا بوجوبه فور كل فرض مطلقاً و لو منفرداً او مسافراً او امرأة لأنه تبع للمكتوبة – الى – عصر اليوم الخامس آخر يوم التشريق وعليه الاعتماد والعمل والفتوى فى عامة الأمصار و كافة الأعصار. رد المحتار على الدر المختار ج ۳، ص ۵۷۱، مكتبة سبحانية كانسى روډ كويټه.

و سن بعد فجر عرفة الى ثماني عشرة مرة الله اكبر الخ. و أما عند هما فهو واجب على كل من يصلي المكتوبة لأنه تبع لها فيجب على المسافر و المرأة و القروي. قال فى السراج الوهاج والجوهرة: و الفتوى على قولهما فى هذا ايضاً. البحر الرائق ج ۲، ص ۲۸۶-۲۹۰، كتاب الصلاة، باب العيدين، مكتبة علمية كانسى روډ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دریم مطلب : د تهجد لمونځ :**

د شپې له خوب څخه را پاڅېدلو او نفلي لمونځ کولو ته د تهجد لمونځ وايي. نوافل الله تعالی ته د قرب او نږدېوالي يوه مؤثره وسيله ده. رسول الله ﷺ به د فرض لمانځه په شان د هغه پابندي کوله.(۱) د الله تعالی ټول غوره بنده ګان دا لمونځ کوي د شپې په يوه برخه کې د الله عزوجل خاص تجليات او رحمتونه د اسمان څخه نازلیږي. د تهجد د لمانځه وخت د ماخوستن لمونځ څخه تر صبح صادق پورې ادامه لري. پدې وخت کې حد اکثر دولس او حد اقل دوه رکعت دي. خو په اکثرو وختونو کې رسول الله ﷺ اته رکعته کړي دي، په دې اساس ځينو محققينو اکثر تعداد اته رکعته نقل کړی دی. په داسې حال کې چې تر دولسو رکعتو پورې هم ثابت دي.(۲)

ام المؤمنين حضرت عايشه رضي الله عنها فرمايي چې رسول الله ﷺ يوه شپه دومره اوږد لمونځ وکړ چې پښې مبارکې يې و پړسېدلې نو ما ورته وويل: ای د الله رسوله ولې داسې کوې حال دا چې الله تعالی درته مخکني او وروستني ګناهونه معاف کړي، رسول الله ﷺ راته وفرمايل چې آيا د الله تعالی شکرګزاره بنده نه شم.(۳)

**څلورم مطلب: د تراويح لمونځ :**

دا لمونځ يوازې د روژې مبارکې مياشت کې ادا کېږي او دسنت مؤکدو په درجه کې دی. (۴)د ماخوستن له فرضو او سنتو څخه وروسته او له وترو څخه مخکې اداء کېږي . د روژې په ټوله مياشت کې د قرآن کريم يو ځل ختم کول زيات ثواب لري او په

---

۱ قال الله تعالی: ﴿وَمِنَ اللَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهِ نَافِلَةً لَّكَ عَسَى أَن يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَّحْمُودًا﴾ و امر له بقيام الليل بعد المكتوبة كما ورد في مسلم عن ابی هريرة رضی الله تعالی عنه عن رسول الله ﷺ انه سئل ای الصلوة افضل بعد المكتوبة قال صلاة الليل ولهذا امر الله تعالی رسوله ﷺ بعد المكتوبة بقيام الليل فان التهجد ما كان بعد النوم. تفسير ابن كثير اية ۷۹، قديمي كتب خانه مقابل ارام باغ كراچی.

۲ عَنْ كُرَيْبٍ، مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَبَّاسٍ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ بَاتَ لَيْلَةً عِنْدَ مَيْمُونَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهِيَ خَالَتُهُ فَاضْطَجَعْتُ فِي عَرْضِ الوِسَادَةِ " وَاضْطَجَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَهْلُهُ فِي طُولِهَا، فَنَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، حَتَّى إِذَا انْتَصَفَ اللَّيْلُ، أَوْ قَبْلَهُ بِقَلِيلٍ أَوْ بَعْدَهُ بِقَلِيلٍ، اسْتَيْقَظَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَجَلَسَ يَمْسَحُ النَّوْمَ عَنْ وَجْهِهِ بِيَدِهِ، ثُمَّ قَرَأَ العَشْرَ الآيَاتِ الخَوَاتِمَ مِنْ سُورَةِ آلِ عِمْرَانَ، ثُمَّ قَامَ إِلَى شَنٍّ مُعَلَّقَةٍ، فَتَوَضَّأَ مِنْهَا فَأَحْسَنَ وُضُوءَهُ، ثُمَّ قَامَ يُصَلِّي. قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: فَقُمْتُ فَصَنَعْتُ مِثْلَ مَا صَنَعَ، ثُمَّ ذَهَبْتُ فَقُمْتُ إِلَى جَنْبِهِ، فَوَضَعَ يَدَهُ اليُمْنَى عَلَى رَأْسِي، وَأَخَذَ [ص:] بِأُذُنِي اليُمْنَى يَفْتِلُهَا، فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ أَوْتَرَ، ثُمَّ اضْطَجَعَ حَتَّى أَتَاهُ المُؤَذِّنُ. صحيح البخاري (۱/ ۴۷)، رقم الحديث -.۱۸۳ فتاوی الحقانيه، ج۲، ص۵۶۳جديد كتب خان، جنوبی وزيرستان وانا بازار.

فينبغي القول بأن أقل التهجد ركعتان، وأوسطه أربع، وأكثره ثمان، والله أعلم . قوله : (ولو جعله أثلاثاً الخ) أي لو أراد أن يقوم ثلثه وينام ثلثيه فالثلث الأوسط أفضل من طرفيه، لأن الغفلة فيه أتم والعبادة فيه أثقل، ولو أراد أن يقوم نصفه وينام نصفه فقيام نصفه الأخير أفضل لقلة المعاصي فيه غالباً، وللحديث الصحيح يَنْزِلُ رَبُّنَا إِلَى سَمَاءِ الدُّنْيَا فِي كُلِّ لَيْلَةٍ حِينَ يَبْقَى ثُلُثُ الليل الأخير ، فَيَقُولُ : مَنْ يَدْعُونِي فَأَسْتَجِيبَ لَهُ؟ مَنْ يَسْأَلُنِي فَأُعْطِيَهُ؟ مَنْ يَسْتَغْفِرُنِي فَأَغْفِرَ لَهُ ؟ ومعنى ينزل ربنا ينزل أمره كما أوله به الخلف وبعض أكابر السلف، وتمامه في تحفة ابن حجر، وذكر أن الأفضل من الثلث الأوسط السُّدُسُ الرابع والخامس، للخبر المتفق عليه أَحَبُّ الصَّلَاةِ إلى اللَّهُ تَعَالَى صَلَاةُ دَاوُدَ، كَانَ يَنَامُ نِصْفَ اللَّيْلِ وَيَقُومُ ثُلُثَهُ وَيَنَامُ سُدُسَه. الرد المحتار على الدر المختار، ج ۲، ص۴۶۸، كتاب الصلاة، باب الوتر و النوافل، دار عالم الكتب رياض.

۳- عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَقُومُ مِنَ اللَّيْلِ حَتى تَتَفَطَّرَ قَدَمَاهُ، فَقُلْتُ لَهُ: لِمَ تَصْنَعُ هذا يا رَسُولَ اللَّهِ، وَقَدْ غُفِرَ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ؟ قَالَ: أَفَلا أَكُونُ عَبْدًا شَكُورًا. مُتَّفَقٌ عليه. رياض الصالحين، ص۳۹۷، رقم الحديث ۱۱۵۸، مكتبة البشرى كراتشي.

۴ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه : أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ: مَنْ قَامَ رَمَضَانَ، إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا، غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ. صحيح البخاري (۳/ ۴۴) رقم الحديث ۲۰۰۹ كِتَابُ صَلاَةِ التَّرَاوِيحِ بَابُ فَضْلِ مَنْ قَامَ رَمَضَانَ ط دار طوق النجاة.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تراویحو کې د قرانکریم لوستل سنت دي چې باید په تدبر سره وویل شي . او تر کومه ځایه چې د رکعتونو د تعداد تعلق دی نو د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما له مرفوع روایت څخه پرته د اکثرو خلفاء راشدینو متوارثه طریقه ده چې کله حضرت عمر رضي الله عنه شل رکعته تراویح د یوه قاري تر شا د ادا کولو حکم وکړ نو یو صحابي هم انکار ونه کړ، یعني هغوی د حضرت عمر رضي الله عنه په فیصلې باندې اجماع وکړه .(۱)

**مسئله:** د ښځو لپاره هم د تروایح لمونځ د نارینه و په شان سنت دی، په کور کې یې اداکولی شي. که یو څوک د تراویحو لپاره مسجد ته داخل شي نو لومړی به فرض لمونځ کوي بیا به په تراویحو کې ګډون کوي او پاتې شوې تراویح دې له وترو څخه وروسته وکړي. (۲)

---

فصل في قيام الرمضان، يستحب ان يجتمع الناس في شهر رمضان بعد العشاء فيصلي بهم امامهم خمس ترويحات كل ترويحة بتسليمتين ويجلس بين كل ترويحتين مقدار ترويحة ثم يؤتر بهم. ذكر لفظ الاستحباب – و الأصح انها سنة كذا روى الحسن عن ابي حنيفة رح لأنه واظب عليها الخلفاء الراشدون و النبى صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بين العذر في تركه المواظبة و هو الخشية ان تكتب علينا وسنة فيها الجماعة لكن على وجه الكفاية – وقوله ثم يؤتر بهم يشير الى ان وقتها بعد العشاء قبل الوتر وبه قال عامة المشايخ – و اكثر المشايخ على ان السنة فيها الختم مرة فلا يترک لكسل القوم. الهداية ج۱، ص ۱۳۲، مكتبة حقانية پشاور.

التراويح سنة مؤكدة لمواظبة الخلفاء الراشدين لأن المواظبة عليها وقت في أثناء خلافة عمر رضى الله و وافقه على ذالک عامة الصحابة و من بعدهم الى يومنا هذا بلا نكير، و كيف لا و قد ثبت عنه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عليكم بسنتي و سنة الخلفاء الراشدين المهديين عضدوا عليها بالنواجذ، كما رواه ابوداؤد – للرجال والنساء اجماعاً و وقتها بعد العشاء الى الفجر قبل الوتر و بعده في الأصح. فلو فاته بعدها و قام الامام الى الوتر أوتر معه ثم صلى ما فاته. وهي عشرون ركعة حكمته مساوات المكمل للمكمل، بعشر تسليمات يجلس بعد كل اربعة بقدرها، و كذا بين الخامسة و الوتر و يخيرون بين التسبيح و القراءة و السكوت. و الختم مرة سنة و مرتين فضيلة و ثلاث أفضل و لا يترک الختم لكسل القوم. رد المحتار على الدر المختار، ج۲، ص۵۹۶-۵۹۷، كتاب الصلاة، مبحث صلاة التراويح، مكتبة سبحانيه كانسی روډ كويټه.

وَإِذَا فَاتَتْهُ تَرْوِيحَةٌ أَوْ تَرْوِيحَتَانِ فَلَوْ اشْتَغَلَ بِهَا يَفُوتُهُ الْوِتْرُ بِالْجَمَاعَةِ يَشْتَغِلُ بِالْوِتْرِ ثُمَّ يُصَلِّي مَا فَاتَ مِنْ التَّرَاوِيحِ وَبِهِ كَانَ يُفْتِي الشَّيْخُ الْإِمَامُ الْأُسْتَاذُ ظَهِيرُ الدِّينِ.الفتاوي الهندية-۱-۱۱۷-.

و مثله في البحر الرائق ج۲، ص۱۱۷، كتاب الصلاة، باب الوتر والنوافل، مكتبة سبحانية كانسي روډ كويټه.


عَنْ انس بن مالک رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ صَلَّى الفجرفِي جَمَاعَةٍ ثُمَّ قَعَدَ يَذْكُرُ اللَّهَ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ، ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ كَانَتْ لَهُ كَأَجْرِ حَجَّةٍ وَعُمْرَةٍ»، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «تَامَّةٍ تَامَّةٍ تَامَّةٍ». (۱)

ژباړه: له حضرت أنس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: که څوک د سهار لمونځ په جماعت سره وکړي، بيا کښيني او تر لمر راختلو پورې د الله ذکر وکړي، بيا د اشراق دوه رکعته لمونځ ادا کړي نو هغه ته به د يوه حج او يوې عمرې ثواب ورکول شي او نبي کريم صلی الله عليه وسلم درې ځله داسې وفرمايل چې د همدې حج او عمرې ثواب به پوره ورکول کيږي.

**دیارلسم مطلب :د څاښت لمونځ :**

د څاښت د لمانځه وخت د ورځې د لومړۍ څلورمې برخې تر تيريدلو وروسته شروع کيږي د څاښت لمونځ د څلورو رکعتونو څخه بيا تر دولسو رکعتونو پورې دی څومره چې کولای شي هغومره دې وکړي. بلکې تر دې زيات هم کولای شي .(۲)

قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «مَنْ قَعَدَ فِي مُصَلَّاهُ حِينَ يَنْصَرِفُ مِنْ صَلَاةِ الصُّبْحِ، حَتَّى يُسَبِّحَ رَكْعَتَيِ الضُّحَى، لَا يَقُولُ إِلَّا خَيْرًا، غُفِرَ لَهُ خَطَايَاهُ، وَإِنْ كَانَتْ أَكْثَرَ مِنْ زَبَدِ الْبَحْرِ». (۳)

ژباړه: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: کله چې يو تن د سهار له لمانځه راوګرځيږي، او د خپل لمانځه په ځای کې کښيني، تر دې چې د څاښت دوه رکعاته لمونځ وکړي، خبرې نه کوي مګر د خير، ګناه به يې وبښل شي، که څه هم د سمندر د ځګ هومره وي.

همدا راز په يو بل مبارک حديث کې رانقل دي چې

، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ صَلَّى الضُّحَى ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً بَنَى اللَّهُ لَهُ قَصْرًا فِي الجَنَّةِ مِنْ ذَهَبٍ». (۴)

ژباړه: له انس رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: څوک چې د څاښت دوولس رکعاته لمونځ وکړي الله جل جلاله به په جنت کې د سروزرو قصر ورته جوړ کړي.

**څوارلسم مطلب : د اوابين لمونځ :**

د اوابين لمونځ هغو نفلونو ته ويل کيږي چې د ماښام له لمانځه وروسته ادا کيږي، د اوابين لمونځ لږ تر لږه شپږ رکعته او زيات يې شل رکعته دي، ښه خبره دا ده چې د ماښام له دوو رکعاتو سنتو بغير شپږ رکعته ادا شي خو که وخت کم وو نو د دوو سنتو سره دې شپږ رکعته پوره شي ان شاء الله د دې لمانځه فضيلت به ورته حاصل شي.(۱)

---

۱ - سنن الترمذي، كتاب الصلاة، أبواب السفر، باب ما ذكر مما يستحب من الجلوس في المسجد بعد صلاة الصبح حتى تطلع الشمس، (۱/ ۳۲۹)، مكتبة البشرى.

۲ وندب أربع فصاعدا في الضحى على الصحيح من بعد الطلوع الى الزوال ووقتها المختار بعد ربع النهار وفي المنية أقلها ركعتان وأكثرها اثنا عشر وأوسطها ثمان وهو أفضلها كما في الذخائر الأشرفية لثبوته بفعله وقوله عليه السلام وأما أكثرها فبقوله فقط وهذا لو صلى الأكثر بسلام واحد أما لو فصل فكل ما زاد أفضل. رد المحتار على الدر المختار، كتاب الصلاة، (۱/ ۵۰۵)، ط: مكتبه حقانيه محله جنكي–پشاور.

و هكذا في البحر الرائق شرح كنز الدقائق، كتاب الصلاة، باب الوتر والنوافل، (۲/ ۹۱۹۰)، ط: مكتبه علميه كانسي روډ–كويټه.

و هكذا لما في الفقه الحنفي في ثوبه الجديد، كتاب الصلاة، النوافل، (۱/ ۳۰۰)، ط: المكتبة الحقانية كانسي روډ كويټه.

۳ - سنن ابي داود، كتاب التطوع، باب صلاة الضحى، (ص ۱۶۵)، ط: دار الحضارة للنشر والتوزيع.

۴ - سنن الترمذي، كتاب الصلاة، باب ما جاء في صلاة الضحى، (۱/ ۲۹۷)، ط: مكتبة البشرى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پنځلسم مطلب: د تلاوت سجده:**

د تلاوت سجده هغه سجده ده چې په قرانکریم کې د یو څو مخصوصو آیتونو په تلاوت سره لازمېږي. په قرآن کریم کې ۱۴ آیتونه داسې دي چې د هغو په تلاوت سره، د تلاوت سجده پر تلاوت کوونکي او اورېدونکي دواړو لازمیږي.(۲)

**لومړی فرعه: د تلاوت د سجدې ځایونه:**

د تلاوت د سجدې آیتونه، د سورتونو له نومونو سره لاندې په حاشیه کې ذکر شوي دي.(۳)

سجده تلاوت پرته له لمانځه څخه که فورا اداء نه شي په بل وخت کې هم اداء کیدای شي او په لمانځه کې هر کله چې د سجدې آیت تمام شو الله اکبر دې ووایي او یوه سجده دې وکړي فورا دې بیرته ودرېږي او له هماغه آیت څخه وروسته دې شروع وکړي او که لمونځ کوونکي د سجدې آیت لوستل او متصل یې رکوع او سجده وکړه د تلاوت سجده یې اداء کېږي. (۴)

**دویمه فرعه: د تلاوت د سجدې د وجوب لپاره شرطونه:**

دا چې د تلاوت سجده د لمانځه جزء ده نو د وجوب لپاره یې هم د لمانځه د وجوب شرطونه ضروري دي، چې په لاندې ډول دي: اسلام، عقل، بلوغ، له حیض او نفاس څخه پاکوالی. په کافر، ماشوم، لیوني، حایضې او نفاسې ښځې د تلاوت سجده نه لازمیږي، برابره خبره ده، که یې واوري او یا یې تلاوت وکړي، خو په بې اودسه او جنب انسان لازمیږي(۵).

**دریمه فرعه: د تلاوت د سجدې کیفیت:**

د تلاوت سجده د دوو مسنونو تکبیرونو ترمنځ ده، بهتره داده چې لومړی به ودرېږي، د تلاوت د سجدې نیت دې وکړي، او بیا به تکبیر وایي، خو د تکبیر پر مهال به لاسونه نه پورته کوي، او سجدې ته دې لاړ شي، بیا دې له تکبیر ویلو سره را پورته شي، لکه د لمانځه د سجدې په څېر.(۱)

---

۱ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ صَلَّى بَعْدَ الْمَغْرِبِ سِتَّ رَكَعَاتٍ لَمْ يَتَكَلَّمْ فِيمَا بَيْنَهُنَّ بِسُوءٍ عُدِلْنَ لَهُ بِعِبَادَةِ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ سَنَةً. وَقَدْ رُوِيَ عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَنْ صَلَّى بَعْدَ الْمَغْرِبِ عِشْرِينَ رَكْعَةً بَنَى اللَّهُ لَهُ بَيْتًا فِي الجَنَّةِ. سنن الترمذي، كتاب الصلاة، باب ما جاء في فضل التطوع ست ركعات بعد المغرب، (۱/۲۷۹)، ط: مكتبة البشرى.

قوله ست ركعات: المفهوم أن الركعتين الراتبتين داخلتان في الست. سنن الترمذي بحوالة عرف الشذي: ، كتاب الصلاة، باب ما جاء في فضل التطوع ست ركعات بعد المغرب، (۱/۲۷۹)، ط: مكتبة البشرى.

۲ - قوله: تجب بأربع عشرة آية أى تجب سجدة التلاوة بسبب تلاوة آية من أربع عشرة آية في أربع عشرة سورة وهي الأعراف في آخرها، والرعد، والنحل، وبني اسرائيل، ومريم، والأولى من الحج، والفرقان، والنمل، وألم تنزيل، وص، وحم السجدة، والنجم، والانشقاق، والعلق. البحر الرائق شرح كنز الدقائق، كتاب الصلاة، باب سجود التلاوة، (۲/۲۱۰)، ط: مكتبه علميه كانسي روډ كويټه.

۳ . ۱ سورة الأعراف آية (۲۰۶) ، ۲ سورة الرعد آية (۱۵) ۳ سورة النحل آية (۴۹، ۵۰) ۴ سورة بني اسرائيل آية (۱۰۷—۱۰۹) ۵ سورة مريم آية (۵۸) ۶ سورة الحج آية (۱۸) ۷ سورة الفرقان آية (۶۰) ۸ سورة النمل آية (۲۵، ۲۶) ۹ سورة ألم تنزيل/سورة السجدة آية (۱۵) ۱۰ سورة ص: آية (۲۴) ۱۱ سورة حم السجدة/سورة فصلت آية (۳۷، ۳۸) ۱۲ سورة النجم: آية (۶۲) ۱۳ سورة انشقاق آية (۲۱) ۱۴ سورة العلق آية (۱۹)

۴ سببه: التلاوة على التالي والسامع في الصحيح.....ويجب السجود: على من سمع وإن لم يقصد السماع . نور الإيضاح ونجاة الأرواح في الفقه الحنفي ص ۹۸ باب سجود التلاوة

۵ - لأن السجدة جزء من أجزاء الصلاة فيشترط لوجوبها أهلية وجوب الصلاة من الإسلام والعقل والبلوغ والطهارة من الحيض والنفاس حتى لا تجب على كافر وصبي ومجنون وحائض ونفساء قرءوا أو سمعوا، وتجب على المحدث والجنب. البحر الرائق شرح كنز الدقائق، كتاب الصلاة، باب سجود الصلاة، (۲/۲۱۱)، ط: مكتبه علميه كانسي روډ كويټه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پنځم مبحث: د جنازې احکام:

**لومړی مطلب: د زنکدن پر مهال د شهادت کلمې تلقین:**

هر کله چې کوم کس د مرګ وخت ته نږدې شي او د زنکدن علامات يې څرګند شي نو بايد خلک د هغه په وړاندې د شهادت د کلمې ذکر وکړي او مستحب دی چې په ښي اړخ باندې قبلې طرف ته مخامخ واچول شي. او کله چې مړ شي نو زنه به يې وتړي او سترګې به يې پټې کړي.(۲)

د شهادت کلمې په تلقين کې بهتره طريقه داسې ده چې خپله به د شهادت کلمه يو څو ځله په داسې غږ سره ووايي چې تر څو يې د زنکدن په حالت کې نوموړی شخص واوري او هغه ته کلمه ويل ورياد شي. چې کله يې يو ځل وويله بيا دې دويم ځل نه پرې تکراروي، او داسې به ورته نه وايي چې کلمه ووايه، هسې نه چې هغه د تکليف او سختۍ له امله ووايي چې نه يې وايم، نو د ګټې په ځای به يې تاوان ورته رسولی وي.(۳)

کله چې يو کس مړ شي نو په نورو مسلمانانو باندې لازم دي چې په هغه باندې د جنازې لمونځ وکړي. د جنازې لمونځ حکم فرض کفايي دی که يو يا دوه کسانو هم ادا کړ، د ټولو خلکو غاړه پرې خلاصيږي او که هيڅا ونکړ بيا ټول مسلمانان ګنهګاريږي.(۴)

د مړي په تجهيز( غسل، تکفين، جنازه او تدفين) کې بايد تيزي وکړل شي او د ډير وخت د پاره منتظر نه شي. همدارنګه کله چې هديرې ته وړل کيږي نو بايد په مناسبه اندازه باندې تېز تېز قدمونه واخستل شي يعني دومره تېز هم نه چې جنازه د خلکو د اوږو يا د کټ څخه وغورځيږي.(۱)

---

۱ - ذهب الحنفية الى ركن سجدة التلاوة السجود أو بدله مما يقوم مقامه كركوع مصل وايماء مريض وراكب، وقالوا: ان سجود التلاوة سجدة بين تكبيرتين مسنونتين جهرا، واستحبوا له الخرور له من قيام، فمن أراد السجود كبر ولم يرفع يديه وسجد ثم كبر ورفع رأسه اعتبارا بسجدة الصلاة، لما روي عن عبد الله بن مسعود رضي الله عنه أنه قال للتالي: اذا قرأت سجدة فكبر واسجد واذا رفعت رأسک فكبر. الموسوعة الفقهيه الكويتية، (۲۴/ ۲۲۱).

۲ أن أبا هريرة رضي الله عنه قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: حق المسلم على المسلم خمس: رد السلام، و عيادة المريض، و اتباع الجنائز، و اجابة الدعوة، و تشميت العاطس. رواه البخاري. صحيح البخارى، كتاب الجنائز، باب الأمر باتباع الجنائز، ص ۲۸۰، ح ۱۲۴۰، مكتبة البشرى كراتشي.

اذا احتضر الرجل وجه الى القبلة على شقه الأيمن و لقن الشهادتين، لقوله عليه السلام: لقنوا موتاكم شهادة ان لا اله الا الله، المراد الذي قرب من الموت، فاذا مات شد لحياه و غمض عيناه بذلک جر التوارث. الهداية، ج ۱، ص ۲۰۷–۲۰۸، باب الجنائز، مكتبة البشرى.

اذا احتضر الانسان، فالمستحب أن يوجه الى القبلة على شقه الأيمن، كما يوجه في القبر، لأنه قرب موته فيضجع كما يضجع الميت في اللحد و يلقن كلمة الشهادة لقول النبي صلى الله عليه وسلم: لقّنوا موتاكم لا اله الا الله، والمراد من الميت المحتضر، لأنه قرب موته، فسمي ميتاً. –و قد روي عن رسول الله صلى الله عليه وسلم: أنه دخل على أبي سلمة، و قد شقّ بصره فغمضه. بدائع الصنائع فى ترتيب الشرائع، كتاب الصلاة، فصل في صلاة الجنازة، ج ۲، ص ۳۰۲–۳۰۵، دار الكتب العلمية بيروت لبنان.

۳ وَلُقِّنَ الشَّهَادَتَيْنِ، وَصُورَةُ التَّلْقِينِ أَنْ يُقَالَ عِنْدَهُ فِي حَالَةِ النَّزْعِ قَبْلَ الْغَرْغَرَةِ جَهْرًا وَهُوَ يَسْمَعُ أَشْهَدُ أَنْ لَا إلَهَ إلَّا اللَّهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ وَلَا يُقَالُ لَهُ قُلْ وَلَا يُلَحُّ عَلَيْهِ فِي قَوْلِهَا مَخَافَةَ أَنْ يَضْجَرَ فَإِذَا قَالَهَا مَرَّةً لَا يُعِيدُهَا عَلَيْهِ الْمُلَقِّنُ إلَّا أَنْ يَتَكَلَّمَ بِكَلَامٍ غَيْرِهَا، كَذَا فِي الْجَوْهَرَةِ النَّيِّرَةِ.الفتاوي الهندية-۱-۱۵۷.

۴ (قَوْلُهُ فَعَلَى الْمُسْلِمِينَ) أَيْ الْعَالِمِينَ بِهِ وَهُوَ فَرْضُ كِفَايَةٍ يَأْثَمُ بِتَرْكِهِ جَمِيعُ مَنْ عَلِمَ بِهِ.رد المحتار علي الدر المختار-۲-۲۰۶.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې جنازه هدیرې ته وړل کیږي نو ښځې نشي کولای چې د جنازې اتباع وکړي او هدیرې ته ورسره لاړې شي. ځکه د أم عطیه رضی الله تعالی عنها څخه روایت دی چې رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ د جنازې د اتباع څخه منع کړي وو.(۲)

**دویم مطلب: د جنازې د لمانځه فرایض، واجبات او سنتونه:**

د جنازې په لمانځه کې پنځه فرضونه دي: څلور تکبیرونه او یو قیام (البته که مریض وي نو قیام لازم نه دی). ځکه نو که یو تکبیر له تکبیرونو څخه پاتې شي نو لمونځ یې نه کیږي، او که یې دجنازې لمونځ په ناسته وکړ هم نه کیږي (البته د عذر له مخې کېناستل پروا نه لري). سلام ویل دجنازې په لمانځه کې واجب دی. ثناء ویل او درود شریف ویل سنت دي، او په دعا ویلو کې اختلاف دی څوک یې سنت بولي او څوک یې فرض[۳].

**دریم مطلب: د جنازې د لمانځه شرطونه:**

دجنازې د لمانځه دوه ډوله شرطونه دي لومړی ډول هغه دي چې په لمونځ کوونکي پورې اړه لري او دوهم ډول هغه دي چې په مړي پورې اړه لري.

لومړی ډول: د لمونځ کوونکي لپاره هغه ټول شرطونه موجود بدل پکار دي کوم چې دعامو لمونځو نو لپاره ضروري وي.

دوهم ډول شرطونه: کوم شرطونه چه دمړي سره تعلق لري هغه دادي : ۱- مړی به مسلمان وي ۲- دمړي او د مړي د ځای پاکوالی ۳- مړی به د خلکو په مخکې موجود وي،۴ -د مړي اکثره بدن او یانیمایي به یې له سر سره موجود وي. ۵ -په مړي لمونځ کوونکي به په سورلۍ سپاره او یا به په ځمکه پرته له عذره ناست نه وي. ۶ -مړی به په ځمکه یا کټ ایښی وي، په دابه او د خلکو په لاسونو کې به نه وي.(۴)

**څلورم مطلب: د مړي غسل:**

دغسل ورکولو حق لومړی د هغه کس دی چې مړي وصیت ورته کړی وي بیا د پلارګنۍ خپلوان او بیا مړي ته نږدې خپلوان، سړي به سړیو ته غسل ورکوي او ښځې به ښځو ته غسل ورکوي یو د بل مخالف جنس ته غسل ورکول حرام دي، ښځه خپل

---

۱ و یستحب أن یسرع في جهازه، لما روي عن رسول الله صلی الله علیه وسلم أنه قال: عجلوا بموتاکم، فان یک خیراً قدمتموه الیه، و ان یک شراً فبعداً لأهل النار. ندب النبی علیه السلام الی التعجیل. بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع، کتاب الصلاة، فصل في صلاة الجنازة، ج ۲، ص۳۰۶، دار الکتب العلمیة بیروت لبنان.

۲ عن أم عطیة أنها قالت: نهینا عن اتباع الجنائز، و لم یعزم علینا. رواه البخاري. صحیح البخاري، کتاب الجنائز، باب اتباع النساء الجنازة، ص ۲۹۵، رقم الحدیث ۱۲۷۸، مکتبة البشری کراتشي.

۳ وَرُكْنُهَا التَّكْبِيرَاتُ وَالْقِيَامُ؛ لِأَنَّ كُلَّ تَكْبِيرَةٍ مِنْهَا قَائِمَةٌ مَقَامَ رَكْعَةٍ وَشَرْطُهَا عَلَى الْخُصُوصِ اثْنَانِ كَوْنُهُ مُسْلِمًا وَكَوْنُهُ مَغْسُولًا كَذَا فِي الْمُحِيطِ وَيُزَادُ عَلَى الشَّرْطَيْنِ كَوْنُهُ أَمَامَ الْمُصَلِّي كَمَا صَرَّحُوا بِهِ وَسُنَنُهَا التَّحْمِيدُ وَالثَّنَاءُ وَالدُّعَاءُ. البحر الرائق شرح کنز الدقائق (۲/ ۱۸۳).

۴ وشرائطها" ستة أولها "إسلام المیت" لأنها شفاعة ولیست لکافر "و" الثاني "طهارته" وطهارة مکانه لأنه کالإمام "و" الثالث "تقدمه" أمام القوم "و" الرابع "حضوره أو حضور أکثر بدنه أو نصفه مع رأسه" والصلاة علی النجاشي کانت بمشهده کرامة له ومعجزة للنبي صلی الله علیه وسلم. "و" الخامس "کون المصلي علیها غیر راکب" وغیر قاعد "بلا عذر" لأن القیام فیها رکن فلا یترک بلا عذر "و" السادس "کون المیت" موضوعا "علی الأرض" لکونه کالإمام من وجه "فإن کان علی دابة أو علی أیدي الناس لم تجز الصلاة علی المختار إلا" إن کان "من عذر" کما في التبیین. مراقي الفلاح شرح نور الایضاح-۱-۲۱۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېره ته غسل ورکولای شي اوهمدارنګه مور خپل ماشوم اولاد ته چې تر اووه کلنۍ کم وي غسل ورکولای شي ځکه چې هغوی د عورت په پټولو مکلف ندي.(۱)

د غسل ورکولو طريقه داسې ده چې: مړی به په تخته واچول شي،جامې ،ساعت، ګوتمۍ، يا هر ډول ګاڼه چې وي ترې وويستل شي، کوم چې په اسانه ويستل کېږي مګر د هغه وسپنيزو توکو د ويستلو هڅه بايد ونشي چې د غړي په توګه کارول شوي وي، لکه په خوله کې د غاښ په ډول او يا د بدن په نورو برخو کې د کومې اوسپنې په شکل موجود وي. بيا به د بدن کالي ورڅخه وويستل شي. (۲)او له نامه څخه تر زنګنو په څادر،لنګ او يا هر ډول ټوټه وي وپوښل شي،چې عورت يې پټ شي، ځکه د عورت پټول په هر وخت ، ژوند يا مړينه دواړو کې واجب دي.

غسل ورکونکی به نرمې لاسي کڅوړې (دستکشونه) په لاس کړي، که د پلاستيک، رخت يا بل هر څه څخه جوړ وي، که لاسي کڅوړې نه وي، کولای شي له لاسه ټوټه تاو کړي. لومړی به پرته له دې چې د مړي عورت ته وګوري د لنګ لاندې بايد لاس تير کړي او مړي ته استنجاء ورکړي، بيا به ورته اودس ورکړي، ځکه چې غسل ته اودس سنت دی او په اودس کې د خولې او پوزې وينځل هم سنت دي، خو دلته بايد د مړي خولې او پوزې ته د اوبو اچولو څخه ډډه وشي ځکه چې عذر موجود دی يعني د اوبو بيا راويستل تکليف دی.(۳)

---

۱ - أما الرجل فنقول : إذا مات رجل في سفر : فإن كان معه رجال يغسله الرجل، وإن كان معه نساء لا رجل فيهن فإن كان فيهن امرأته غسلته وكفنته وصلين عليه وتدفنه. – أما المرأة فتغسل زوجها ؛ لما روي عن عائشة رضي الله عنها أنها قالت: لو أستقبلنا من الأمر ما اسْتَدْبَرْنَا لما غَسَلَ رَسُول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إلا نساؤه. ومعنى ذلك : أنها لم تكن عالمة وقت وفاة رسول الله صلى الله عليه وسلم بإباحة غسل المرأة لزوجها، ثم علمت بعد ذلك.

– ولنا ما روي عن ابن عباس رضي الله عنه : أن رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سئل عن امرأة تموت بين رجال، فقال: تيمم بالصعيد، ولم يفصل بين أن يكون فيهم زوجها أو لا يكون، ولأن النكاح ارتفع بموتها ؛ فلا يبقى حل المس والنظر ؛ كما لو طلقها قبل الدخول ودلالة الوصف أنها صارت محرمة على التأبيد والحرمة على التأبيد تنافي النكاح ابتداء وبقاء ولهذا جاز للزوج أن يتزوج بأختها وأربع سواها، وإذا زال النكاح صارت أجنبية فبطل حل المس والنظر؛ بخلاف ما إذا مات الزوج؛ لأن هناك ملك النكاح قائم ؛ لأن الزوج مالك والمرأة مملوكة، والملك لا يزول عن المحل بموت المالك ويزول بموت المحل، كما في ملك اليمين فهو الفرق.

وروي أن أبا بكر الصديق رضي الله عنه أوصى إلى امرأته أسماء بنت عميس أن تغسله بعد وفاته؛ وهكذا فعل أبو موسى الأشعري، ولأن إباحة الغسل مستفادة بالنكاح؛ فتبقى ما بقي النكاح، والنكاح بعد الموت باقٍ إلى وقت انقطاع العدة؛ بخلاف ما إذا ماتت المرأة، حيث لا يغسلها الزوج؛ لأن هناك انتهى ملك النكاح؛ لانعدام المحل؛ فصار الزوج أجنبياً؛ فلا يحل له غسلها، واعتبر بملك اليمين؛ حيث لا ينتفي عن المحل بموت المالك ويبطل بموت المحل. البدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، كتاب الصلاة، فصل في من يقوم بالغسيل، ج۲، ص۳۱۸-۳۲۱، دار الكتب العلمية بيروت لبنان.

۲ و أما بيان كيفية الغسل فنقول: يجرد الميت اذا اريد غسله عندنا. – ولنا أن المقصود من الغسل هو التطهير، ومعنى التطهير لا يحصل بالغسل، و عليه الثوب، لتنجس الثوب بالغسالات التي تنجست بما عليه من النجاسات الحقيقية. بدائع الصنائع فى ترتيب الشرائع، كتاب الصلاة، فصل في صلاة الجنازة، ج ۲، ص۳۰۸، دار الكتب العلمية بيروت لبنان.

۳ فاذا ارادوا غسله وضعوه على السرير و جعلوا على عورته خرقة، و نزعوا ثيابه، و وضؤه من غير مضمضة و استنشاق، لأن الوضوء سنة الاغتسال غير ان اخراج الماء منه متعذر فيتركان. الهداية، ج۱، ص۲۰۸/۱۱، باب الجنائز، مكتبة البشرى.

ثم يوضأ وضوءه للصلاة، لما روي عن النبي صلى الله عليه وسلم أنه قال لِلَّاتي غسلن ابنته: ابدأن بميامنها و مواضع الوضوء منها، ولأن هذا سنة الاغتسال في حالة الحياة، فكذا بعد الممات، لأن الغسل في الموضعين لأجل الصلاة الا أنه لا يمضمض الميت و لا يستنشق، لأن ادارة الماء في فم الميت

(c) ketabton.com: The Digital Library



له اودس وروسته د مړي دسر ويښتان او که يې ږيره وه هم په اوبو او صابون او داسې نورو سره وينځل شي، بيا مړی په چپ اړخ پرې ايستل شي، په ښي اړخ يې له سره تر پښو اوبه تيرې شي،همدا ډول عمل بل لورته هم تکرارشي، پای کې مړی ځان ته تکيه شي او په خيټه يې ورو لاس تير شي(۱)، که نجاست ترې ووت هغه دې ووينځل شي، له غسل وروسته مړی په پاکې ټوټې وچ او کفن دې ورکول شي.(۲)

**پنځم مطلب: مړي ته کفن ورکول:**

د کفن او قبر مصارف د مړي له پاتې مال څخه ترسره کيږي که له مړي څخه څه شی نه وي پاتې بيا پر هغه چا لازم دي پر چا يې چې د نفقې مسئوليت وي.

د سړيو لپاره کفن درې جامې دي، يو څادر، دوهم لنګ او دريم قميص، خو که چېرې مجبوريت ؤ يوه جامه هم کفايت کوي چې ټول بدن پرې پټ شي.(۳) د څادر اوږدوالی د سړي د قد نه يو شرعي ګز په اندازه زيات وي او پلنوالی يې دومره وي چې ټول بدن پکې پټ شي. همدا ډول د لنګ پلنوالی به د څادر په اندازه وي او اوږدوالی به يې د څادر نه يوه لويشت کم وي او د قميص پلنوالی هم د لنګ او څادر په اندازه دی خو اوږدوالی يې د غاړې څخه تر زنګنونو پورې وي. د قميص ټوټه بايد دسر طرف ته دومره څيرې شي چې د مړي سر پکې ننوځي.(۴)

د ښځو کفن پنځه جامې دی. په کفن کې د دريو جامو څخه پرته دوه جامې نورې هم پکار دي چې يو سربند او بل سينه بند وي. خو که چيرې مجبوريت ؤ درې جامې هم کفايت کوي. د سينه بند پلنوالی د څادر يا لنګ په اندازه وي مګر اوږدوالی يې له تخرګ څخه تر زنګون پورې وي. او سربند د يومتر نه څه کم پلن او د متر نه څه زيات اوږد پکار دی.(۵)

---

غير ممکن، ثم يتعذر اخراجه من الفم الا بالکب. في بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع، کتاب الصلاة، فصل في صلاة الجنازة، ج ۲، ص۳۰۹، دار الکتب العلمية بيروت لبنان.

۱ والأصل في المسح ما روي أن النبي صلى الله عليه وسلم لما تولى غسله علي و العباس و الفضل بن عباس و صالح مولى رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و علي رضى الله تعالى عنه – أسند رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الى نفسه، و مسح بطنه مسحاً رقيقاً، فلم يخرج منه شيء. فقال عليٌّ رضي الله عنه، طبت حياً و ميتاً – ثم اذا مسح بطنه فان سال منه شيء يمسحه، کي لا يتلوث الکفن و يغسل ذلک الموضع، تطهيراً له عن النجاسة الحقيقية. بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع، کتاب الصلاة، فصل في صلاة الجنازة، ج ۲، ص۳۱۰-۳۱۱، دار الکتب العلمية بيروت لبنان.

۲ ثم يفيضون الماء عليه و يجمر سريره وتراً. لقوله عليه السلام: ان الله وتر يحب الوتر. ثم يضجع على شقه الأيسر فيغسل بالماء والسدر حتى يرئ ان الماء قد وصل الى ما يلي التخت منه، ثم يضجع على شقه الأيمن فيغسل بالماء والسدر حتى يرى ان الماء قد وصل الى ما يلي التخت منه، لأن السنة هو البداية بالميامن ثم يجلسه و يسنده اليه و يمسح بطنه مسحاً رقيقاً تحضراً عن تلويث الکفن فان خرج منه شيئاً غسله ولا يعيد غسله و لا وضوءه ثم ينشفه بثوبٍ و يجعله في اکفانه و يجعل الحنوط على رأسه و لحيته و الکافور على مساجده. لأن التطيب سنة و المساجد اولى بزيادة الکرامة و لا يسرح شعر الميت و لا لحيته و لا يقص ظفره و لا شعره. الهداية، ج ۱، ص ۲۰۸-۲۱۱، باب الجنائز، مکتبة البشرى.

۳ أن عبدالرحمن بن عوف أُتِي بطعامٍ و کان صائماً. فقال: قتل مصعب بن عمير و هو خير مني، کفّن في بردةٍ، ان غطِّيَ رأسهُ بدت رجلاه. الخ. صحيح البخاري، کتاب الجنائز، باب اذا لم يوجد الا ثوب واحدٌ، ص ۶۹۴، ح ۱۲۷۵، مکتبةالبشرى کراتشي.

۴- السنة ان يکفن في ثلاثة اثواب، ازار و قميص و لفافة لما روى انه صلى الله عليه وسلم کفن بثلاثة اثواب بيض سحولية و لأنه اکثر ما يلبسه عادة في حياته فکذا بعد مماته فان اقتصر على الثوبين جاز و الثوبان ازار و لفافة و هذا کفن الکفاية لقول ابي بکر: اغسلوا ثوبي هذين و کفنوني فيهما. الهداية، ج ۱، ص ۲۱۱-۲۱۴، باب الجنائز، مکتبة البشرى.

۵ و تکفن المرأة في خمسة اثوابٍ درع و ازار و خمار ولفافة و خرقة تربط فوق ثدييها. لما قال ام عطية ان النبي صلى الله عليه وسلم أعطى اللواتي غسلن ابنته خمسة أثواب. و لأنها تخرج فيها حالة الحياة فکذا بعد الممات، ثم هذا بيان کفن السنة. و ان اقتصروا على ثلاثة أثواب، جاز، وفي ثوبان، و

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شپږم مطلب: د کفن ورکولو طریقه:**

اول به په پاکه تخته یا پاک ځای باندې د کفن ځادر هوار کړي د هغه له پاسه به لنګ وغوړوي او د هغه د پاسه د قمیص نیمه حصه وغوړوي او نیمه به ونغاړي د سر طرف ته به یې کیږدي.

وروسته به مړی له تختې څخه را پورته کړي د کفن د پاسه به یې کیږدي ،بیا به د قمیص نغښتې حصه کې سر ور ننباسي او تر زنګنونو پورې به یې پرې را خپور کړي. لومړی به د کفن چپ طرف پرې را واړوي بیا به یې ښی طرف پرې راواړوي د انسان د ژوندانه د جامو په څېر دواړه سرونه د کفن به په ټوټه وتړي چې خپور نه شي.

د ښځو په کفن کې د قمیص اغوستلو نه پس به د هغې د سر ویښتان دوه ځایه کړي او په سینه به یې ورته خپاره کړي ،بیا به سربند د دې د پاسه واچوي د هغه څخه وروسته دې سینه بند ونغاړي.

په کفن او د مړي د سجدې په ځایونو ،دلاسونو په ورغویو زنګنونو او پښو به کافور یا عطر یا بل کوم ډول خوشبو یې ووهي. (۱)

**اووم مطلب: د جنازې د لمانځه طریقه:**

د جنازې د لمانځه د اداء کولو تر ټولو لومړی حق د بادشاه یا حاکم دی، که چیرې هغه نشي حاضرېدلای نو بیا د قاضي حق دی، که چیرې قاضي هم نشي حاضرېدلای نو بیا د قریې د امام مخکې کول مستحب دي او بیا د هغه څخه وروسته د مړي د ولي حق دی. (۲)

کله چې څوک وغواړي د جنازې لمونځ اداء کړي نو لومړی باید د لمانځه لپاره صفونه جوړ کړي، مستحب دا ده که چیرې خلک ډېر وو نو درې، پنځه، اووه صفونه دې جوړ کړي یعنی ښه خبره دا ده چې د صفونو تعداد باید طاق وي. بیا دې امام د مړي د سینې په برابر ودرېږي او مقتدیان دي د هغه شاته جماعت په لاندې طریقې سره اداء کړي:

---

خمار، و هو کفن الکفایة، و یکره أقل من ذلک، و في الرجل: یکره الاقتصار علی ثوب واحد، الا في حالة الضرورة، لأن مصعب بن عمیر حین استُشهد کفّن في ثوب واحد، و هذا کفن الضرورة. الهدایة، ج۱، ص ۴۱۱ ۴۱۴، باب الجنائز، مکتبة البشری.

۱ و اذا ارادوا لف الکفن ابتدءوا بجانبه الأیسر فلفوه علیه ثم بالأیمن کما فی حال الحیواة و بسطه ان تبسط اللفافة اولاً ثم یبسط علیها الازار ثم یقمص المیت و یوضع علی الازار ثم یعطف الازار من قبل الیسار ثم من قبل الیمین ثم اللفافة کذلک و ان خافوا ان ینتشر الکفن عنه عقدوه بخرقة صیانة عن الکشف. الهدایة، ج ۱، ص ۴۱۱ - ۴۱۴، باب الجنائز، مکتبة البشری.

وتکفن المرأة في خمسة أثواب درع وإزار وخمار ولفافة وخرقة تربط فوق ثدییها " لحدیث أم عطیة أن النبي علیه الصلاة والسلام أعطی اللواتي غسلن ابنته خمسة أثواب ولأنها تخرج فیها حالة الحیاة فکذا بعد الممات ثم هذا بیان کفن السنة " وإن اقتصروا علی ثلاثة أثواب جاز " وهي ثوبان وخمار وهو کفن الکفایة " ویکره أقل من ذلك وفي الرجل یکره الاقتصار علی ثوب واحد إلا في حالة الضرورة " لأن مصعب بن عمیر حین استشهد کفن في ثوب واحد وهذا کفن الضرورة " وتلبس المرأة الدرع أولا ثم یجعل شعرها ضفیرتین علی صدرها فوق الدرع ثم الخمار فوق ذلك ثم الإزار تحت اللفافة........ویجعل الحنوط علی رأسه ولحیته والکافور علی مسجده " لأن التطیب سنة والمساجد أولی بزیادة الکرامة " ولا یسرح شعر المیت ولا لحیته ولا یقص ظفره ولا شعره.الهدایة في شرح البدایة-۱-۸۹.

والإزار من القرن إلی القدم واللفافة کذلك والقمیص من أصل العنق إلی القدم " . الهدایة في شرح بدایة المبتدي (۱/ ۸۹)

۲- و أولی الناس بالصلاة علی المیت السلطان ان حضر، فان لم یحضر، فالقاضي، لأنه صاحب ولایة فان لم یحضر، فیستحب تقدیم امام الحي، ثم الولي و الأولیاء علی الترتیب المذکور في النکاح، فان صلی غیر الولي أو السلطان أعاد الولي، یعني ان شاء، و ان صلی الولي لم یجز لأحد أن یصلي بعده. الهدایة، ج ۱، ص۴۱۵، باب الجنائز، مکتبة البشری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام او خلک به د جنازې د لمانځه د ادا کولو نیت وکړي. کله چې نیت وکړي نو تکبیر تحریمه، الله اکبر به ووایي، او له تکبیر وروسته به ثنا پیل کړي: ﴿ سُبحانَكَ اللهُمَّ وَبِحَمدِكَ وَتَبارَكَ اسمُكَ وَتَعالى جَدُّكَ وَجَلَّ ثَناءُكَ وَلااِلهَ غَيرُكَ﴾. کله چې ثنا ووایي بیا به دوهم تکبیر وکړي او وروسته به ورپسې درود شریف ووایي: ﴿اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلى مُحَمَّدٍ و عَلى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ وَبَارَكْتَ وَرَحِمْتَ و تَرَحَّمْتَ عَلى ابراهِيمَ وَعَلَى آل ابرَاهِيمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَجِيْدٌ﴾ او یا عام درود شریف کوم چې په پنځه وخته لمانځونو کې ویل کیږي ووایي: ﴿اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، اللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ﴾ کله چې درود شریف ووایي نو دریم تکبیر به وکړي، که چیرې مړی نر ؤ او یا ښځه خو چې بالغ وي نو دا دعا به ولولي: ﴿اللهُمَّ اغفر لِحينا, وَمَيتِنا, وَشاهِدِنا, وَغائِبِنا, وَصَغيرِنا,وَكَبيرِنا,وَذَكَرِنا وَاُنثانا اَللهُمَّ مَن احييتَه مِنا فَاحيه على الاِسلامِ وَمَن تَوَفَيته مِنا فتوفه عَلَى اِلايمان﴾ او که چیرې امکان وو دغه دعاء دې هم ورسره اضافه کړي: ﴿اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهُ وَارْحَمْهُ وَعَافِهِ وَاعْفُ عَنْهُ وَأَكْرِمْ نُزُلَهُ وَوَسِّعْ مَدْخَلَهُ وَاغْسِلْهُ بِالْمَاءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ وَنَقِّهِ مِنَ الْخَطَايَا كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الأَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ وَأَبْدِلْهُ دَاراً خَيْرًا مِنْ دَارِهِ وَأَهْلاً خَيْرًا مِنْ أَهْلِهِ وَزَوْجاً خَيْراً مِنْ زَوْجِهِ وَأَدْخِلْهُ الجَنَّةَ وَأَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَمِنْ عَذَابِ النَّارِ﴾ او که چیرې مړی ماشوم وو نو دا دعا به ووایي: ﴿اَللهُمَّ اجعَلهُ لَنا فَرَطاً واجعلهُ لَنا اجراً وَذخرًا واجعلهُ لَنا شافِعاً وَمُشفَعًا﴾ او که چیرې ماشومه وه نو دا دعا به ووایي: ﴿اَللهُمَّ اجعَلها لَنا فرطاً وَاجعلها لَنا اجراً وذخرا واجعلها لَنا شافِعَةً ومُشَفَّعَةً﴾ بیا به څلورم تکبیر ووایي او له هغه څخه وروسته به اول ښي طرف او بیا چپ طرف ته سلام وګرځوي او هر لورې ته په مخ ګرځولو سره به ﴿السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ﴾ ووایي. (۱)

**مسئله :** ځینې خلک د جنازې لمونځ د بوټونو یا څپلیو سره کوي، په دغه صورت کې که بوټ یا څپلۍ د نجاست او مردارۍ څخه پاکې وي لمونځ صحیح کېږي. او که چیرې څپلۍ پاکې نه وې بیا یې لمونځ نه صحیح کیږي، که ځمکه ناپاکه وي او خپلې پاکې څپلۍ وباسي په څپلیو ودریږي بیا هم لمونځ صحیح کېږي. (۲)

## شپږم مبحث: د دعا بیان

**لومړی مطلب: د دعا معنا** :

دعا په لغت کې طلب او غوښتنې ته وایي، او په شریعت کې دعا داسې عبادت دی چې د دې په سبب بنده خپل ځان الله تعالی ته نږدې کوي او د هغه څخه مرسته او کومک غواړي. (۳)

---

۱ و الصلاة: أن يكبر تكبيرة يحمد الله عقيبها، ثم يكبر تكبيرة يصلي فيها على النبي صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثم يكبر تكبيرة يدعو، فيها لنفسه، و للميت، و للمسلمين، ثم يكبر الرابعة و يسلم. الهداية، ج۱، ص ۴۱۵ - ۴۱۷، باب الجنائز، مكتبة البشرى.

و لا يستغفر للصبي، و لكن يقول: اللهم اجعله لنا فرطاً، و اجعله لنا أجراً و ذُخراً و اجعله لنا شافعًا و مشفَّعًا. الهداية، ج۱، ص۴۱۸، باب الجنائز، مكتبة البشرى.

۲ وَفِي الْقُنْيَةِ الطَّهَارَةُ مِن النَّجَاسَةِ فِي ثَوْبٍ وَبَدَنٍ وَمَكَانٍ، وَسَتْرُ الْعَوْرَةِ شَرْطٌ فِي حَقِّ الْمَيِّتِ وَالْإِمَامِ جَمِيعًا . الدر المختار وحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (۲/ ۲۰۸)

۳ الدعاء: ما يدعى به الله من القول. (ج) أدعية. : النداء. وفي القرآن الكريم: (لا تجعلوا دعاء الرسول كدعاء بعضكم بعضا) (النور: ) شرعاً: سؤال العبد ربه على وجه الابتهال. القاموس الفقهي (ص: ۱۳۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دویم مطلب: د دعا فضیلت:**

دعا د الله تعالی سره د انسانانو د ارتباط له مهمو وسایلو څخه شمېرل کیږي. له الله تعالی سره نږدېوالی، راز او نیاز د هر عبادت روح ګڼل کېږي. د یو مسلمان دعا هغه وخت قبلېدو ته نږدې وي چې ایمان او اخلاص ورسره وي او د الله تعالی د اوامرو منونکی وي او له نواهیو څخه یې ځان ساتلی وي. که چیرته لږ پام وکړو نو راته ښکاره به شي چې ټول موجودات د الله تعالی سره یو خاص راز او نیاز لري او له هغه څخه خپلې غوښتنې کوي، لکه الله تعالی چې په سورة الرحمن کې فرمایي: په اسمانونو او ځمکو کې چې هر څوک دي، خپلې اړتیاوې له همغه (الله) څخه غواړي.(۱)

د دعا د اهمیت او فضیلت په اړه په قرانکریم او مبارکو احادیثو کې ډېره زیاته یادونه شوې ده. الله تعالی فرمایي چې زما عبادت وکړئ او زما څخه دعا وغواړئ، زه به یې قبلوم.

په بل مبارک آیت کې فرمایي: او کله چې زما بندګان زما په اړه درنه پوښتنه وکړي (نو ورته ووایه) یقیناً زه (ورته) نږدې یم، د دعا کوونکي دعا قبلوم کله چې له ما څخه دعا غواړي، پس دوی دې زما حکم ومني، او پر ما دې ایمان راوړي، د دې لپاره چې سمه لار ومومي.

همدارنګه په بل ځای کې فرمایي: آیا څوک دی هغه ذات چې قبلوي د ډېر ناچاره دعا کله چې یې راوبلي، او لرې کوي مصیبتونه، او ګرځوي تاسو خلیفګان د ځمکې، آیا شته دی بل څوک لایق د عبادت له الله تعالی سره، تاسي ډېر لږ نصیحت قبلوئ.(۲)

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي: بېشکه دعا عبادت دی. په یو بل حدیث مبارک کې فرمایي: هغه وخت چې په هغه کې بنده تر نورو ټولو وختونو خپل رب ته نژدې وي هغه د سجدې حالت دی نو په دغه وخت کې دعا ډیره غواړئ.

همدارنګه فرمایي: د ځمکې پر مخ داسې مسلمان نشته چې د الله تعالی څخه دعا غواړي او الله تعالی یې ورته قبوله نکړي او یا د دغې دعا له امله د هغه څخه شر لرې نکړي تر هغه پورې چې په ګناه باندې دعا ونکړي او یا د صله رحمې په قطع کولو باندې.

په یو بل حدیث مبارک کې چې د سلمان فارسي رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي: بېشکه ستاسو رب ډېر حیاناک او کریم ذات دی، له خپل هغه بنده څخه ورته حیا او شرم ورځي چې لاسونه ورته د دعا لپاره پورته کړي او هغه یې ورته خالي واپس کړي. همدارنګه په بل ځای کې فرمایي: د الله تعالی په وړاندې د دعا څخه زیات عزتمند شی بل څه نشته.(۳)

---

۱ - قال الله تعالی: ﴿يَسْأَلُهُ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ...﴾ سورة الرحمن آية ۲۹

۲ قال الله تعالی: ﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ ...﴾ سورة الغافر آية ۶۰. ﴿ادْعُوا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ﴾ سورة الأعراف آية ۵۵. ﴿وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي وَلْيُؤْمِنُوا بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ﴾ سورة البقرة آية ۱۸۶. ﴿أَمَّن يُجِيبُ الْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ السُّوءَ وَيَجْعَلُكُمْ خُلَفَاءَ الْأَرْضِ أَإِلَٰهٌ مَّعَ اللَّهِ قَلِيلًا مَّا تَذَكَّرُونَ﴾ سورة النمل آية ۶۲.

۳ عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "الدُّعَاءُ هُوَ الْعِبَادَةُ". رواه ابو داؤد و الترمذي. سنن أبي داود (۲/ ۷۶) سنن الترمذي ت بشار (۵/ ۶۱). رياض الصالحين ۴۸۵ كتاب الدعوات مكتب البشری كراتشي.

وعن أبي هريرة رضي الله عنه أن رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: أقرب ما يكون العَبْدُ مِن رَبِّهِ وَهُوَ سَاجِدٌ، فَأَكْثِرُوا الدُّعَاء. رَوَاهُ مُسْلِمٌ. ج ۱ص۳۵۰ - رقم الحديث ۴۸۲ - باب مايقال في الركوع والسجود. رياض الصالحين ص۴۹۲ كتاب الدعوات مكتبة البشری كراتشي.

وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رَضِيَ الله عَنْهُ، أَنْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ما عَلى الأَرْضِ مُسْلِمٌ، يَدْعُو الله تعالى بِدَعْوَةٍ، إلا آتَاهُ اللهُ إِيَّاهَا، أَوْ صَرَفَ عَنْهُ مِنَ السُّوءِ مِثْلَهَا، ما لم يَدْعُ بِإثم، أو قطيعة رحم. فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ القَوْمِ: إِذًا نُكْثِرُ، قَالَ: اللهُ أَكْثَرُ. رواه الترمذي وقال: حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيح. سنن

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمان ته پکار دي چې په هغو الفاظو سره دعا وکړي کوم الفاظ چې په قرانکریم کې ذکر شوي او همدارنګه د رسول الله ﷺ څخه رانقل شوي وي. په قرانکریم کې چې د پخوانیو انبیاوو او نېکانو کوم الفاظ او دعاوې ذکر شوي د هغو مهم مقصد همدغه دی چې مسلمان بنده په همغه الفاظو سره دعا وکړي ځکه چې دغه ډول الفاظ الله تعالی ته تر نورو الفاظو زیات د منلو وړ دي.

**دریم مطلب: د دعا اداب او د هغې د قبلېدو لاملونه:**

۱-په پوره اخلاص او امید سره دعا کول. ۲-دعا باید د الله تعالی په صفت او ثنا سره پیل شي او وروسته پر رسول الله ﷺ درود وویل شي، لکه:

(اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ ، وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ ، وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ) .

او هم بیرته په درود سره دعا ختمه شي. ۳-د دعا کولو په وخت باید د زړه حضور ولري او په قبلېدو باندې یقین وي. ۴-په دعا کې زاری کول او د عجلې څخه ځان ساتل. ۵-باید چې خوراک، څښاک او پوښاک ټول د حلال مال څخه وي. ۶-په عاجزي او ټیټ غږ سره دعا کول. ۷-قبلې ته مخ کول او لاس اوچتول. ۸-د ګناه په کار او د خپلولۍ، صله رحمۍ په پرېکولو دعا نه کول. ۹-په دعا کې د الله تعالی ښایسته صفات او نومونه وسیله کول. ۱۰-هغه دعاوې غوښتل کوم چې رسول الله ﷺ په خپله مبارکه خوله غوښتې وي. (۱)

**څلورم مطلب: هغه وختونه او حالات چې پکې دعا قبلېږي:**

۱-د سحري یا پیشمني وخت. ۲-د فرض لمانځه څخه وروسته. ۳-د آذان او اقامت ترمنځ وخت. ۴-د سجدې په حالت کې. ۵-د جمعې د ورځې په مازدیګر کې. ۶- دقدر په شپه کې. ۷- دچرګ د اذان پر وخت. ۸-د روژې مبارکې په ټوله میاشت کې. ۹-د روژه ماتي په وخت کې. ۱۰-د شپې په دریمه حصه کې نژدې د سهار طرف ته. ۱۱-د والدینو سره نیکي کول، صدقه ورکول او د الله تعالی د نافرماني څخه ځان ساتل د دعا د قبلېدو سبب ګرځي. (۲)

---

الترمذي ت بشار (۵/ ۴۵۷) بَاب فِي انتِظَارِ الفَرَجِ وَغَيرِ ذَلِکَ ورواه الحاكم، وَزَادَ فِيهِ : أَوْ يَدَّخِرَ لَهُ مِنَ الأَجْرِ مِثْلها. رياض الصالحين ص۴۹۲ كتاب الدعوات مكتبة البشرى كراتشي.

عن أبي هريرة رضی الله تعالی عنه عن النبي صلى ﷺ قال: ليس شيءٌ أكرم على الله تعالى من الدعاء. جامع الترمذي، أبواب الدعوات، ص ۴۶۲، رقم الحديث ۳۳۷۰، ناشر الطاف اینډ سنز كراتشي.

۱ قال الله تعالى: ﴿ادْعُوا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ﴾ سورة الأعراف آية ۵۵.

وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رَضِيَ الله عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ : ما على الأَرْضِ مُسْلِمٌ، يَدْعُو الله تعالى بِدَعْوَةٍ، إلا آتَاهُ اللهُ إِيَّاهَا، أَوْ صَرَفَ عَنْهُ مِنَ السُّوءِ مِثْلَهَا ، ما لم يَدْعُ بإثم، أو قطيعة رحم، فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ القَوْمِ : إِذًا نُكْثِرُ ، قَالَ: اللهُ أَكْثَرُ . رواه الترمذي وقال : حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيح . سنن الترمذي ت بشار (۵/ ۴۵۷) بَاب فِي انتِظَارِ الفَرَجِ وَغَيرِ ذَلِکَ. ورواه الحاكم، وَزَادَ فِيهِ : أَوْ يَدَّخِرَ لَهُ مِنَ الأَجْرِ مِثْلها. رياض الصالحين ص۴۹۲ كتاب الدعوات مكتبة البشرى كراتشي.

وَعَنْهُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ : يُسْتَجَابُ لأَحَدِكُم ما لم يَعْجَل : يَقُولُ : قد دعوت ربي، فلم يستجب لي" متفق عليه . وفي رواية المسلم : لا يَزَالُ يُسْتَجَابُ لِلْعَبْدِ، مَا لَم يدع بإثم، أو قطيعة رحم مَا لَمْ يَسْتَعْجِلْ، قِيلَ : يَا رَسُولَ الله مَا الاسْتِعْجَالُ؟ قَالَ : يَقُولُ : قَدْ دَعَوْتُ، وَقَدْ دَعَوْتُ ، فلم أَن يَسْتَجِيبُ لي ، فَيَسْتَحْسِرُ عِندَ ذلِكَ، وَيَدَعُ الدعاء) صحيح مسلم (۴/ ۲۰۹۶) رقم الحديث (۲۷۳۵) بَابُ بَيَانِ أَنَّهُ يُسْتَجَابُ للدَّاعي ما لَمْ يعجل فَيَقُولُ: دَعَوْتُ فَلَمْ يستجب لِي. رياض الصالحين، ص۴۹۲ كتاب الدعوات مكتبة البشرى كراتشي.

۲ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " يَنْزِلُ رَبُّنَا تَبَارَكَ وَتَعَالَى كُلَّ لَيْلَةٍ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا حِينَ يَبْقَى ثُلُثُ اللَّيْلِ الآخِرُ يَقُولُ: مَنْ يَدْعُونِي، فَأَسْتَجِيبَ لَهُ مَنْ يَسْأَلُنِي فَأُعْطِيَهُ، مَنْ يَسْتَغْفِرُنِي فَأَغْفِرَ لَهُ" ، صحيح البخاري (۲/ ۵۳) كتاب التهجد، باب الدعاء والصلاة من آخر الليل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پنځم مطلب: هغه کسان چې دعا يې ژر قبلېږي:**

**له صحيحو احاديثو مبارکو څخه دا ثابته ده، چې د لاندې کسانو دعاوې ژر قبلېږي:**

**۱- د يوه مسلمان دعا د بل غايب مسلمان په حق کې(۱)**

**۲- د روژه لرونکي دعا د روژه ماتې په وخت کې.**

**۳- د عادل واکمن دعا.**

**۴- د مظلوم دعا(۲)**

**۵- د والدينو دعا د اولاد په حق کې.**

**۶- د مسافر دعا (۳)**

**۷- د حاجي دعا تردې چې کور ته واپس شي.**

**۸- د مجاهد دعا.**

**۹- د مريض دعا (۴)**

---

عَنِ ابْنِ شِهَابٍ أَخْبَرَنِي أَبُو سَلَمَةَ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لِرَمَضَانَ: مَنْ قَامَهُ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ. صحيح البخاري، كتاب صلاة التراويح، باب فضل من قام رمضان، ص ۹۸۲، رقم الحديث ۲۰۰۸،مكتبة البشرى:

عَن أبي هريرة أن النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا سَمِعْتُمْ صياح الديكة فَسَلُوا اللهَ مِنْ فَضْلِهِ، فَإِنَّهَا رَأَتْ مَلَكًا، وَإِذَا سَمِعْتُمْ نَهِيقَ الْحِمَارِ فَتَعَوَّذُوا بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ فَإِنَّهَا رَأَتْ شَيْطَانًا. رواه البخاري. صحيح البخاري، كتاب بدء الخلق، باب خير مال المسلم...، ص ۱۵۲۵، ح ۳۳۰۳،مكتبة البشرى.

عن أبي أُمَامَةَ قَالَ: قِيلَ: يَا رَسُولَ اللهِ أَيُّ الدُّعَاءِ أَسْمَعُ قَالَ: جَوْفُ اللَّيْلِ الآخِرِ، وَدُبُرُ الصَّلَوَاتِ الْمَكْتُوبَاتِ. رواه الترمذي. جامع الترمذي، آبواب الدعوات، ص ۴۹۴، ح ۳۴۹۹، الطاف ايند سنز كراتشي.

عَنْ عَمْرِو بن شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: خَيْرُ الدُّعَاءِ دُعَاءُ يَوْمِ عَرَفَةَ، رواه الترمذي. جامع الترمذي، آبواب الدعوات، ص ۵۱۷، ح ۳۵۸۵ الطاف ايند سنز كراتشي.

عن سهل بن سعد قال: قال رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ثِنْتَانِ لاتُرَدَّانِ أَوْ قَلَّ مَا تُرَدَّانِ الدُّعَاءُ عِنْدَ النِّدَاءِ وَعِنْدَ الْبَأْسِ حِينَ يُلْحِمُ بَعْضُهُ بَعْضًا. رواه ابو داؤد. سنن ابو داود، كتاب الجهاد، ص ۲۲۴، رقم الحديث ۲۴۵۰، دار الكتب العلمية بيروت لبنان.

۱ - وعن عبد الله بن عمرو قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «إن أسرع الدعاء إجابة دعوة غائب لغائب» . رواه الترمذي وأبو داود. مشكاة المصابيح، (۱/ ۲۱۲)، كتاب الدعوات، ط: المكتبة الحقانية محله جنكي، بشاور – باكستان.

۲ - وعن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " ثلاثة لا ترد دعوتهم: الصائم حين يفطر والإمام العادل ودعوة المظلوم يرفعها الله فوق الغمام وتفتح لها أبواب السماء ويقول الرب: وعزتي لأنصرنك ولو بعد حين ". رواه الترمذي. پورتنی حواله، (۱/ ۲۱۲)، كتاب الدعوات، ط: المكتبة الحقانية محله جنكي، بشاور – باكستان.

۳ - وعنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " ثلاث دعوات مستجابات لا شك فيهن: دعوة الوالد ودعوة المسافر ودعوة المظلوم ". رواه الترمذي وأبو داود وابن ماجه. پورتنی حواله (۱/ ۲۱۲)، كتاب الدعوات، ط: المكتبة الحقانية محله جنكي، بشاور – باكستان.

۴ - وعن ابن عباس رضي الله عنهما عن النبي صلى الله عليه وسلم قال " خمس دعوات يستجاب لهن: دعوة المظلوم حتى ينتصر ودعوة الحاج حتى يصدر ودعوة المجاهد حتى يقعد ودعوة المريض حتى يبرأ ودعوة الأخ لأخيه بظهر الغيب ". ثم قال: «وأسرع هذه الدعوات إجابة دعوة الأخ لأخيه بظهر الغيب» . رواه البيهقي في الدعوات الكبير. مشكاة المصابيح پورتنی حواله، (۱/ ۲۱۳)، كتاب الدعوات، ط: المكتبة الحقانية محله جنكي، بشاور – باكستان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شپږم مطلب: ځينې مسنونې دعاګانې:**

**مسجد ته د ننوتلو دعا:**

(اللهمَّ افْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ) اللهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ عَلى مُحَمَّد، رَبِّ اغْفِرْ لِيْ ذُنُوْبِيْ وَافْتَحْ لِيْ أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ. (۱)

**مسجد څخه د وتلو دعا:**

(اللهمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ) اللهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ عَلى مُحَمَّد، رَبِّ اغْفِرْ لِيْ ذُنُوْبِيْ وَافْتَحْ لِيْ أَبْوَابَ فَضْلِكَ.

**له هر ډول افت او ناروغۍ نه دځان ساتنې دعا:**

اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الهَمِّ وَالحَزَنِ، وَالعَجْزِ وَالكَسَلِ، وَالبُخْلِ وَالجُبْنِ، وَضَلَعِ الدَّيْنِ، وَغَلَبَةِ الرِّجَالِ. (۲)

**يوه جامع دعا:**

اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنَ الْخَيْرِ كُلِّهِ عَاجِلِهِ وَآجِلِهِ، مَا عَلِمْتُ مِنْهُ وَمَا لَمْ أَعْلَمْ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الشَّرِّ كُلِّهِ عَاجِلِهِ وَآجِلِهِ، مَا عَلِمْتُ مِنْهُ وَمَا لَمْ أَعْلَمْ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ مَا سَأَلَكَ عَبْدُكَ وَنَبِيُّكَ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا عَاذَ بِهِ عَبْدُكَ وَنَبِيُّكَ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْجَنَّةَ وَمَا قَرَّبَ إِلَيْهَا مِنْ قَوْلٍ أَوْ عَمَلٍ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ النَّارِ وَمَا قَرَّبَ إِلَيْهَا مِنْ قَوْلٍ أَوْ عَمَلٍ، وَأَسْأَلُكَ أَنْ تَجْعَلَ كُلَّ قَضَاءٍ قَضَيْتَهُ لِي خَيْرًا. (۳)

## اووم مبحث: د توبې بيان

**لومړی مطلب: د توبې پېژندنه او حکم:**

توبه په لغت کې رجوع او راګرځېدلو ته وايي.

او په اصطلاح کې عبارت ده: د سمدستي ګناهونو پرېښودل، په تېرو ګناهونو پښېمانتيا، د کړې ګناه نه ښښنه غوښتل، او په راتلونکې کې د ګناه د نه کولو کلکه اراده کول. (۴)

**دويم مطلب: د توبې د مشروعيت او اهميت دلائل:**

الله تعالی په قرانکريم کې فرمايي: ﴿وَتُوبُوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ ٱلْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾. (۵)

ژباړه: او توبه وباسئ تاسې الله ته ټول ای مؤمنانو! لپاره د دې چې تاسې ښېګڼه او خلاصی ومومئ (په دارينو کې).

همدا رنګه په بل ځای کې فرمايي: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ تُوبُوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ تَوْبَةً نَّصُوحًا﴾ (۶)

ژباړه: ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! توبه وباسئ تاسې الله ته توبه خالصه (رښتيا د زړه له کومې).

---

۱ - عن فاطمة الكبرى قالت كان رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اذا دخل المسجد صلى على محمد وسلم، وقال رب اغفر لي ذنوبي و افتح لي ابواب رحمتك و اذا خرج صلى على محمد وسلم وقال رب اغفر لي ذنوبي و افتح لي ابواب فضلك. لما في جامع ترمذي ج۱، ص ۷۱، باب ما يقول عند دخول المسجد، مكتبة حقانية محله جنكي پشاور.

۲ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم يَتَعَوَّذُ يَقُولُ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحَزَنِ، وَالْعَجْزِ، وَالْكَسَلِ، وَالْبُخْلِ، وَالْجُبْنِ، وَضَلَعِ الدَّيْنِ، وَغَلَبَةِ الرِّجَالِ. مسند ابن الجعد، رقم الحديث ۲۹۰۸، مؤسسة نادر بيروت.

۳ - رواه مسلم. مسند احمد ۴۷۴.

۴ - قَالَ الْكَلْبِيُّ: التَّوْبَةُ النَّصُوحُ النَّدَمُ بِالْقَلْبِ، وَالِاسْتِغْفَارُ بِاللِّسَانِ، وَالْإِقْلَاعُ عَنِ الذَّنْبِ، وَالِاطْمِئْنَانُ عَلَى أَنَّهُ لَا يَعُودُ. تفسير القرطبي (۱۸/ ۱۹۸)

۵ - سورة النور، آية (۳۱).

۶ - سورة التحريم، آية (۸).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دریم مطلب: د توبې فضائل:**

**قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَا أَيُّهَا النَّاسُ تُوبُوا إِلَى اللهِ، فَإِنِّي أَتُوبُ، فِي الْيَوْمِ إِلَيْهِ مِائَةَ، مَرَّةٍ».** (۱)

ژباړه: د أغر بن يسار المزني رضي الله عنه څخه روايت دی فرمايي: رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: ای خلکو تاسو الله تعالی ته توبه وباسئ او د هغه څخه مغفرت وغواړئ، بېشکه زه الله تعالی ته په ورځ کې سل ځلې توبه وباسم.

په يوه بل حديث مبارک کې رانقل دي:

**عَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يَبْسُطُ يَدَهُ بِاللَّيْلِ لِيَتُوبَ مُسِيءُ النَّهَارِ، وَيَبْسُطُ يَدَهُ بِالنَّهَارِ لِيَتُوبَ مُسِيءُ اللَّيْلِ، حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا».** (۲)

ژباړه: د ابو موسی عبدالله بن قيس الأشعري رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي: بېشکه الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ د شپې پرمهال خپل لاسونه غوړوي(لکه څنګه چې د هغه له شان سره مناسب دي) د دې لپاره چې د ورځې ګناه کوونکی توبه وباسي او همداسې د ورځې پر مهال هم خپل لاسونه غوړوي د دې لپاره چې د شپې ګناه کوونکی توبه وباسي(د توبې دروازه هر وخت خلاصه وي) تر دې پورې چې لمر د مغرب له طرفه راوخېژي( قيامت قائم شي).

توبه د ټولو علماوو په اجماع واجب ده. (۳)

**څلورم مطلب: د توبې د قبوليت شرطونه:**

دا چې توبه له هرې ګناه څخه ويستل واجب دي، په همدې اساس که چېرې هغه ګناه داسې وي، چې له حقوق الله سره تعلق ولري، نو له داسې ګناهونو څخه توبه ايستل درې شرطونه لري، چې په لاندې ډول دي: له ګناه څخه لاس اخيستل، پر ګناه پښېمانه کېدل، عزم او پوخ قصد کول چې بيا به دا ګناه هيڅکله نه ترسره کوي. او که چيرې له دې شرطونو څخه يو شرط هم پاتې شي، توبه يې نه صحيح کيږي.

او که چېرې ګناه داسې وي، چې له حقوق العباد سره تعلق ولري، نو څلور شرطونه لري، درې شرطونه هغه دي، چې مخکې ذکر شول، او څلورم شرط دا دی، چې له هغه تن څخه به د حق ښښلو غوښتنه وکړي، که مال ؤ، بېرته به يې وروسپاري، که چېرې د قذف حد ؤ، نو ده ته دې د جاري کولو قدرت ورکړي او يا دې عفوه ترې وغواړي، او که غيبت ؤ، نو ښښنه دې ترې وغواړي. (۴)

---

۱ صحيح مسلم (۴/ ۲۰۷۵) رقم الحديث ۴۲ (۲۷۰۲) كتاب الذِّكْرِ وَالدُّعَاءِ وَالتَّوْبَةِ وَالِاسْتِغْفَارِ بَابُ اسْتِحْبَابِ الِاسْتِغْفَارِ وَالِاسْتِكْثَارِ مِنْهُ.

۲ صحيح مسلم (۴/ ۲۱۱۳) رقم الحديث ۳۱ (۲۷۵۹) كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ قَبُولِ التَّوْبَةِ مِنَ الذُّنُوبِ وَإِنْ تَكَرَّرَتِ الذُّنُوبُ وَالتَّوْبَةُ.

۳ قال العلماء: التوبة واجبة من كل ذنب...وقد تظاهرت دلائل الكتاب والسنة واجماع الأمة على وجوب التوبة. رياض الصالحين، باب التوبة، (ص: ۱۳، ۱۴)، ط: مكتبة الحرم، محله جنګي – پيښور.

۴ - قال العلماء: التوبة واجبة من كل ذنب, فإن كانت المعصية بين العبد وبين الله تعالى لا تتعلق بحق آدمي, فلها ثلاثة شروط: أحدها: أن يقلع عن المعصية. والثاني: أن يندم على فعلها. والثالث: أن يعزم أن لا يعود إليها أبدا. فإن فقد أحد الثلاثة لم تصح توبته. وإن كانت المعصية تتعلق بآدمي فشروطها أربعة: هذه الثلاثة, وأن يبرأ من حق صاحبها, فإن كانت مالا أو نحوه رده إليه, وإن كانت حد قذف ونحوه مكنه منه أو طلب عفوه, وإن كانت غيبة استحله منها. رياض الصالحين، باب التوبة، (ص: ۱۳)، ط: مكتبه الحرم، محله جنګي – پيښور.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**